دانش خپرندویه ټولنه

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group



# زرینې لارې

## ټولې لارې په سرو زرو پوښلې دي

لیکوال: کیم وو چونګ
ژباړه: میر احمد یاد

www.bawarketabton

# د خپرندويې ټولنې يادښت

زموږ د اوسني نظام يوه نيمګړتيا دا ده چې ځوانان يې نه وپالل او نه يې وروزل، زموږ ځوانان چې را زلمکي شي د ژوند په داسې پړاو ودرېږي چې يوازې د مشرانو تجربې ورته لار ښودلای شي، يعنې دې وخت کې ځوانان لارښوونې ته اړ وي. له بده مرغه دلته د لارښوونې تشه پيدا شي، ځوانان په خپل سر شي او داسې لارو ته مخه کړي چې بيا يې ترې را ستنول ګران کار وي.

دغه کتاب کوريايي ځوانانو ته ليکل شوی، خو د نړۍ نورو ځوانانو ته هم ډېرې خبرې لري، ښه ځانګړنه يې دا ده چې د کتاب ژبه ډېره مثبته ده، ځوانانو ته درناوی پکې شوی او هڅه شوې چې حوصله ورکړي.

دغه کتاب د يوه انسان د ژوند د لوړو ژورو انځورګري ده او ان په ډېرو وړو وړو مسايلو هم د لوستونکي د سر خلاصېدو هڅه پکې شوې ده.

په کتاب کې د ژوند، نوښت، بري، کاروبار، حوصلې، رښتينولۍ، زغم، هدفونو ته د لاسري، مبارزې، اقتصادي برلاسي او ګڼو نورو مسايلو په اړه ډېرې په زړه پورې سپارښتنې راغلې دي.

کتاب د ډايوو کمپنۍ پخواني بنسټ ايښودونکي او مشر کېم - وو - چونګ ليکلی دی. کېم وو چونګ له ماشومتوبه خواريکښ او هڅاند انسان و او د ډېوالي شويو کمپنيو په پښو درولو کې يې په «جادوګر» شهرت درلود.

ددې کتاب له خپرېدن وروسته د آسيا د اقتصادي بحران له کبله ډايوو

کمپنۍ چې هغه مهال له سامسونګ او ایل جي هم وړاندې وه؛ له ستونزو سره مخ او په ډېرو برخو کې يې تاوانونه وکړل. له دې وروسته ډايوو کمپنۍ کابو شل میلیارده ډالره پوروړې او په بشپړ ډول ډېوالي شوه.

وروسته هغه کیم چې ځان يې د نړۍ له تر ټولو تکړه، زیارکښو، لرلیدلرونکیو او نوښتګرو مدیرانو ګڼلی و؛ فرانسې ته وتښتېد او هلته څو کاله پټ شو. په ۲۰۰۵ز کې بېرته کوریا ته راغی، محکمې په لس کاله بند محکوم او د ۲۲ میلیارده ډالرو په ارزښت شتمني يې مصادره شوه. هغه په لس میلیونه ډالره جریمه هم محکوم شو؛ خو په ۲۰۰۷ز کال کې د واکمن ولسمشر د دولتي فرمان له مخې معاف او له زندانه را ووېستل شو.

د کتاب اصلي درس دا دی چې ژوند تل له لوړو ژورو سره مل دی. مهمه دا ده چې انسان د مبارزې او زیار توان او لېوالتیا له لاسه ورنکړي او تل د لوړو اهدافو لپاره ځان وړاندې کړي.

دانش خپرندویه ټولنه وياړي، چې د هېواد د ځوانانو لپاره د ارزښتناکو آثارو چاپ او خپرولو ته يې کار کړی او دا کار يې لا روان دی.

د میر احمد یاد ملګري په ګوتو دې برکت شي، چې د هېواد و ولس غم پخپلو ارزښتناکو او اغېزناکو ژباړو را کموي او ولس و هېواد ته خدمت کوي.

د یاد ملګري دې کور ودان او غله دې تل ډېره وي.

درنښت مو غواړو

دانش خپرندویه ټولنه

# نیولیک

سریزه ........................................................................ ٩
لومړی څپرکی ........................................................... ١٣
٩ تر ٥ – ٥ تر ٩ ............................................................ ١٣
تاریخ د هغوی دی چې موخې او ارمانونه لري ..................... ١٤
تاسې د ژوند فلسفې ته اړتیا لرئ ........................................ ١٩
خوشبیني که بدبیني؟ ........................................................ ١٩
پرېکړه کول ..................................................................... ٢٦
تر ستونزې حلولو لوی ګام ................................................ ٣٢
جادوګر ........................................................................... ٣٨
د نوښت او پنځونې ارزښت ................................................ ٤٤
زه چې چانه اغېزمن شوی یم ............................................ ٥١
٩ تر ٥ – ٥ تر ٩ ............................................................ ٥٧
زه یوازې یوه ښځه یم ...................................................... ٦٣
د مرغانو پنجره ................................................................ ٧٠
د ننداریې صحنه ختیځ ته ورګرځي ..................................... ٧٦
د روغتیا راز ..................................................................... ٨٢
کار د تفریح په توګه ........................................................ ٨٨
دویم څپرکی .................................................................... ٩٣
د غنو د نړۍ سبق ............................................................ ٩٣

د غښو د ښځې سبق ........................................ ۹۴
ذهني څرکونه ........................................ ۱۰۰
هڅه وکړئ چې ښه شئ ........................................ ۱۰۴
ښځې ستاسې ده ........................................ ۱۰۸
بنسټيزو علومو ته کتنه ........................................ ۱۱۲
پيسې خپله هېڅ شی نه دي ........................................ ۱۱۶
سيالي ........................................ ۱۲۰
د رهبرۍ مقام ........................................ ۱۲۴
موږ ټول کورياپان يو ........................................ ۱۲۹
ستاسې تر ټولو لوی استاد ........................................ ۱۳۴
مرسته کوو ........................................ ۱۳۸
پيسې گټل او لگول ........................................ ۱۴۲
مثل سره سيالي ........................................ ۱۴۷
دريېم څپرکی ........................................ ۱۵۳
مخ ته مو لويه ښځې پرته ده ........................................ ۱۵۳
مخ ته مو لويه ښځې پرته ده ........................................ ۱۵۴
نيمکرغي ........................................ ۱۵۸
شهرت او عزت ........................................ ۱۶۲
د جايزو طبيعي اغېز ........................................ ۱۶۶
هر شی په خپل ځای ښه دی ........................................ ۱۶۸
د کار کولو معنوي خوند پر وړاندې مادي گټه ........................................ ۱۷۲
نوښتگر اقليت ........................................ ۱۷۶
د آرامتيا زيان ........................................ ۱۸۰

Scanned by CamScanner

بزگران او مزدوران ........................................ ۱۸٤
ویده نبوغ به څوک را ویښوي ........................................ ۱۸۸
نوي شتمن، لانجمن دي ........................................ ۱۹۲
له دننه را وخوټېږئ ........................................ ۱۹۸
وروستۍ خبره ........................................ ۲۰۲
خپلې پټې وړتیاوې را برسېره کړئ ........................................ ۲۰۲
موخې او فکرونه ........................................ ۲۰۲
نوی فکر وکړئ ........................................ ۲۰۳
مبارزه ........................................ ۲۰۳
قرباني ........................................ ۲۰٤
ملگري اوسئ ........................................ ۲۰۵
ځان سره رښتیني اوسئ ........................................ ۲۰۵
متواضع اوسئ ........................................ ۲۰٦

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

Scanned by CamScanner

# سریزه

ځوانانو سره خبرې خوند راکوي، ځکه تل یې اخلاص او رښتینو نظریاتو ته احترام قایل وم او هڅه مې دا ده چې دغه ځوانان مې له تجربو ګټه واخلي.

وخت تېر شو، خو ځواني مې رایادېږي، زه چې ځوان وم، د مشرانو تجربو ته به مې ډېر ارزښت ورکاوه او له ښه مرغه هر وخت به مې د دوی پخې خبرې اورېدې، د دوی نصحیتونه به مې زړه ته اچول او په دې توګه به مې په خپلو کارونو کې له ډېرو ازمېښتونو او تېروتنو ځان ژغوره.

نن سبا ځوانان له اوسنیو اړیکو او قوانینو سره ډېره مینه لري او د دوی وړتیاوې او استعدادونه د اړتیا وړ وده نه کوي. داسې ښکاري لکه د مادي فکر زیاتوالي چې ټولنیزې پوهې او د کورني چاپېریال اخلاقو ته زیان ور اړولی وي، ځکه فردي خلاقیتونه تر دې لوړ نه روزل کېږي.

په نننۍ کوریا کې دغه واقعیتونه لیدل کېږي خو زیاتره نورې ټولنې هم له ورته حالت سره مخ دي.

زه دې ته خفه یم چې ځوانان مو ولې له مشرانو او تجربه لرونکو خلکو ځان لیرې ساتي، تر دې بده یې دا، چې زموږ ځینې مشران د تجربو ډېره ښه علمي پانګه لري، خو نورو ته په رسولو کې یې ستونزهویني.

که څه هم نړۍ له ایډیالوژیکو کتابونو ډکه ده او دغه کتابونه انساني تمدن جوړوي، خو له بده مرغه د خلکو شخصي تجربې دغو ځوانانو

Scanned by CamScanner

ته نه دي رسېدلي، په داسې حال کې چې همدا شخصي تجربې ددې افکارو او ايډيالوژيو د بنسټ ډېره برخه ده.
له ډېره وخته مې هيله لرله، چې د ژوند له سينده ترلاسه کړي شيان له خپلو شخصي تجربو سره يو ځای او په منظم شکل د خپل هيواد ځوانانو ته وړاندې کړم، خو تل به مې وخت له لاسه وت، تر دې چې د ۱۹۸۹ز کال په پسرلي کې مې په استثنايي فرصت کې دغه ټولې مقالې د کاغذ پر مخ وکښلې. دې وخت کې زه له لويو ستونزو سره مخ وم، د (ډايوو) بېړۍ جوړونې کارکوونکي د اعتصاب او نارامۍ په حالت کې وو، که څه هم ورځ د سترګو په رپ کې وته، خو د شپې به چې کور ته راغلم؛ نو د ليکلو وخت به مې پيدا کاوه.
که څه هم دا وخت مې ژوند ډېر لنډ تنګ و، خو ماته يې داسې يو زرين فرصت راکړ، چې ښايي وروسته يې هېڅکله نه وی راکړی، په اکپو[1] سيمه کې د شپې وروستی پار ډېر سوړ وي، ما په همدې وخت کې دا فرصت ترلاسه کړ، چې د نړۍ راتلونکو وارثينو ته خپل افکار په ليکلې بڼه پرېږدم.
دا ليکل ټول زما د شخصي او سوداګريزو تجربو او د ژوند په ټولګې کې د راکړل شوي سبق حاصل دی. که څه هم کتاب کې مې زياتره خبرې د کوريا ځوانانو ته دي، خو داسې ډېرې خبرې هم شته چې ښايي د ټولې نړۍ ځوانانو ته خطاب وي، ځکه د نړۍ د ټولو ملتونو ځوانان تقريباً ورته اړتياوې، هيلې او غبرګونونه لري. په دې لړ کې کلتوري اختلافات، ملي پرمختګونه او جغرافيايي موقعيتونه پر موضوع چندان اغېز نه لري. دوی داسې لارښوونو، تجربو او وړتياوو ته اړتيا

[1] اکپو - دا په سويلي کوريا کې يو بندر دی، د (ديوو) کښتۍ جوړونې شرکت په همدې ځای کې و.

Scanned by CamScanner

لري چې له ناپېژاندو سره پرې مبارزه وکړي او د ښې نړۍ په لټه کې شي. همدارنګه دوی د روښانه راتلونکي هيله لري او تر دې مهمه دا چې د ټولنيز ليډلورې ودې او د ښېګڼې درک ته اړتيا لري چې پرمټ يې ځان کې د مسئوليت احساس را پيدا کړي، د ښې نړۍ او روښانه راتلونکي د جوړولو احساس.

ټوله هيله مې دا ده چې دا مسايل لوستونکو ته ښه ورسوم، دا د ځوانانو مسئوليت دی چې سبا ته چمتو وي او د نړۍ سبا پر دې ولاړه ده چې نننۍ ځوانان څه ډول فکر کوي.

موږ په ژوند کې زياتره وخت لارښوونې لپاره له ساده او اسانو خبرو او کلمو کار اخلو، خو دې عاميانه خبرو او کليمو ته هيڅ ارزښت نه ورکوو چې د افرادو او نسلونو د لارښوونې لپاره کارول کېږي.

زما خبرې هم ښايي ځوانانو ته ساده او زړې ښکاره شي، زه په دې هيله يم چې زما دا تجربې او خبرې په نږدې راتلونکي کې ځوانانو ته د کار ترلاسه کولو او ژوند په اسانولو کې ورپادې شي.

وياړم چې د خپلو تجربو لومړۍ ټولګه د راتلونکې نړۍ وارثو ځانانو ته وړاندې کوم، هيله لرم چې خپلې ودې ته په پوره اخلاص او داډ دوام ورکړي، که داسې يې وکړل، تل لپاره به مې زړه کې ډېره شي.

**کيم - وو - چونګ**

Scanned by CamScanner

# لومړی څپرکی

## ۹ تر ۵ – ۵ تر ۹

Scanned by CamScanner

# [١]

## تاريخ د هغوی دی چې موخې او ارمانونه لري

کوريا کې مې د ښوونځي پرمهال ژوند ډېر ساده او غريبانه و، خو يوازې موږ په دې حال نه وو، زموږ شاخوا نږدې ټول خلک په همدې حال وو. دېرش کاله مخکې ټولې کوريا کې سړي سرعايد ۵۰ ډالره و، خو اوس نږدې زر ډالرو ته رسېدلی، تاسې له دې حالته زموږ هغه ژوند معلومولای شئ، البته نن هم پکې بيوزله خلک موندل کېږي.

موږ د سئول ښار په (چنګ چانګ دونګ) سيمه کې اوسېدو، له دې ځايه زموږ (يان سي) پوهنتون ته تقريباً ۱۰ کيلومتره يا دوه ساعته پلې لار وه، جېب کې مې يو غيران نه و، خو زړه مې له هيلو ډک و، نيمه شپه به له کتابتونه راووتم، په اوږدو لارو به پلی روان وم، اسمان ته به مې ليدل او فکرونه به مې کول، هغه فکرونه مې اوس هم نه هېرېږي. فکر به مې کاوه چې نړۍ زما ده، ټوله په خپلو لاسو کې رانغاړلی شم، هېڅ شی راته ناشونی نه ښکارېده. موږ غريب وو، خو احساس مې زه په حرکت راوستم.

په ځوانۍ کې تر ټولو مهم څيزونه هيلې او ارمانونه دي.

هغوی چې هيلې او موخې لري، غربت نه پېژني، ځکه هر سړی د خپلو هيلو او ارمانونو هومره شتمن دی، ځواني داسې موده ده چې، که انسان پکې نور هېڅ ونه لري او يوازې هيلې او موخې ولري، هېڅ اندېښنه دې نه کوي. تاريخ د هغو دی چې ژوند کې موخه لری. هيلې، موخې، ارمانونو، خوبونه ... داسې قوتونه دي چې نړی پرې بدلولای شو، کوم خلک، ټولنې او ملتونه چې موخې لري، بلاخره ورته رسيدای شي. که يو هيواد خپلو موخو ته د رسېدو لپاره خپل ټول خلک سره راټول کړي، د نړۍ اتلولي به وګټي. زه ډاډه يم، نن چې څوک دا نړۍ رهبري کوي او برخليک يې ټاکي، دا ټول هغه پروني ځوانان وو چې ژوند کې يې موخې لرلې.

که نن کوم ملت د خپلو ځوانانو په ذهنونو کې هيلې او ارمانونه ونه کري، سبا د نړۍ برخليک ټاکلی شي؟ امريکا په دوه سوه کلن تاريخ نن لګيا ده، د نړۍ تاريخ جوړوي، دوی دا ټول کارونه د هغو پرونيو خلکو په برکت کوي چې هيلې، زړورتيا او ځيرکتيا يې لرله، دا نننی پرمختګ د پرونيو برکت دی.

نن ګورو چې اوسني ځوانان د راتلونکې جوړولو لپاره د پرونيو خلکو هيلې نه لري، که يې لري هم زياتره يې په قاطعت ولاړې دي. که دا خبره رښتيا وي، خلکو او ټولنې ته به تر دې لويه غميزه نه وي.

د هيلې خلک جوړوي او شخصيت يې کنټرولوي، هيله د کښتۍ د اشترنګ په څېر، د حرکت لوری په ګوته کوي، د بېړۍ يا کښتۍ اشترنګ که څه هم د دوی په نسبت ډېر کوچنی وي، خو د يوې سترې بېړۍ د حرکت لوری يې په لاس کې وي؛ نو بې هيلې او موخو ژوند بې اشترنګه کښتۍ ته ورته دی. له بې موخې انسان به هم د ژوند لوری

Scanned by CamScanner

ورک شي او په داسې څپو کې به راګیر شي چې اخري انجام به يې ډوبېدل وي.
التبه که څوک ناسمې هیلې او موخې لري، په ده او نهیلی انسان کې هېڅ توپیر نشته، ځکه د دواړو خطر مساوي دی. که د چا هیلې او موخې یوازې دده له شخصي ژوند او اسانتیاوو پراخې نه شي، عیناً د نهیلي او بې موخې انسان په څېر دی. دا انسان د ځوانی په ارزښت نه پوهېږي. که تاسې هیلې او موخې لرئ، هیله لرم چې لرئ به یې؛ نو په ټول قوت يې وپالئ، ځکه ستاسې همدا هیلې او موخې مو د ژوند لوری ټاکي.
زما خوبونه ورو ورو رښتیا شول او نږدې لس کاله وروسته په کوریا کې د یوې سترې ودانۍ خاوند شوم، دا ودانۍ (د ډایوو شرکت مرکزي دفتر) نومېږي. که څه هم هغه وخت مې ددې ودانۍ په جوړولو ښه احساس نه لاره او ما ویل چې په پیسو يې ماشینونه او وسایل وپېرم، چې چټک اقتصادي پرمختګ وکړم، بل مې د خلکو اندېښنه هم لرله، چې وایي به پیسو ټولولو ته يې ملا وتړله.
په هر حال، فکر مې بدل کړ او نوې موخه مې وټاکله، هیله مې دا وه چې **ډایوو** شرکت هر اړخیزه پراختیا ومومي او دغه ودانۍ يې له کارکوونکو او مامورینو ډکه شي. که څه هم هغه وخت دا هیله ډېره رښتیني نه ښکارېده، خو په پنځو راتلونکو کلونو کې پوره شوه. نن د **ډایوو** شرکت پرسونل سل زرو کسانو ته رسیدلی او هغسې درې ودانۍ راته ډکولای شي.
اوس مې بله هیله دا ده چې په خپل پاتې ژوند کې نړۍ ته تر ټولو ښه او مشهور توکي تولید او وړاندې کړم. تراوسه می ځینی نړیوال ریکارډونه

خپل کړي، مثلاً په اکپوه ښار کې د کښتۍ جوړونې تر ټولو ستره فابريکه او په پوسان ښار کې د پيزارو (بوټونو) تر ټولو ستره فابريکه او نړۍ کې تر ټولو ډېر پيزار پلورل. خو يو څه لاس شته چې نه مو دي ترلاسه کړي او هغه په نړۍ کې تر ټولو مشهور توکي توليدول دي.
مهمه نه ده چې زموږ توليد دې څه ډول وي، خو دغه هيله مې لکه ډکه خزانه په زړه کې ساتلې ده. زموږ توليد که هر څه وي، خو هيله مې دا ده چې په نړۍ کې تر ټولو ښه او مشهور توکي وي. بس چې داسې يو شی وي لکه (پارکر) قلم او (نيکون) کامره چې خلک وايي دغه شی (کيم وو جونګ) توليد کړی او په نړۍ کې تر ټولو غوره شی دی، همدا مې بس دی. زما دا هيله ښايي په نږدې راتلونکي کې او دومره په اسانه پوره نه شي، ښايي هله پوره شي چې ما به د **ډايوو** لويه ټولګه خپل ځای ناستي ته سپارلې وي.
زما بله هيله دا ده چې د خلکو ذهنونو کې د يوه قدرمن بنسټګر په توګه پاتې شم. زه نه غواړم هغه څوک شم چې په خپل ژوند کې مې ډېرې پيسې ګټلې دي او په همدې ټکي مشهور شم.
په سُنتي کوريايي ټولنه کې سوداګر ته په درنه سترګه نه ليدل کېده، خلکو به ويل چې دوی د نورو مالونو ته سترګې نيولې او ترې تروړې يې، له دې امله يې په سپکه ورته کتل او ځان يې ترې لېرې ساته. دا کار يې ښايي ډېر لاملونه ولري چې مهم به يې د خلکو په ذهن کې ژور کنفسيوسي فکر وي، کنفسيوسي فکر ټولنه په څلورو طبقو روحانين، بزګرو، جنګيالو او کسبګرو وېشله، سوداګر تر ټولو ټيټه طبقه کې راځي، بل لامل يې ښايي د ځينو سوداګرو همدا فکر وي چې يوازې د شتمنۍ ګټلو په اړه يې درلود، خو زه اوس هم نه پوهېږم چې

Scanned by CamScanner

يو سوداګر د پوهنتون د استاد يا هنرمند غوندې درناوی ولې نه شي ترلاسه کولای.

زه غواړم د خلکو په ياد کې د خپل مسلک د تکړه متخصص په توګه پاتې شم، وروستی هيله مې هغه لور ته د نړۍ رهبري کول دي چې صنعتګرو او سوداګرو ته پکې درناوی وشي.

بې موخې ځوان هېڅ ځوان نه دی، ځوانانو ته هيلې ډېرې مهمې دي، تاريخ د هغو خلکو دی چې ژوند کې يې لويې هيلې او موخې لرلې.

Scanned by CamScanner

# [۲]

## تاسې د ژوند فلسفې ته اړتیا لرئ

### خوشبیني که بدبیني؟

په نړۍ کې تر ټولو ستر خطر دا دی چې د خوشبینۍ د ښکلي صفت پرځای ددې متضاد صفت بدبیني وټاکو. که په نسبي توګه خبرې کوو؛ نو باید ووایم چې زه یو خوشبین انسان یم. ما په خپل ټول ژوند کې له خوشبینۍ لاس نه دی اخیستی، البته بې له هغو حالتونو چې ځینې پېښې راسره شوې دي.

یو ځل په یوه سفر کې الوتکه بېړنۍ ناستې ته اړ شوه او بل ځل په یوه بل سفر کې بیا الوتکه له میدانه الوته چې اور یې واخیست، خو په دې دواړو پېښو کې مې د مرګ خبره ذهن ته نه ده راغلې، فکر کوم همدا به مې د خوشبینۍ معیار په ګوته کوي. حالاتو ته چې ګورم، فکر کوم بحراني حالات او خطرناکې شېبې ډېرې زر تېرېږي، له دې ښکاري چې زه له موره خوشبین زېږېدلی یم.

فکر کوم سوداګري یوه وژونکې جګړه ده، هر څومره چې سوداګریزې چارې پراخه وي، همدومره د جګړې میدان پراخه دی او لویه بیه یې

باید پرې شي. که په دې چاره کې سوداګر نهیلی او بدبینه شي؛ نو فکر وکړه چې د څوړ شپبه یې رارسېدلې ده.

زه له نورو سوداګرو سره یو توپیر لرم، که کوم شرکت یا فابریکه بریا ونه مومي او له ماتې سره مخ وي، زه دا وړتیا لرم چې واګي یې په لاس کې واخلم او حالات قابو کړم، په دې توګه زه د لوري د بدلون متخصص شوی یم. دې کې ډېر داسې شرکتونه شته چې بانکونو، دولت او خاوندانو یې ترې لاس اخیستی، خو ما په لږ وخت کې له هغه شرکته بېرته یوه ګټوره اداره جوړه کړې ده. دې موضوع ته زیاتره وخت د نړیوالو رسنیو پام شوی او له ما یې چې پوښتنه کړې؛ نو ورته مې ویلي: نور خلک چې د ناشونو معکوس شمېر پیلوي زه په همدې وخت کې د شونتیاوو (امکاناتو) سم شمېر پیلوم.

په ډایوو شرکت کې چې زه نوی اقتصادي ګام اخلم یا له بل هیواد سره سوداګریزه اړیکه رامنځته کوم، ځینې مسئولین سخت اندېښمنېږي. پخوا مې په کمونیستي چین کې د یخچال جوړولو یوه پروژه اخیستې وه او همکاران مې ددې کار سخت مخالف وو، له شرکته بهر مې د ملګرو مخالفت او مقاومت لاپسې قوي وو او د کوریا دولت او بانکونه هم دې چارې اندېښمن کړي وو.

سیالو شرکتونو مې فکر کاوه چې پروژه ناکامېږي، حتی جاپاني شرکتونو هڅه کوله چې د سیالو کوریایي شرکتونو پرمټ ددې پانګونې مخه ونیسي. دوی اوازې خپرې کړې چې چین کې ګني مانه پوښتنې ګروېږنې شوې دي. که څه هم کوریایي دولت ددې پانګونې او اوازو مخالفت کاوه، خو ما میدان پرې نه ښود، ځکه زما حسابونو هغوی سره توپیر درلود. زه د ممکناتو (شونتیاوو) په لټه وم او د همدې عملي کولو

هڅه مې کوله. زه د چينايانو د ژوند شرايطو ارزولو، هلته د يخچالونو د صنعت، پانگونې، ماشينونو او نورو ستونزو د حل لارو په فکر کې وم.
مهارت او د پوهې مديريت هر نوي اقتصادي فعاليت ته اړين دی. دوه زره (زړه نا زاړه) خلک د صنعت او سوداګرۍ ورتيا نه لري. که يو سلنه چانس وي، په اصلي معنا سوداګر همدا هم د خپلې راتلونکې بريا لپاره يو فرصت ګڼي. د سوداګرۍ په نړۍ کې تل دوه او دوه څلور نه وي، ښايي څلور لس شي او لس تر پنځوسو ورسېږي.
په سوډان کې مو نږدې لس کاله مخکې د ټايرونو جوړولو يوه فابريکه پرانيسته، دا په نړيواله کچه د کوريايي شرکت لومړنۍ فابريکه وه، ډېر خلک په بېلابېلو لاملونو دې چارې ته انديښمن وو، ځکه (ډايوو) شرکت تر دې دمه د ټايرونو جوړولو په برخه کې تجربه نه لرله او دا کار يوازې د امکاناتو (شونتياوو) په شمېر ترسره کېده.
سوډان کې د ټايرونو تقاضا ته په ليدو هلته يوه فابريکه هم نه وه، له بهره د ټايرونو صدور ګران تمامېده؛ نو زه دې پايلې ته ورسېدم چې دا خلک به زموږ پروژې ته ښه راغلاست ووايي. د سوډان ۸۰ سلنه ځمکه وچه دښته ده او ښارونه له يو بله ليرې پراته دي؛ نو د موټرو تقاضا پکې زياتېږي، ددې ترڅنګ يوې باوري سرچينې خبر کړم چې د سوډان په سهيل کې د نفتو يا تيلو يوه زېرمه هم په نښه شوې ده.
دې زېرمې اقتصادي پراختيا راوړله او دې سره د لېږد رالېږد وسايلو ته هم اړتيا ډېرېده، له دې زياتوالي سره هر موټر نږدې پنځو ټايرونو ته اړتيا پيدا کوله او په دې وچو دښتو کې د ښارونو او يخو سيمو په پرتله د ټايرونو استهلاک هم ډېر و.

Scanned by CamScanner

ما د مصرف بازار په دې ډول ارزولی و او محاسبه مې کړې وه، چې له ښه مرغه همدغه زما سنجولې پایلې ترلاسه شوې، اوس دا فابریکه تر هر ځایه ډېره ښه روانه ده او ان څو ځله یې پراختیا ته اړ شو. د ټایرونو غوښتنه یا تقاضا دومره ډېره ده چې خلک یې تر تولید ډېر پېري.

د کوریا راتلونکي ته ډېر خوشبینه یم، فکر کوم دا هیواد به ستر ګامونه واخلي او زموږ راتلونکی نسل به له تېر هغه ډېر ښه وي.

زما د وخت نسل ډېر ټیټ او ډنګر و، ځکه موږ په کافي اندازه خواړه نه لرل او سبق ته به په ځمکه کېناستو، فکر کوم همدا مو د وروسته پاتې والي لاملونه وو.

د خلکو منځنی قد ۱۶۰ سانتي متره و او ۱۸۰ سانتي لوړ کس به پکې تر ټولو لوړ دنګ انسان ګڼل کېده، نن د کوریا ځوانان زموږ له وخته نږدې ۱۰ سانتي متره لوړ دي او ښه هڅور بدنونه لري. څو کاله مخکې یونیفورم ختم شو او هر زده کوونکي ته د خپلې خوښې کالیو اغوستو اجازه ورکړل شوه، په دې وخت کې به مو د ونې یا قد له پلوه محصل په سخته تر یوه مشر سړي جلا کولای شو.

نني ځوانان ښه خواړه خوري، ښه لباس اغوندي او روغ رمټ دي، ځکه نو ملت هم راتلونکي ته له همدې ځوانانو تمه لري، له دې امله زه بېلابېل امکانات وینم او همدا راته انرژي راکوي.

که غواړو چې امکانات په واقعیتونو واړوو؛ نو ددې لپاره تر ټولو اساسي شی قرباني ده. ستاسې ظاهر او باطن باید یو ډول وي، موخې مو باید د قد یا ونې هومره لوړې او صبر او زغم مو باید د ټول بدن هومره پراخه وي. که غواړئ چې ظاهر او باطن مو ښکلی او سره ورته وي؛ نو د ژوند فلسفه باید ولرئ. زیاتره خلک چې د فلسفې کلیمه واوري فکر کوي دا

Scanned by CamScanner

ډېر سخت، پېچلی او له ګوتو لیرې شی دی. دا مهمه نه ده چې تاسې څه کوئ، یوازې ځان د ژوند لوري ته برابر کړئ او د ټولنیزې ګټې لپاره پرې روان شئ، همدا بس دی.

مثلاً د ارزښتونو په اړه باید روڼ او رښتینی احساس ولرئ، د پیسو ګټلو او لګولو لپاره ټاکلی معیار (سټنډرډ) وټاکئ او هیواد سره مینه وکړئ، که دا خبرې ومنئ ډاډه یم چې ښه راتلونکی به ولرئ.

ځواني همدا هیلې او ارمانونه دي. ځواني د امکاناتو عملي کېدو پړاو دی، خو تر دې مخکې چې د امکاناتو تر اغیز لاندې راشئ، د ژوند تګلورې لپاره مو یو فلسفي لید اړین او مهم دی.

زه خوشبین یم خو دا منم چې د کوریا ځینو ښوونیزو او روزنیزو چارو ته اندېښنه لرم، که څه هم د کوریا تعلیمي سیستم زده کوونکو ته د علم د لېږد وړتیا لري، خو فکر کوم چې د ځوانانو د شخصیت د ودې په لاره کې ځینې ستونزې او خنډونه شته. که څه هم دا موضوع ډېر نور لاملونه لري خو زه ډاډه یم چې تر ټولو ستر خنډ پکې د پوهنتونونو د کانکور ازموینه ده. بله ستونزه دا ده چې مور او پلار خپلو بچو ته ډېر پام نه کوي او پوخ نسل دومره ټولنیز او عمومي معلومات نه لري چې ځوان نسل ته یې ولېږدوي.

زه ښوونکی یا روزونکی نه یم، زه یوازې یو اجرائیوي رئیس یم چې ځوانان خپله اداره کې د کار لپاره ګومارم. که په سوداګریزه ژبه یې ووایو؛ نو کورنیو او ښوونیزو ادارو ټولنې ته ځینې ځوانان وړاندې کړي او زه هغه څوک یم چې له دې ځوانانو کار اخلم. د یوه کارفرما په توګه مې ذهن له ډېرو اندېښنو ډک دی.

يو مې دا ډېر ځوروي چې زموږ خلکو کې يوازې د اسانو گټو او لاس ته راوړنو فکر زيات شوی دی، ښايي همدا لامل وي چې خلک مو په ډېرو وړو لاس ته راوړنو قناعت کوي او ټول عمر په لږو او لنډو اسانتياوو پسې گرځي. دوی په ځان کې د لټون، ځيرکتيا او مبارزې ځانگړنې نه روزي، گني په همدې اوږدمهالي گټې او اسانتياوې ترلاسه کولای شي، خو دا خلک يوازې په هغه کارونو ځان قانع کوي چې لږې او لنډې گټې لري.

ددې اپوټه نن په ډايوو شرکت کې د کارکوونکو گومارلو اصلي انگيزه کاري خونديتوب دی.

ځيني شرکتونه خلکو کې کاري ليوالتيا پيدا کوي، دا تر هغو امتيازاتو ډېر ښه دی چې نور خلک يې وړاندې کوي. له څو وروستيو کلونو راهيسې په کوريايي کارکوونکو کې د ونډو پلور زيات شوی دی؛ نو دويم ډول شرکتونه د کارکوونکو د گومارلو لپاره په خپلو کې سيالي کوي او هر يو يې لا ډېر امتيازات وړاندې کوي، خو دغه چاره به د لنډ وخت لپاره وي.

څو کاله مخکې په منځنۍ اسيا کې رغنيز (ساختماني) کارونه ډېر شوي وو او ډېرو شرکتونو همدې ډگر ته مخه کړې وه. همدا کار د موټر جوړولو صنعت سره وشو، خو موږ پوهېږو چې اقتصادي شرايط په پرلپسې توگه بدلېږي. پخواني ستر صنعتونه نن له ځوږ سره مخ دي او نني ستر صنعتونه ښايي په راتلونکي کې دومره په زړه پورې نه وي.

اوس په بهرنيو هيوادونو کې ساختماني چارې خوځېدلې دي، خو کومو شرکتونو چې پخوا لنډه منډه کړې وه ، سر په زنگانه ناست دي.

Scanned by CamScanner

نو له دې ښکارې چې د یوه کار یا دندې ټاکلو لپاره لنډمهالي امتیازات ښه دلیل نه دی. دا داسې ده لکه سړی چې د خپل ټول ژوند لپاره همدا اوس شرطونه ږدي، خو څېرک انسان لومړی دا پرېکړه کوي چې ژوند کې څه غواړي؟ بیا د همدې تشخیص پر بنسټ ځانته کار او دنده ټاکي.

بل مې دا ځوروي چې په زیاتره خلکو کې کبر او ځانځاني پیدا شوې ده. که ټول خلک یوازې ځان وغواړي ټولنه به له ستونزو سره مخ وي. د تمې او حرص پر بنسټ جګړه به مو د ژوند خوښي او ارامي رانه وتروړي. دا احساس له انسانه لار ورکوي او ټولنه ان تر جنګ، جګړې او وینې تویونې رسوي، ځکه دا د تاریخ سبق دی.

څو کاله مخکې رانه ځینو ښوونکو او روزونکو وغوښتل چې وینا ورته وکړم، خو ما ورته هماغه پخوانۍ خبرې تکرار کړې، نن غواړم دا خبرې د ټولې کوریا ښوونکو ته وکړم. لږ کلونه مخکې موږ ډېر سخت کار کاوه، د سهار له شپږو به تر نیمو شپو لګیا وو، موږ به لیونی کار کاوه او نننی ارام ژوند مو د هماغه زیار پایله ده. دا ښکاره ده چې موږ خپلو شخصي ګټو لپاره کار نه کاوه، موږ یوې اساسي موخې ته د رسېدو لپاره دا سختې زغملې. موږ دا هڅې د وطن دوستۍ د احساس له مخې کولې او ددې وطن پرمختګ او ارامي مو ارمان وه. که یوازې د ځان لپاره مو کار کولای، حتماً به سترې کیدای او هیواد به مو نن داسې نه وی چې دی. زه دا منم چې موږ خپلې ستونزې او نیمګړتیاوې لرو خو د ژوند فلسفه مو زده کړې او دغه فلسفه مو له خپلو مشرانو او لارښوونکو اخیستې.

Scanned by CamScanner

# [۳]

## پرېکړه کول

بلجيم په (بنولوکس[۲]) هيوادونو کې تر ټولو کوچنی دی، خو دې سره هم دا هيواد ټولو اروپايي هيوادونو ته د پرمختللي اقتصادي سيستم لرونکې الګو ده. د ناټو او اروپايي اقتصادی ټولنو مرکزونه د همدې هيواد پلازمينه برسلس (بروکسل) کې دي. ددې هيواد په لويديځو سواحلو کې د آنتورپ بندر دی، دا د بلجيم دويم ستر ښار دی او د ټولې اروپا مهم سوداګريز مرکز ګڼل کېږي.

انتورپ ښار ښکلي ځايونه لري، ملي ژوبڼ او سمندري موزيم چې ددې ښار په يوه ښکلې او لرغونې ودانۍ کې جوړ شوی دی، پر دې سربېره پکې د هنرونو يو موزيم هم شته. پيټرسن روبن (۱۵۷۷-۱٦۴۰) مشهور بلجيمي انځورګر په همدې ښار کې زېږېدلی او دې ساحلي ښار د هنر او طبيعت تر ټولو ښکلې پنځونې په ځان کې ديره کړې دي. پر دې سربېره ياد ښار د نړيوالې بانکدارۍ او پانګوالۍ په چارو کې هم مهمه ونډه لوبوي. د انتورپ ښار دا خبرې درته په دې خاطر کوم چې

---

[۲] بنولوکس هيوادونه بلجيم، هالنډ او لوګزامبورګ دي چې په خپلو کې سرحدي ټرون لري.

Scanned by CamScanner

له دې ځایه مې یوه ستره تجربه ترلاسه کړې او دا مې د ژوند ستر سبق گڼم.

۱۹۸۴ز کال کې راته وړاندیز وشو په انتورپ ښار کې د تېلو یوه چاڼخونه وپېرم او اداره یې کړم، دې ښار سره مې اړیکه له همدې ځایه ونښته. دا وړاندیز راته ناڅاپي و، په لندن کې د ډایوو څانگې له مدیره مې وغوښتل چې هلته په مالي بازارونو کې ددې چاڼ خوني په اړه لومړنۍ څېړنې وکړي. ددې ترڅنگ مې د شرکت یو رئیس انتورپ ته واستاوه چې خپلې څېړنې وکړي، دا سړی د تېلو په چارو ښه پوهېده.

څه موده وروسته دواړو راپور راکړ، زه پوه شوم چې په دې چاڼ خونه کې د کارکوونکو تر منځ شخړې وې او د سوړ بازار له امله یې اداره له ځوړ سره مخ شوې وه. رئیس تر ما مخکې دغه وړاندیز جاپاني، الماني او امریکایي شرکتونو ته هم کړی و. د لندن څانگې مالي راپورونو وښوده چې اداره له مالي پلوه هم په ښه حالت کې نه وه.

هلته لیږلي کس راته وویل چې د چاڼ خونې وسایل زاړه شوي، خو که لږې گوتې پرې ووهل شي، بېرته گټې اخیستو ته برابرېدی شي. له کارکوونکو سره یې لیدلي وو او دا یې معلومه کړې وه چې رئیس یې اداري سره چنداني شوق نه لاره او مدیرانو یې هم د کار په ځای دا غوښتل چې اداره زر تر زره وتړل شي.

په دې توگه د پانگونې په اړه زما پرېکړه روښانه شوه، که څه هم ظاهراً هلته شته وسایل زاړه شوي وو، خو ماته معلومات وشول چې په دې حال کې هم دا چاڼ خونه د ورځې ۶۵۰۰۰ بوشکې تېل چاڼ (تصفیه) کولای شي. ددې چاڼ خونې وړاندې شوې بیه د نوې تر لگښتونو نږدې یو نیم چنده ټیټه وه.

Scanned by CamScanner

دویمه موضوع د کارکوونکو وه، ما داسې وګڼله چې رئیس او مدیران ادارې سره چندانې علاقه نه لري او ارزښت نه ورکوي، نه تاسیسات ساتي او نه د ګټورتیا (مثمریت) لوړولو لپاره کار کوي، د دوی دا سوړ چلند د کارکوونکو د زړه ماتې او بې خوندۍ لامل شوی او آن د دوی په چلند او اخلاقو یې هم ناسم اغېز کړی دی. که موږ دلته ښه مدیران وګومارو چې اغېزناک اداري سیستم رامنځته کړي؛ نو د کارکوونکو چلند به هم ورسره بدل شي او پروژه به له اقتصادي پلوه ګټوره شي.
ما فکر وکړ چې کارکوونکي له زاړه اداري چلنده ستړي شوي دي، دا چاره له کلونو راهیسې روانه ده او که په دې وخت کې اداري جوړښت بدل شي؛ نو دا کارکوونکي به ورته د زړه له تله خوشاله شي.
درېیمه موضوع د خامو تېلو تأمین او د چاڼ خونې د تولیداتو پلورل وو، دې برخه کې مې د ستونزې په حل باور درلود. لا دمخه مې له لیبیایي دولته د خامو تېلو پېرلو جواز ترلاسه کړی و. لیبیا چې د پیسو له ستونزو سره مخ وه، موږ ورسره یو تړون وکړ، دا تړون د خامو تېلو په مقابل کې د کورونو او ودانیو جوړول وو. اوس نو ډایوو شرکت ته په یوه چاڼ خونې پېرلو کې پانګونه ډېره نامناسبه نه وه. ځکه د تصفیه شویو تېلو ترلاسه شوی عاید د خامو تېلو له بیې څو چنده لوړ و. البته دا احتمال و چې د ګازو، سپینو تیلو او نورو محصولاتو د خرڅلاو بازار به ګني ډېر ښه نه وي، که شرایط داسې ویّ دا څه ستونزه نه وه، ځکه تر یوه وخته موږ کولای شول چې مستقیماً خام تېل وپلورو او د وخت په تېرېدو مو بیا کولای شول چې تصفیه شوي تېل او مشتقات یې هم بازار ته وړاندې کړو.

ددې نظرياتو او احتمالاتو په رڼا کې مې د چاڼ خونې د پېر احکام صادر کړل، يو کال وروسته مو چاڼ خونه پېرلې وه او د مسلکي مديرانو يوه ډله مو انتروپ ښار ته واستوله. د ادارې نوم مو (نړيوال) کړ، ځکه دې زموږ د شرکت له اصلي نوم (ډيوو) سره اړخ لګاوه، د ډايوو معنا هم (لويه نړۍ) ده. هر څه مو داسې تنظيم کړل چې دې ادارې يوه نوې بڼه خپله کړه.

له يو کال په لږ وخت کې مو ډېرې ښې او ګټورې پايلې ترلاسه کړې. کارکوونکو له مديريت سره د همکارۍ نوې انرژي اخيستې وه. فکر کوم د ډايوو له خلکو يې دوه درې شيان د الګو په توګه زده کړي وو. په يو کال کې چاڼ خونې ګټه پيل کړه، تر دې وروسته مو خرڅلاو دومره زيات شو چې د چاڼ خونې پخواني خاوند راته وړانديز وکړ، هغه غوښتل دا چاڼ خونه بېرته په پنځه چنده لوړه بيه وپېري. له دې بريا سره ما يو نړيوال موقف ترلاسه کړ او مخ پر ځوږ شرکتونو ته د (لوري ټاکونکي متخصص) په توګه وپېژندل شوم.

د آنتورپ پروژې خبره مې نه په دې خاطر وکړه چې شهرت يې راکړی او نه مې ګني خپله ګټه تاسې ته ښودله، دا خبره مې يوازې په دې خاطر وکړه چې د سمې پرېکړې په ارزښت پوه شئ.

په هر صورت، پخوانيو خاوندانو يې زموږ پر وړاندې ځانګړې اروزنې وکړې او په دې پوه شول چې ډېره ښه موقع يې له ګوتو وتې ده.

ورته تجربه په کوريا هيواد کې له (کوريا موټر جوړولو) شرکته هم لرم. دا شرکت په کوريا د جاپانيانو د يرغل پر وخت په دې خاطر جوړ شوی و چې اوبتلې (زيردريايي) پکې توليد کړي. موږ چې ددې

شرکت ملکیت ترلاسه کړ، ومو لیدل چې په تېرو څلویښتو کلونو کې
یې هیڅ گټه نه ده کړې او په بد حال دی.
له موږ مخکې کوریایي دولت دوو لویو مختلطو شرکتونو (سامسنگ او
هیونډایې) سره هم خبره کړې وه او دې شرکتونو خپلې ارزونې هم
کړې وې، یادو دواړو شرکتونو په کوریا کې د موټر جوړولو صنعت
راتلونکي ته په کتو منفي ځواب ورکړی و. له دې وروسته ماته وړاندیز
وشو، ما هم هماغه ارزونې وکړې، خو دا پرېکړه مې هم ورسره وکړه
چې شرکت وپېرم او (ډیوو درنې صنایع) یې ونوموم.
په سوداگریزو چارو کې تاسې بېلابېلو پرېکړو ته اړوځئ، ځینې وخت
دا پرېکړې اسانې وي او ځینې وخت بیا یوه پرېکړه د ټول شرکت
راتلونکی ټاکي.
هره موضوع چې وي د لوړ مدیریت مسئولیت دا دی چې وروستۍ
پرېکړه وکړي. له تېرو څو کلونو راهیسې مې ډېرو همکارانو سره کار
کړی، خو د ژوند تر ټولو یوازې شېبې مې هغه وي چې پرېکړه پکې
کوم، البته ملگري، همکاران او ټيټ پوړي مدیران راسره هر ډول اړین
معلومات شریکوي. دا چې مسئولیت یې زما دی؛ نو وروستۍ پرېکړه
هم زه کوم او هغوی پکې برخه نه شي لرلای، بله دا چې زه بیا د خپلو
پرېکړو مسئولیت په هغو خلکو نه شم اچولای.
پرېکړه یوازې په سوداگرۍ نه بلکې ټولو ورځنیو چارو کې مهمه ده.
ژوند په پرېکړو ولاړ وي او یوه ناسمه پرېکړه یې پای ته رسولای شي.
زه کله کله فکر کوم دا ژوند لکه چې ددې لپاره دی چې موږ د ځینو
مناسبو پرېکړو وړتیا ولرو او بریا ته پرې ورسېږو. د بریا لپاره ښایي تر

Scanned by CamScanner

یوه حده بېلابېلې تاکنې ولرو، خو هر څومره چې راباندې د تاکنو کړی راتنګېږي همدومره ورسره پرېکړه هم سختېږي.

دویم ګام دا دی چې خپله دننۍ انرژي راټوله کړو، اراده مو پخه کړو او په مرسته یې سمه پرېکړه وکړو. مطالعه مو باید د پرېکړې کولو وړتیا زیاته کړي او همدا د علم اصلي موخه هم ده. یوازې د علم په مرسته کولای شو چې سمې ناسمې، ښې بدې، روا ناروا او ګټورې بې ګټې پرېکړې سره جلا کړو. تاسې ښایي ډېر فرصتونه ترلاسه کړئ، خو یوه ناسمه پرېکړه یې بېرته درنه اخیستی شي. هېڅوک درته پرېکړه نه کوي، همدا تاسې به خپلې پرېکړې په خپله کوئ.

زه په دې هیله یم چې په پرېکړه کې د مرستې لپاره ډېر مشاورین او لارښوونکي ولرئ، مشاورینو پسې لېرې مه ځئ، دا مشوره هغه خلک درکولای شي چې ژوند مو ورسره شریک دی. ستاسې مور او پلار، استادان، مشران او نور تاسې سره مینه لري او د راتلونکي غم مو کوي، له همدوی مشورې واخلئ، که دې خلکو ته زړونه نږدې کړئ، خبرې ورسره وکړئ او مشورې ترې واخلئ؛ نو هغه څه ترلاسه کولای شئ چې د یوې ښې پرېکړې لپاره اړین دي.

Scanned by CamScanner

[۴]

# تر ستونزې حلولو لوی ګام

زه چې اروپا ته ځم دا پوښته راپيدا کيږي چې د شمالي اروپا ملتونه ولې له اقتصادي پلوه د سهيلي اروپا تر ملتونو ښه ژوند او وضعيت لري؟ ددغه توپير روښانولو لپاره هيڅ ډول علمي دليل نشته خو فکر کوم ددې توپير اصلي علت به ګڼي ددې خلکو غرمنی خوب او ارام وي.

د مديترانې ساحلي ښاري او اطرافي سيمو خلک له پخوا دا عادت لري چې له غرمې ډوډۍ خوړلو وروسته دوه ساعته خوب او ارام وکړي. دا خبره کورياپانو ته نوې او په زړه پورې ده، سره له دې چې هر څوک له ډوډۍ خوړلو وروسته يو څه د ستړيا او لټۍ احساس کوي او د تودو سيمو خلکو کې خو دا احساس د ګرمۍ له امله لا ډير وي.

زه دې ته حيران يم چې انسان په دومره مهم او ارزښتمن وخت کې څنګه خوب کولای شي؟ حال دا چې د دوی کاري مهالويش بيخي د شمالي اروپا خلکو ته ورته دی، سهار اته بجې بازارونه خلاصيږي او مازيګر بېرته تړل کيږي.

Scanned by CamScanner

که د ټولنې ټول خلک داسې وکړي، معلومه ده چې ډېره کاري انرژي له لاسه ورکوي؛ نو فکر کوم چې په دې غرمنۍ خوب باید له سره فکر وشي.

په دې خلکو او د ملتونو روحیه کې یو ډول سستي او لټي راپیدا شوې او دا لټي یې په شخصي او حتی ملي چارو کې راڅرګنده شوې ده، همدارنګه دا کار د ژوند او راتلونکي په اړه ددې خلکو باورونه (اعتقادات) هم څرګندوي.

په هر حال د اروپایانو دا کار د دوی د رومانتیکې روحیې یا لټۍ پایله نه ده، زه فکر کوم دوی یوازې دومره کار کوي چې ستونزه یې پرې حل شي، یعنې دوی ددې لړ اضافي خوب او ارام لپاره لږه اندازه کار کوي. زه د شمالي او سهیلي اروپا د ملتونو تر منځ د اقتصادي توپیر اصلي دلیل همدا کار ګڼم.

هغه خلک چې کار کولو ته وخت نه ټاکي، وخت نه ضایع کوي او د هغوی په پرتله ډېر پرمخ تللي چې یوازې خپله دنده یا مسئولیت ترسره کوي.

زه اوس هم یو تکراري خوب وینم، په دې خوب کې زه له پوهنتونه نه فارغېږم، داسې حال و چې ښایي رښتیا هم له دې پوهنتونه نه وی فارغ شوی، ځکه به دا خوب په تکرار ډول وینم.

په وروستي سمستر کې به صنف ته د تلو پر ځای وخت تېرولو لپار یوه دولتي اژانس ته د کار لپاره ورتلم، په وروستي سمستر کې محصلینو همدا یو امتیاز درلود چې غیرحاضري یې کولای شوه.

البته د وروستي سمستر زیاترو محصلینو په خپل راتلونکي کار او دندې فکر کاوه؛ نو زما په څېر ډېر محصلین په همدې حال وو.

Scanned by CamScanner

د وروستي کال يو مضمون مې له پروفيسور (وانگ - ايل - چانگ) سره و، دا سړی اوس هم د سئول ښار په (هانيانگ) پوهنتون کې درس ورکوي. هغه وخت کې استاد تازه له امريکا بېرته راستون شوی و او د هغه ځای د درسي سيستم او صنفي نظم اغېز پرې لا څرگند و.

زما پام نه و چې پروفيسور يانگ گني هره ورځ صنف کې حاضري اخلي او هغه چاته نومرې نه ورکوي چې ټاکليو درسونو ته نه وي حاضر شوی. زما ډېر وروسته دې موضوع ته پام شو او په لانجه واوښتم، ځکه که دده په مضمون کې مې نومرې نه وی اخيستی له پوهنتونه نه فارغېدم.

پرېکړه مې وکړه چې پروفيسور وگورم، ښښنه ترې وغواړم او هيله ترې وکړم چې له پوهنتونه مې فارغ کړي، خو هغه نه منله. ځکه هغه زما په حال نه و خبر او فکر يې کاوه چې زه گني کوم لټ محصل يم. هغه وخت زه پوهنتون کې(د بازارموندې څانگې ښووونکو محصلينو ټولنې) مشر وم، د خپلې ټولنې غړي مې راټول کړل، چې استاد نه مې غوښتنه وکړي.

بلاخره پروفيسور وانگ په دې شرط زما خبره ومنله چې زه به يو ځانگړی راپور جوړ او وړاندې کوم، ما خپل کار ترسره کړ او بلاخره له پوهنتونه فارغ شوم. دا کار زما لپاره يو ښه سبق شو، ځکه دا فکر مې له سره وويست چې کار به يوازې د ستونزې تر حلولو کوم. د وروستي کال محصل بايد د لومړي کال د محصل هومره يا تر هغه ډېره هڅه وکړي. ما فکر کاوه چې تر دې دمه مې پوهنتون کې ټول درسونه لوستي وو، خو له دې تجربې مې داسې درس واخيست چې تر ننه هم خوبونه وينم او گورم چې له پوهنتونه لا فارغ نه يم.

ددې تجربې له مخې مې ډايوو شرکت کې تراوسه داسې کارکوونکي نه دي زغملي چې يوازې د ستونزې تر حل کېدو کار کوي، ځکه دا فکر نه دوی ته گټه لري او نه ټولنې ته.

تېره اوږده موده کې مې نړۍ ته ډېر صنعتي محصولات وړاندې کړي، خو يوې خبرې تل ځورولی يم او هغه د محصول وروستی بڼه وه. کوريايي توکي د ډيزاين، کيفيت او بيې له پلوه ښه وو، خو وروستۍ بڼه يې په سترگو کې اغزی و، دا خلکو ته ښه بهانه وه چې د کوريايي توکو بيه پرې راټيټه کړي، يوازې د بيې خبره نه وه، کله کله به مې د يوه کوريايي وگړي په توگه ځان سره د شرم احساس هم کاوه.

دې حالت زه ځورولم ځکه زموږ ټوله خواري همدې يوې ستونزې په سيند لاهو کوله، خلکو به ورپورې خندل او دا مې هيواد ته لوی زيان و.

زه چې امريکا ته لاړم لومړی پېرودونکی مې (سی يرز) زنځيرې مغازې وې، ددې مغازو د تدارکاتو رئيس د کوريايي توکو له کيفيته سر ټکاوه، زما دنده دا وه چې دده دا وېره او اندېښنه راټيټه کړم، په دې خاطر مې د کيفيت د کنټرول کورنۍ ځانگه رامنځته کړه چې ټول اړوند توليدات په دقيق ډول وارزوي. د محصول د کيفيت کنټرول په برخه کې مې معيار تر هغه هم لوړ وټاکه چې (سي يرز) مغازې يې فکر کاوه. بلاخره مې د دوی د مسئولينو ډاډ او باور ترلاسه کړ.

د ستونزې د حل تر حده، د کار بېلگې ډېرې دي، موږ ۱۹۶۷ ز کال کې د ډايوو شرکت بنسټ کېښود، ټول مالونه په بېړيو کې لېږل کېدل. د بحري لېږد رالېږد صنعت هم ډېر پرمختگ نه و کړی، دې سره په صادروونکو کې د بېړيو د ځای په اړه سخته سيالي روانه وه. زياتره

Scanned by CamScanner

صادراتي شرکتونو د پوسان په بندري ښارګوټي کې ځانګې پرانيستې وې. بهرنيو پېرودونکو ته د توکو د لېږد وخت به چې راغی، ټول به غوسه شول او له کوريا به ووتل. د فابريکو د توليد ځانګې به ۲۴ ساعته کار کاوه، بيا به چې مال ګمرک ته لاړ، د شرکتونو استازي به په تمه ناست وو چې د مالونو بارولو وار يې را ورسېږي. که موږ د خپلو مالونو لېږد لپاره يوه شخصي بېړۍ نه وی چمتو کړی، د بلې کښتۍ تر راتګه به مو يوه اونۍ وار کولای او د توليد دا ټول فرصت به رانه ضايع کېدای.
هغه وخت د وړو شرکتونو بريا په دې پورې وه چې کښتيو کې څومره ځای پيدا کولای شي، په دې خاطر به نو بندرونو کې د شرکتونو د استازو ګڼه ګونه او فشار سخت ډېر و.
ددې استازو تر منځ له تاوتريخوالي ډکه سيالي روانه وه، که يو استازی به لږ ساده و، بل به تېر ايسته. ځينې وخت به د يوه استازي مال په بېړۍ کې بار شوی و، دی به چې اوزګار شو او له بندره به ووت، دده مال به راښکته او د بل شرکت مال به بار شو.
دا به درته په زړه پورې وي چې په پوسان بندر کې د شرکتونو د استازو درې ډلې وې: يوه ډله داسې وه چې پوه به شول مالونه يې د بندر ګمرک ته ننوتل دوی به ترې ستانه شول. دويمې ډلې به چې څنګه مال په بېړۍ کې بار کړ، له بندره به لاړل، خو درېيمه ډله هغه خلک وو چې مال به يې بېړۍ کې بار شو، تر هغه وخته به ورته ناست وو چې بېړۍ به له پوسان بندره روانه شوه.
د لومړۍ ډلې خلک زياتره باېلونکي وو او له ستونزو سره به مخ کېدل، د دويمې ډلې مال به چرته په لسو سفرونو کې يو ځل پاتې شو، خو درېيمه ډله چې د کار تر پايه به هلته وه له هيڅ ډول ستونزو سره نه مخ

کېده. د لومړۍ او دویمې ډلې خلکو به دومره کار کاوه چې د دوی په نظر به یې بسنه کوله، خو زیاتره وخت به یې شرکتونو ته لویې ستونزې جوړولې.

ما امر وکړ، د ډایوو شرکت استازي دې تر هغه وخته په بندر کې وي چې بار کړې کښتۍ له سترګو فنا شي. دا د کار نهایي کولو یو ډول هڅه وه، په دې خاطر زه هېڅکله په سوداګانو کې له ستونزو سره مخ نه شوم او مال مو په خپل وخت پېرودونکو ته تسلیماوه. موږ ته دا مهمه وه چې د نړیوالو پېرودونکو باور او ډاډ ترلاسه کړو، نړۍ دا منلې وه چې ډایوو شرکت په وخت د مالونو لېږد وړتیا لري.

مهمه نه ده چې څه شی کوم، خو غواړم چې هر کار کوم په سمه بڼه یې تر اخېره ورسوم او همدا د بریا کونجي ده. هڅه مې کړې پرسونل مې هم په دې پوه کړم چې کار باید تر وروستۍ شېبې سم وڅاري. دا چاره اوس په ډایوو شرکت کې د یوه لرغوني رواج په توګه مشهوره ده.

نو له ننني ځوانانو غواړم چې نوښتونه وکړي، په خلکو پسې دې نه ځي او خپل مطالعات دې یوازې د ستونزې د حل تر حده نه کوي.

سمې لارې وټاکئ، وړتیاوې مو وکاروئ، پټ استعدادونه مو وپېژنئ او دا ټول بیا د ټولنې رغون ته وړاندې کړئ. یوازې د ننني ستونزو او سختیو په تیارو کې روڼ سبا کتلای شو، که زده کړې وي او که نور کار، په ټول ژوند کې هڅې یوازې د ستونزې تر حل مه محدودوئ.

# [۵]

## جادوگر

وايي داسې يو جادوگر پيدا شوی چې هر وخت وغواړي په لږو هلو ځلو او زيار د لوړې غونډۍ سر ته الوتلای شي، دې کار يې ډېر خلک حيران کړي او يو ډول رخه يې هم ورسره پيدا شوې ده. دا کار موږ دې فکر ته اړباسي چې آيا موږ هم کومه ورځ دا وړتيا پيدا کولای شو؟ زه فکر کوم دی به يوه ورځ د خپلو مکاشفاتو په بحر کې ډوب و او ناڅاپه به پرې له شنه اسمانه دا وړتيا را ورېدلې وي يا به ورته ددې خيال الهام شوی وي. مهمه دا ده چې لومړيو کې دې جادوگر تر عادي خلکو ډېر توپ نه شو وهلی او که يې کولای شول مثلاً ښايي يو متر لوړ به الوته. خو ده ځانته يوه موخه وټاکله چې د يوې لوړې غونډۍ تر سره به الوځي، هره ورځ يې تمرين کاوه او ورځ تر بلې يې دا الوت ډېرېده. ښايي خپل ټول وخت يې هم دې کار ته وقف کړی وي او ډېره پراخه حوصله يې لرله، داسې لکه غنم چې ورځ تر بلې لوړېږي، ده به له هغو ټوپ کاوه او بلاخره به دې ځای ته را رسېدلی وي. ښايي

Scanned by CamScanner

د ځینو نورو تمریناتو په لړ کې به ترې جادوګر جوړ شوی وي او د خپل کار په ساحه کې به ترې یو مسلکي کارپوه جوړ شوی وي.
دا خبره ډېره اسانه رد کېږي چې جادوګران له موره جادوګر زېږېدلي دي، دا په دې معنا ده چې متخصصین هم متخصصین زېږېدلي او د شرکت اجرائیوی رئیس هم له موره همداسې اجرائیوي رئیس زېږېدلی، خو داسې نه ده، دوی هڅې کړې، زیار یې ویستی او بلاخره په خپله رشته کې متخصصین شوي، عیناً لکه پورته جادوګر.
هر انسان نامحدودې وړتیاوې لري، د عادي او جادوګر انسان تر منځ دا توپیر دی چې جادوګر خپلې پټې وړتیاوې پېژندلي، کار یې پرې کړی، تمرین یې کړی او د خارق العاده کارونو په ترسره کولو بریالی شوی دی. د هر معلول لپاره علت شته او هره هڅه پایله لري. فضایل او هنرونه ناڅاپي نه ترلاسه کېږي، دا د یوه ټاکلي کار تدریجي تکامل دی.
دا د تواضع خلاف خبره ده، که ووایم چې ماته د (جادوګر) لقب راکړل شوی دی. ماته به ښایي جادوګر په دې خاطر وایي چې زیاتره وخت د هغه الوتونکي اتل (جادوګر) یادونه کوم. ښایي په دې خاطر چې هر کار مې پیل کړی، هڅې مې کړې چې ځان پکې د تخصص ترحده ورسوم. دا باید ومنم چې دا لقب مې بد نه راځي، ځکه په ټول ژوند کې مې غوښتل چې متخصص او مسلکي کارپوه شم.
زه له اقتصاده فارغ یم، خو د رشتې اړوند مې لومړی ځل کار نساجي فابریکه کې پیل کړ، دلته مې لس کاله کار وکړ او په دې موده کې د نساجۍ او ټوکر اوبدلو چارو متخصص وبلل شوم، اوس که څه هم له کلونو راهیسې نساجۍ نه جلا شوی یم، خو د ټوکر په لیدو یې درته ویلای شم، مثلاً کوم تار پکې کارېدلی، له ټولې ځانګړنې او کیفیت

Scanned by CamScanner

کومو پړاوونو تیر شوی او له کومو رنګونو پکې کار اخیستل شوی دی.
زه نن هم ټوکر سره د رنګونو د ناستې په برخه کې یو جادوګر یم.
خو زما جادو یوازې تر نساجۍ محدود نه دی، دا چې زموږ شرکت نورو برخو ته پراختیا وکړه ما هم هڅه وکړه چې په هره برخه کې کارپوه او متخصص شم. مثلاً د موټر جوړولو په برخه کې؛ د موټرو د حرکت په برخه کې؛ د کښتۍ جوړولو په برخه کې او حتی د هوټل چلولو په برخه کې. په هر کار کې مې ځان د تخصص تر حده رسولای دی. د همدې تخصصونو له امله موږ وکولای شول چې د خپل کار ساحه پراخه کړو.
ددې ټولو په لړ کې اوس د خلکو د ارزونې په برخه کې هم د تخصص تر حده رسېدلی یم، اوس چې له خپل یو مادون سره خبرې کوم له خبرو، حرکاتو، سکناتو او څېرې یې سمدستي پوهېږم چې د علم او تجربې کومې کچې ته رسېدلی دی. یوازې په دوو درېیو پوښتنو یې خپل کار کې پوهه او تسلط معلوملای شم.
موږ د علومو د وېش او تخصص په دوره کې ژوند کوو، اوس چارې پرلپسې بدلیږي، د ژوند شرایط ورځ تر بلې سخت او پېچلي کیږي او په بېلابېلو کچو کې کارپوهانو او متخصصینو ته اړتیا لوړیږي. هغه وخت تیر شو چې یو کس به په یوازې سر ټو کارونه کول، حتی که یو کس د کار په ټولو کلیاتو او جزیاتو وپوهیږي، د وخت کمی به ورته ددې کار اجازه ورنه کړي.
کارونه د ځانګړې وېش پر بنسټ پراخه شوي او خپلو متخصصینو ته سپارل شوي دي، دې سره د کارونو بنې هم زیاتې شوي او متخصصینو

Scanned by CamScanner

ته اړتیا ډېره شوې ده؛ نو دې ټولو ته په کتو باید تاسې اوس په خپله ټاکلې رشته کې تجربه لرونکی متخصص شئ.

البته دا باید ووایم چې دا وېش د بېلابېلو کارونو ارزښت له منځه نه وړي، یعنې که تاسې په یوه برخه کې تخصص کوئ، په نورو برخو او چارو سترګې مه پټوئ، نړۍ پراخه او ژوند رنګارنګ دی. که ځان د خپلو فکرونو په وړه دنیا کې بند کړئ له چاپېریاله مو نه خبرېږئ، دا کار به درنه هغه چونګښه جوړه کړي چې کوهي ته لوېدلې وه.

یو شي مې فکر بوخت کړی، هغه دا چې موږ ټول لګیا یو یوه لویه کنده کنو، خو دا مو هېر کړي چې لومړی باید ددې کندې ژوروالی معلوم کړو، ځکه د کندې کېندلو لپاره په کافي اندازه ځمکې ته اړتیا ده، د کندې ژوروالی او قطر که سره نسبت ونه لري او په لږ طول او عرض کې کنده وکېندئ؛ نو له ستونزو سره به پکې مخ شئ.

کارونه تل داسې پر مخ نه ځي، ځکه لومړني اصول پرې واکمن وي. که لویې کندې ته اړتیا لرئ، په لویو ابعادو باید کیندنه پیل کړئ، که یوازې په ژوروالي یې فکر کوئ، دا په دې معنا ده چې د لومړۍ بېلچې په وهلو به یې تل ته ورسېږئ، خو که لږ ورښکته شئ؛ نو پوه به شئ چې لاندې ځای تنګ دی او کار پکې نه شئ کولای. په دې خاطر باید د کندې له کیندلو مخکې ورته مناسب طول او عرض په نظر کې ونیسئ، په دې صورت کې به د کندې په کیندلو کې راحت او له کومې ستونزې سره مخ نه یاست.

هڅه وکړئ چې کارپوه او متخصص شئ، خو دومره هم نه چې نور شیان مو له سترګو فنا شي، ستاسې تخصص باید له بېلابېلو او متنوع کارونو راجوړ شوی وي. دا چې وایو موږ لوړې زده کړې کړي په دې

Scanned by CamScanner

معنا ده چې موږ لوړ حس، درک او تشخیص لرو. که څوک په میکروب پېژندنه کې تخصص کوي، اړینه نه ده چې د الوتکو د وزر په نصب کې دې هم تخصص ولري، خو که تحصیلي رشته مو میکروب پېژندنه، فارمسي یا ادبیات هم وي، بیا هم یو لړ پراخو عمومي معلوماتو ته اړتیا پیدا کوئ. زه د هغو پراخو معلوماتو په اړه غږېږم چې تاسې کې په منظم ډول روزل شوي وي او ستاسې د فکر ژوروالی او تخصص یې زیات کړی وي.

تاسې د فلسفې، ټولنیزو ادابو او اخلاقي اصولو په برخه کې معلوماتو ته اړتیا لرئ، نو موږ چې وایو انسان باید متخصص وي، دا په دې معنا ده چې سم لیدلوری، شعور او درک باید ولري.

نن د انسان شخصیت او قوت له یو بلا جلا نه دي، هغه وختونه تېر شوي، قدرت هغه ترلاسه کوئ چې تخصص ولرئ او شخصیت هغه جوړېږي چې تاسې د خپل کار ترسره کوونکی یوازینی کس شئ. د نننۍ ارزونې کاڼی او معیار تخصص دی.

ډاکټرانو ته ولې درناوی کېږي؟ زه فکر کوم په دې خاطر چې ارزښتمن تخصص لري، دوی د هغو ناروغانو درملنه کوي چې نامتخصص انسان یې نه شي کولای. داستایوسکي، کامو، کافکا او ځینې نور لیکوالان ولې یادېږي؟ ځکه دوی په ادبیاتو کې تخصص درلود او هغه ځای ته پکې رسېدلي چې نور څوک پکې نه دي رسېدلي، دوی هغه کارونه کړي چې نورو خلکو یا کړي نه دي او یا یې کولای نه شول.

نو هڅه وکړئ چې متخصص شئ، کارپوه شئ او جادوګر شئ. هر مسلک چې ټاکئ هڅه وکړئ چې تر ټولو پکې غوره شئ. که پوښتنه دا وي چې دا کار باید څنګه وکړئ؛ نو یو نصیحت درته کوم، هر کار

Scanned by CamScanner

ته مو چې لاس ور واچاوه، ځان پکې ورډوب کړئ. ایډیاوې، ځیرکتیا، پوهه او معلومات هغه چاته مخه کوي چې ځانونه يې په خپلو مسلکونو يا کسبونو کې ډوب کړي وي. که د نويو مفکورو يا ایډیاگانو لپاره لټه پرېږدئ او يو څه وخت ارام کوئ؛ نو غلطه لار مو نيولې ده.

لیک د قلم د څوکې له وروستۍ برخې یا انتها راوځي، تاسې باید پرلپسې لیکل تمرین کړئ چې نوې مفکورې یا ایډیاوې ترلاسه کړئ. په هره برخه کې نوښتگر ذهن او متعالي افکار له همدې غوټو وهلو ترلاسه کېږي. نبوغ ۹۹ سلنه پلټنې پورې اړه لري، که غواړئ چې په خپلو چارو کې نابغه شئ ځان پکې ډوب کړئ، لنډه دا چې درک او معلومات ترلاسه کړئ او هغه لاپسې ژور کړئ.

[٦]

# د نوښت او پنځونې ارزښت

لس کاله مخکې په سئول ښار کې (دونک ویلي) ورځپاڼې خپلو لوړرتبه مامورینو ته یو روزنیز سیمینار جوړ کړی و او له ما یې وغوښتل چې وینا پکې وکړم. ماته یې وویل چې (د شرکتونو د مدیرت او په اړه یې زما د فکر) په موضوع یو ساعت خبرې وکړم. دا په زړه پورې وه چې یو سوداګر او صنعتګر دې د ورځپاڼې لوړ پوړو مامورینو ته وینا وکړي، خو د ځینو نزاکتونو له امله مې دا غوښتنه نه شوه رد کولای.
نږدې یو ساعت د شرکتونو په اړه وغږېدم، څه مې چې وویل د هغه وخت د مدیریت د لوري او بهیر له بدلون سره یې اړخ لګاوه، د خبرو په پای کې یو ګډونوال ناڅاپه وپوښتلم چې (که ته د یوې ورځپاڼې مدیر وی، د کومو نوښتونو او پنځونو هڅه به دې کولای؟)
زه خو د ورځپاڼې لیکلو له فعالیته بهر وم او په داسې سیمینار کې راته خبرې ستونزمنې وې، اوس پکې دا پوښتنه هم راغله، دې مې حالت بیخي را ګډوډ کړ.
بلاخره مې (کوباوو) ذهن ته راغله، (کوباوو) په کوریایي ژبه کې هغه لنډو کیسو ته ویل کیږي چې په ورځپاڼو کې د کارتون په شکل

خپرېږي او ډېر مينه وال هم لري. ما ته هم د ورځپاڼو دې برخو ډېر خوند راکاوه. ما به ليدل چې خلکو به لومړی د ورځپاڼې په لومړي مخ مهم سرليکونه او خبرونه لوستل، که دې به خوند ورنه کړ، زر به يې ځان د ورځپاڼې وروستۍ برخې يعنې کورنيو او ټولنيزو چارو ته رساوه.
په دې برخه کې لومړی د انسان سترګې په همدې کوميډي کارټوني کيسو لګي، دا به يې د وروستۍ پاڼې په پورته برخه کې چاپولې.
ځوک چې ورځپاڼې ته اعلان ورکوي، ترې غواړي چې په همدې برخه کې يې خپور کړي، ځکه دا برخه تر نورو ډېره زړه راښکونکې ده. په همدې خاطر د ډېرو مينه والو لرلو له امله د ورځپاڼې په دې برخه کې د اعلاناتو بيه هم لوړه وه. زه چې دا خندونکې برخه لولم نوي فکرونه راته پيدا کېږي. دا چې خلک ددې برخې له لوستو سره عادت دي؛ نو که دې برخه کې اعلان خپور شي، د خلکو سترګې ځان ته را اړوي، که چېرې په کوم ځای کې پنځه ورځې کارټون خپور شي؛ نو تاسې په شپږمه ورځ همدې ځای ته اعلان ورکړئ. که داسې ونه شي، د کارټونونو او انځورنو موده دې لږه وغځوي او تاسې يې په منځ کې اعلانونه چاپ کړئ، دا اعلان به مثبت وي. دغه ګران بيه برخه چې (کوباوو) نومېږي سوداګرو ته په زړه پورې وي؛ نو هغه مدير چې رانه پوښتنه کړې وه، ځواب مې ورته په دې بڼه ورکړ.
له دې وينا څو ورځې وروسته مې وليدل چې په (کوباوو) برخه کې اعلانونه هماغسې خپرېدل لکه ما چې ورته ويلي وو.
نوښت د نني ژوند اصلي اړتيا ده، خو دا دومره سخت نه دی لکه خلک چې فکر کوي. زه چې هر ځای ته لاړ شم په همدې خبره

Scanned by CamScanner

ټينګار کوم. دا موضوع په خپله نوښت نه دی خو زما موخه ترې دا ده چې تاسې غواړئ که نه چې نوښت وکړئ؟

که ځينو نوښتونو ته فکر وکړئ له ډېرو ساده فکرونو راپيل شوي او ډېرې لويې لاس ته راوړنې لري، د شرکتونو په اداره او مديريت کې نوښت مهمه ونډه لري.

نوښت، پنځونو او اختراعاتو د بشر په تاريخ کې هم مهمه ونډه لرلې ده. دا هر څه د يوه نوښتګر انسان په کلک هوډ راپيل کېږي، دا شخص هڅه کوي چې شته عادي فکرونه مات کړي او يو نوی شی په نوې بڼه وړاندې کړي.

نو زه تل په دې ټينګار کوم چې نوښتګري انسان ته ډېره اړينه ده، ځکه همدا نوښتګر، مبتکر او پنځوونکي خلک نړۍ او تاريخ ته بڼه او لوری ورکوي.

د خلاقيت يا نوښت وده د اوسني حالت له څېړنې او پلټنې راپيل کېږي: (آيا ما خپله ټوله هڅه کړې ده؟) (آيا اوسني شرايط ښه دي؟)، (آيا ښې لارې چارې موندلای شم؟) دغسې پوښتنې په تاسې کې پټ نوښتونه رابرسېره او خوځنده کوي، هر څومره چې هڅه وکړئ همدومره ښې پايلې ترلاسه کوئ.

زه له زړه په دې باور يم، چې د ځوانانو مسئوليت د اوسني حالت ښه کولو ته هڅه ده او ددې کار لپاره نوښت ډېر مهم دی. يو شي ته چې له نوې زاويې وګورئ په مسايلو يې خبرېږئ، دا مسايل بايد تاسې د جوړښت او پرمختګ خواته بوځي، ځکه په ځوانانو قيدونه او بنديزونه کم دي، ځکه نو د مشرانو په پرتله د نوښت لپاره ډېر حساس او چمتو دي.

Scanned by CamScanner

له زده کړو وروسته مې چې په لومړي ځل کار پيل کړ، د يوه نوي رامنځته شوي شرکت د بانکي چارو همغږی (کواردیناتور) شوم، دا صنعتي شرکت (هنانګ) نومېده. کار مې تقريباً اسانه و، ځکه زما کار دا و چې د اروزنې لپاره مې بايد د بانک يوې څانګې ته اسناد سپارلي وی، دوی دا پرېکړه کوله چې اسناد دې لوړپوړو چارواکو ته ولېږل شي که نه؟ که به يې راسره ونه منله بېرته به مو اسنادو کې لازم اصلاحات راوړل او ما به بېرته همدې برخې ته سپارل.

په دې ځای کې زما نه مخکې کارکوونکی له ډېرو ستونزو سره مخ و، ټوله ورځ به يې بانک او شرکت ته په تګ راتګ تېروله، هر ځل به يې چې بانک ته اسناد لېږل ډېر وخت به يې ترې نيوه، بيا به چې هلته اسناد پوره نه وو او رد به شول، ده به دويم ځل ورلېږل او لا ډېر وخت به يې ترې نيوه. څو ورځې وروسته زه په دې دنده وګومارل شوم، ددې چارې ټول پړاوونه مې ښه په ځېر وکتل چې ستونزې وپېژنم او په دې برخه کې مې د ستونزو حلولو هڅه کوله.

لومړی پرېکړه مې دا وه: د بانک د هغې څانګې کارکوونکو سره به ښې اړيکې جوړوم چې زه ورته اسناد سپارم، ددې برخې نږدې ټولې مامورينې ښځې وې او همدوی به نظر ورکاوه چې اسناد پورته د لېږد وړ دي که نه؟ که به وړه ستونزه پکې وه، دې مېرمنو به خپله حل کوله او اسناد به يې مخکې لېږل، البته دلته هم يوه سيالي روانه وه، ځکه نورو شرکتونو هم ورته اسناد راوړل او چې څومره به زموږ اسناد د نورو شرکتونو له اسناد ښکتو شو، هومره به يې په تاييدۍ هم وخت ډېر لګېده.

Scanned by CamScanner

په دې وخت کې زموږ د شرکت ګودامونه له هغه ښځینه ټوکره ډک پراته وو، چې موږ له ایټالیا راوړی و او دلته یې چندان بازار نه درلود، مسئول یې هم اوبه کولو ته د فرصت په لټه و. ما دا دواړه موضوعات سره وتړل، ګودام کې په ټوکر ګرد پریواته او د بانک کارکوونکو مېرمنو ښایي دا خوښ کړی وي؛ نو ما ځان سره حساب وکړ چې که دا ټوکر د بانک کارکوونکو ته په ټیټه بیه ورکړم، له یوې خوا به شرکت ته ګټه راوړم او له بلې خوا به ګودامونو کې هم ټوکر راکم شي.
لنډه دا چې ټوکر زه خپلې موخې ته ورسولم او د بانک کارکوونکو دومره خوښ کړ چې خپلې ملګرې به یې هم اخیستو ته رابللې. دوی هم بهرنی ټوکر خوښاوه او هم یې بیه ورته مناسبه وه، بلاخره خبره دې ته راغله چې لږه موده کې له یوې خوا د شرکت ګودامونه راتش شول او له بلې خوا به زما اسناد د ټولو دوسیه ګانو د پاسه پراته وو.
دویمه ستونزه دا وه چې اداري کاغذونه سخت ډېر وو، ځان سره مې وویل چې ښایي رانیم یې کړم، له ښه مرغه دا کار مې بیخي اسانه وکړ. بانک ته مو داسې ډېر بېلابېل اسناد نه ورکول، یوازې څو محدودې شمېرې به پکې بدلېدلې؛ نو تقریباً یو شی وو. د شرکت نوم، ټاپې، پته، نېټه او نور... ما به اوزګار وخت کې هڅه کوله چې تش او تکراري ځایونه له مخکې تیار ډک کړم، وروسته دا د شرکت د نورو کارکونکو مسئولیت و چې ځینې شمېرې به یې پکې لیکلې.
کارونه ښه شول خو یوه ستونزه لا پاتې وه، زه به د ورځې څو وارې بانک او شرکت ته تلم راتلم، لږ معلومات مې چې وکړل پوه شوم چې بیاځلې تګ راتګ ته اړتیا نشته، زما نه مخکې کس ددې ستونزو په حل چنداني وخت نه و تېر کړی، ځکه دې ته یې نه و پام شوی چې

Scanned by CamScanner

سهار لیږل شوي اسناد له ماسپښین وروسته ارزول کېده او کوم اسناد به یې چې ماسپښین واخیستل هغه به سبا ورځې ته پاتې کېدل. د هغه دې خبرې ته پام نه و، ټوله ورځ به یې د بانک او شرکت تر منځ منډې رامنډې وهلې او هر ځل به یې ځینې اسناد ورکول یا به یې راخیستل. دی په هماغه لاره روان و چې له مخکې کس ورپاتې وه یا یې ورته مشر ښودلې وه او هېڅ کله یې په نویو لارو چارو فکر نه و کړی چې وخت یې وژغورل شي، پیسې یې لږ مصرف شي او حتی بوټونه یې زر زاړه نه شي، ما هڅه وکړه دا طریقه د بانک پلان سره برابره کړم او شته ستونزې له منځه لاړې شي.

یوازې یوه میاشت مې په دې بست کار وکړ او بیا مې لوړې دندې ته ترفیع وکړه، ډېر یې وهڅولم او ټولو یو نابغه ګڼلم. هغه وخت نوي کارکوونکي ته یوه درجه ترفیع ډېر لوی کار و، خو زما بریا یوازې د ستونزو حل او بیا د وضعیت ښه کول وو.

مودې تېرې شوې، ما ډېرې ستونزې حل کړې چې په ځان کې د نوښت وړتیا او قوت لاپسې زیات کړم. زه دا په ډاډ ویلی شم، هغه وړتیاوې او کفایتونه چې د شرکت د ودې لامل شو، د هغو وړو نوښتونو برکت و چې بېلابېلو برخو او اړونده کارونو کې شوي و. نوښت یوازې په صنعت او سوداګرۍ کې نه کېږي، آن په زده کړو او د ژوند په نورو برخو کې هم ترې ګټه اخیستی شو. که ښوونځي کې مو سبق نه خوښېږي دا د سبق ستونزه نه ده، بلکې ستونزه ورسره ستاسې په چلند کې ده، هره ستونزه که وي، خو دا باید ومنو چې: که غر لوړ وي په سر یې لار شته.

که ټولو اصولو او منطق ته پام وکړو او ټکي په ټکي او جمله په جمله مطالعه وکړو؛ نو د درسي کتاب په ټوله موضوع نه شو پوهيدی، همدرانگه په ډېر تکرار او حفظ هم په درس نه شو لاسبري کيدای. په موضوع پوهېدل له ټينگار او ثابت قدمی راپيل کيږي، يعنې په موضوع کې ډوبېدل او په جزياتو او حاشيو ځان خبرول. چټکه او سطحي مطالعه او مشاهده بې گټه ده، دا کار مو نوښت ته نه برابروي، لنډه دا چې هېڅکله د نوښت ارزښت له پامه مه غورځوئ.

# [۷]

## زه چې څانه اغېزمن شوی یم

یوه ورځ راته (مارتین بوبر[۳]) ډېره په زړه پورې او ګټوره خبره وکړه، ده ویل د انسان اصلي ژوند یې له لیدنو (ملاقاتونو) راپیل کېږي. زه ددې خبرې په معنا پوه شوم، زه په دې باور یم چې زموږ لیدونکي خلک مو د ژوند په بڼه اغېز ښندي؛ نو تاسې ځوانان چې د ژوند په اصلي معنا پسې ګرځئ، ملګري او لیدونکي مو ډېر ارزښت درته لري.
ځوانۍ کې درسره ډېر خلک ناسته پاسته او راشه درشه کوي او دا ټول مو په راتلونکي اغېز کولای شي؛ نو مهمه دا ده چې له روغو خلکو سره تګ راتګ وکړئ. هر هغه انسان د خپلې لارې مشال وګڼئ چې خپل ژوند یې ښه تېر کړی وي او تاسې ورته درناوی لرئ. کیدای شي همدا لامل وي چې موږ د ځینو خلکو انځورونه په خپل البوم، دیوال یا دفتر کې ساتو. تاسې یوه شېبه د هغو دوو کسانو د ژوند توپیر ته ځیر شئ، چې یو یې د شوپنهاور پلوي وي او بل یې د ګاندي او لینکن. شوپنهاور بدبینه فیلسوف و او دوه نورو ښاغلیو کې د ازادی، هیواد او

---

[۳] مارتین بوبر، د اطریش مشهور فیلسوف و، د یهودو د یوې مذهبي فرقې په کتاب (هاسدیسم) کې یې لویه ونډه لرله او د عربانو فلسطیني یهودانو تر منځ د سوله ایز ژوند هلې ځلې یې کولې.

Scanned by CamScanner

نور ارزښتونو مينې ځپې وهلې. نو ښو خلکو سره ناسته پاسته وکړئ، سمو او نيکو خلکو ته درناوی ولرئ او په پلونو يې لاړ شئ.
زه ژوند کې له ډېرو خلکو سره مخ شوی يم، دې کې ډېر پوه، لايق او حتی داسې خلک هم شته چې آن زړه مې د دوی ليدل هم نه غوښتل، ځينې څېرې مې اوس هم په يادونو کې ژوندۍ او تازه دي، که څه هم ځينې څېرې رانه زر هېرې شوي دي. البته يوه خبره ده، زه چې نن هر څه يم او هر څه لرم دا زما له ځينو خلکو سره د ښو اړيکو برکت دی او دا خلک مې تر نورو ډېر په ذهن کې ناست دي، د يو څو يادول به يې بې ګټې نه وي:
مور مې ډېره ښه او شريفه ښځه وه، البته داسې خلک به لږ وي چې مور ته درناوی ونه لري، خو زه مې په مو ډېر زيات وياړم. پلار مې قدرمن معلم او د کوريا د يوه ايالات والي و، د دواړو کورياو تر منځ جګړه کې ونيول او شمالي کوريا ته واستول شو. دې کار سره مې د مور ستونزې زياتې وې، د پنځو بچو لويول ورته لويه ستونزه وه او دا کار يې په ډېره سختۍ او قربانۍ په ډېر ښه ډول ترسره کړی. دې ټولو ستونزو سره يې هم پر مور د لسانس تر حده زده کړې وکړې، يعنې دا خبره په ډېر جرات کولای شم چې مور مې خپل ژوند د خپلو بچو نذر کړی دی. د شرکت د ودې لپاره زما ننني شعار او فلسفه هم همدا قرباني او فداکاري ده او دا منم چې دا ټول په ما زما د مور اغېز دی.
اوس مې هم يادېږي، مور يوه ملنګه ښځه وه، عبادت به يې کاوه او په خواږه غږ به يې د خدای ذکر کاوه، د مور دعاګانو مې زړه ته ډېر لوی قوت راکړی دی.

Scanned by CamScanner

زموږ د دين (عيسويت) نړۍليد خدمت او قرباني ده. د مور زده کړو او د ديني پوهنتون درس د خدمت او قربانۍ دوه څانګړنې زما په زړه ليکلي؛ نو زه فکر کوم چې دين ډېر مهم دی. ځينې خلک په غلطه دي چې وايي دنيا نوره دين ته اړتيا نه لري، دوی دا استدلال کوي چې ديني فکر زوړ شوی او اوسنيو شرايطو سره برابر نه دی. خو زه داسې فکر کوم چې د انسان په ژوند کې شک او ناپېژندل شوي عاملونه څومره ډېر او ظاهري څرکونه متغيير وي او انسان د مادي نړۍ پوچۍ او بې ارزښتۍ سره مخ کېږي؛ نو د ژوند لپاره يو لړ ثابتو او مستحکمو عقيدوي اصولو ته اړتيا پيدا کوي. انسان د بې خونديو او ستونزو په يوه ډکه نړۍ کې پيدا شوې او دې حال کې ورته يوازې دين دومره قوي او ارزښتمن اصول وړاندې کولای شي. ځوانانو! که تاسې په ژوند کې موخو او لوري پسې ګرځئ او هلې ځلې کوئ؛ نو فکر کوم چې له يوه حق دين او تعليماتو سره بايد رالوی شئ. دا لاره مې ماته مور په ماشومتوب کې راښودلې وه.

په ژوند کې له ښو، رښتينو او زړه سواندو ملګرو، خپلوانو او مشاورينو نور څه غوره دي؟ خلک له خپلو ملګرو او همفکره کسانو سره ليدل کېږي او په اړه يې قضاوت کېږي؛ نو له دې معلومه شوه چې د دوستانو ټاکنه مهمه ده، ښه ملګری د خدای نعمت او بد يې عذاب دی. پخواني ملګري تر ټولو ښه ملګري دي، ښه ملګری هغه دی چې تاسې ورته د خپل ژوند ټول مهم رازونه ووايئ او که داسې ملګري ونه لرئ؛ نو د خفګان ځای دی. ژوند کې درته ډېر کارونه پراته دي چې بايد وشي، يو کار پکې ښه ملګري پيدا کول دي، زه ډېر نږدې ملګري لرم، تل مو په يو بل باور کړی، زه له (کی يونګي) ليسې فارغ شوی يم، له

ډيپلوم اخيستو وروسته چې لومړی ځل په کار ودرېدم، خپلو ملګرو او د ليسې د دورې ملګرو راسره ډېرې زياتې مرستې وکړې او زه يې د ډېرو منت بار يم.

د ډايوو شرکت د مديره هئيت اوسنی رئيس ښاغلی لي –وو –بوک مې ټولګيوال دی، زه دومره نه وم خو هغه ډېر ښه شاګرد و، د کوريا له جګړې وروسته حالات خراب وو، زما د ښوونځي دوره د ژوند سختې شېبې وې، ما يو کال درس پرېښود، بيا چې بېرته ليسې ته لاړم ډېرو ستونزو سره مخ شوم، نومرې چندان ښې نه وې، د کار پايله مې هم چنداني وياړمنه نه وه، خو څومره چې د ليسې وروستيو کلونو ته رسېدم، نومرې مې د ممتازو شاګردانو کچې ته رسېدې او دا ټول زما د ماشومتوب د ملګري لي –وو –بوک برکت و.

زه به درس ويلو لپاره دده کوټې ته ورتلم، زه ډېر ستونزمن او جنجالي محصل وم، خو دا بيا د ښه متعلم يوه نمونه وه. مابه خوار تل ځوروه، خو ده به راسره نه يوازې ملګري کوله بلکې د زده کړو په موده کې به يې راسره ښې مرستې هم کولې، دا کار زموږ د ښې او قوي ملګرتيا لامل شو.

ده سره زما مينه او پام پورتنی موضوع پورې نه و، ما چې ډايوو شرکت جوړ کړ، همکارۍ لپاره د ښه او باوري کس موندل راته سخت وو، خو دی سمدستي چمتو شو او دا مسئوليت يې ومانه، زه نه پوهېږم له هغه انسانه په کومه خوله او ټکو مننه وکړم، چې ما دده په شان يوه تکړه انسان ته اړتيا لرله او ده مې ملا راوتړله.

د ليسې يوه مدير نه هم ډېر اغېزمن يم، دا ښاغلی (ري سوک – هي) نومېده چې وروسته بيا د (چانګ آنګ) پوهنتون رئيس شو. دا ښاغلی

اوس د ډايوو بنسټ د عامل مديره هئيت مشر دی، دا ښاغلی د ښوونځي په لومړيو کلونو کې زموږ استاد و، دا چې زه نوی له کوځې صنف ته راغلی وم، نو ډېر ورانی به مې کاوه.

زه نه پوهېدم چې دې استاد زما په اړه څه فکر کاوه، خو د درس په لومړي نيم کال کې يې د صنف څارونکی او دويم نيم کال کې يې کفتان کړم. کفتانی سره مې چلند بدل شو، زه پوهېدم چې نورو ته بايد زه يو نمونه متعلم وسم، گڼي تر دې وخته مې د پورته صنفونو کفتانانو ته هېڅ سلام او درناوی هم نه کاوه. دا چې ناڅاپه زه خپله کفتان شوم؛ نو هر سهار به ښايسته شيبه اينې ته ولاړ وم، ما به ليدل چې د ښوونځي دريشي مې په ځان برابره او مناسبه ده او هغه د چا خبره چک راسره لگوي که نه؟ دا کار زما د اصلاح پيلامه شوه، ورو ورو درس کې هم ښه شوم، همدې استاد راته وويل چې خپلو نورو ټولگيوالو (لي – وو- بوک) په پلونو روان شم او درس مې قوي کړم.

ښاغلی (ري- سوک – هی) زما په ژوند کې لومړی شخص و چې زما په شخصيت کې پټې وړتياوې يې وپېژندې او له دې امله زه دی په خپل ژوند کې عطفي ټکی بولم. ده ماته يوه رسمي پېژندگلوي راکړه او ما هم ډېره هڅه وکړه چې پور يې بېرته ورپرې کړم. ما خپل چلند کې بدلون راوړ چې ورته وښيم تشخيص يې ناسم نه و، هېڅوک دا نه غواړي چې پر يوه چا باور وکړي او هغه يې نهيلی کړي.

دلته غواړم د خبرو مخه هغو کوريايي مېندو، پلورنو او ښوونکو ته واړوم، چې د خپلو بچو او شاگردانو برخليک ته اندېښمن دي، زه ورسره ځينې خبرې شريکوم.

Scanned by CamScanner

ټول زده‌کوونکي او محصلين ښه شاګردان نه دي، ځيني يې بيا يوازې ستونزې او سرخوږي جوړوي. دا ډله خلک ډېر پام او مهربانۍ ته اړتيا لري، د دوی رټل او وهل هېڅ ګټه نه لري، تاسې بايد د هغوی وړتياوې درک کړئ او داسې لارې ته يې برابر کړئ چې دا وړتياوې يې راڅرګندې شي او شخصيت يې وځلېږي. (انسټاين) ښوونځي کې ناکام و او (اډيسن) ترې شړل شوی و. که زما د ليسې استاد (ري – سوک – هي) نه وی، زه نه پوهېږم چې نن به چرته او په څه حال وی؟ دا خبره ډېره کېږي چې زموږ په هيواد کې ښوونکي ډېر خو معلمين کم دي، زه په دې وياړم چې په واقعي معنا يو معلم مې درلود، نن دا وړتيا لرم چې د هغه د زحمتونو بدل ورکړم او متقابلاً يې په خدمت کې شم. ستاسې د ژوند په لاره ولاړ خلک مو په برخليک او راتلونکي کې ښه ونډه لرلای شي، د ځوانۍ ملګري مو د ژوند لوری بدلولای شي، زه اوس دې ته انديښمن چې د کوريا او نړۍ ځوانان د چا په لاره روان دي او څوک د زړه له تله مني.

ژوند کې بايد ډېرو خلکو سره مخ او په ډېرو لارو لاړ شئ. بختور شئ، داسې خلکو سره مخ شئ چې ارزښت او وړتيا يې ولري، تاسې يې په علم او عقايدو باور وکړئ او له تجربو يې ګټه واخلئ. ژوند د الګوګانو د تشخيص او قضاوت په زړه پورې لار ده، وګورئ په مېز يا د کوټې په ديوال مو د چا انځور ځړېدلی دی؟ بيا ځان سره فکر وکړئ چې آيا ددې خلکو کړه وړه د الګو کېدو ارزښت لري که نه؟

Scanned by CamScanner

# [۸]

## ۹ تر ۵ - ۵ تر ۹

نړۍ له قیمتي شیانو ډکه ده چې کور، ځمکه، مالونه، کار او نور پکې راځي، خو په ټولو کې ارزښتمن شی وخت دی. وخت لکه رواني اوبه بېرته نه راګرځي. د وخت تېرېده هر څه بدلوي. وخت نه ساتلی او نه راګرځولای شو. له وخت ستر جنګیالی نشته، دا وروستی ګټونکی (فاتح) دی.

(اوس) یوه شېبه ده او چې واوښته اوس په تېر بدلېږي. تېرېدل او راتلل وخت زېږوي او همدا حرکت وخت دومره قیمتي کوي. تاسې هر وخت کولای شئ چې نوی کار پیل یا پیسې وګټئ، خو وخت هېڅکله نه شئ تسخیرولای، د ځوانانو یوه ستونزه دا ده چې د وخت قیمت ډېر زر هېروي. ځواني هغه موده ده چې تاسې پکې مخکې ډېر وخت لرئ؛ نو ځکه درته د لږ وخت ضایع کول چنداني زیان نه ښکاري، خو تل داسې نه وي. وخت داسې دی لکه له لیندې وتلی غشی، له لیندې وتی غشی نه راګرځي، زه په همدې ټینګار کوم چې وخت نه راګرځي،

Scanned by CamScanner

بل دليل يې دا دی چې له لينديې غشې ووځي؛ نو ډېر تېز مزل کوي او په همدې مزل د سترګو په رپ کې پناه شي.

څو کاله مخکې ډايوو شرکت يو نوی شعار جوړ کړ، دې شعار د شرکت حقيقي روحيه ښودله، ليک يې داسې و چې: (موږ په دې شرکت کې له درېيو شيانو دريغ نه لرو: وخت، سترېا او هڅه)، دې شعار کې موږ رښتيا هم د وخت ارزښت په ګوته کړی دی.

د هر سړي بريا او ماته په دې پورې اړه لري چې له وخت څنګه ګټه اخلي، هر سړی کولای شي چې په يو کار کې نسبي بريا ترلاسه کړي، خو که څوک له وخته ژوره ګټه واخلي د کار کميت او کيفيت به يې څو ځله ښه وي.

د وخت مصرف د پېسو تر مصرفه ډېر سخت دی، ځکه پيسې انسان هر وخت ګټلای شي، خو وخت نه راګرځي. اورېدلي به مو وي چې ځينې کسان ډېر وخت لري او حتی سر ټکوي چې څه پکې وکړي، داسې مسايل که په ځانګړي ډول ځوانان څرګند کړي؛ نو ډېره سخته ده.

کارونو ته مې ټوله ورځ کفايت نه کوي، ځينې وخت به مې ويل چې کاشکې شپه او ورځ د ۲۴ ساعتونو پر ځای ۳۰ يا ۴۰ ساعته وی، ځکه ماته وخت ډېر قيمتي دی. ځينې وخت د کور – دفتر په لاره مخ په ځانپاک وچوم او ځينې وخت خو ان سهارنۍ هم په موټر کې خورم، زما ډېر وخت په بهرنيو سفرونو تېرېږي او سفرونه مې دومره ډېر دي که د نړيوالو ريکارډونو په کتاب کې د سفر برخه وی؛ نو ډاډه يم چې نوم به مې د لست په سر کې راتلای.

زه د الوتکو بدلولو سره حساسيت لرم، ځکه د وخت ضايع کولو وېزاره يم، په تېروتنه ناسمه الوتکه کې کېناستل عموماً وخت ضايع کوي او

یوه یا دوه بسته ورځې له منځه ځي، که امکان یې وي زیاتره د شپې پروازونو کې ځم، ځکه دې سره وخت سپموم. د پرواز په موده کې ښه خوب او ارام کوم او سبانیو کاري کتنو ته ښه چمتو کېږم، ځینې وخت په پرواز کې کتاب لولم یا له بېلابېلو څانګو را استول شوي راپورونه ارزوم.

جاپان راته نږدې دی او د اړتیا پر وخت ډېر ورځم، لکه څنګه یې چې ګورئ ټول سفرونه د منظم پلان له مخې کوم. څوک چې بې هدفه بهرني سفرونه کوي زه ورته حېرانېږم، خو تر دې بده یې لا دا چې خلک خپل وخت بې ګټې تېر کړي. موږ په ډایوو شرکت کې د ځانګړي رسم و رواج تابع یو او زیاتره اداري ناستې په رسمي اداري وخت کې نه کوو، زموږ ناستې یا جلسې له رسمي اداري وخته مخکې یا وروسته وي. دې سره په اسانه کولای شو چې د څانګو له مشرانو سره په ۷ بجو کېنو، زه خبر شوی یم چې زموږ ډایوو شرکت کارکوونکي دغه کار له شوخۍ سهارنۍ دعا بولي.

دا په دې معنا ده چې موږ په (ډایوو) کې وخت ته د ارزښتمن توکي په نظر ګورو او درناوی یې کوو. د ډایوو په ننني بریا کې یو موثر لامل د وخت درناوی او سمه کارونه ده. که څه هم د ډایوو فعالیتونه د نورو مختلطو شرکتونو په پرتله څنډني پیل شوي، خو بیا هم دوو عاملو ځوانۍ او وخت ددې شرکت په بریا کې لویه ونډه لرلې ده. د ځوانۍ له لحاظه موږ پنځوونکي وو او په نړۍ کې د خپلو فعالیتونو پراختیا ته مو په قاطع نظر کتل، بلاخره شرکت د پام وړ پرمختګ وکړ، ځکه موږ ټول د وخت په ارزښت پوهېدلي وو او په عین وخت کې د شرکت ودې او بریا لپاره هر ډول قربانۍ ته تیار وو. په وروستیو ۲۲ کلونو کې زموږ د

Scanned by CamScanner

شرکت بريا او پرمختګ ته خلکو د يوې معجزې په سترګه کتل، ځينې يې بيا په دې چټک پرمختګ شکمن وو، خو دې خلکو ته بايد ووايم چې زموږ پرمختګ يوازې په ۲۲ کلنه نېټه کې مه حسابوئ، ځکه موږ په دې ۲۲ کلونو کې د نورو شرکتونو په پرتله دوه چنده کار کړی، نور خلک به د سهار له ۹ د ماښام تر ۵ بجو کار کوي، خو دې شرکت اپوټه د سهار له ۵ د شپې تر ۹ بجو کار کړی دی.

د ډايوو د پيل لومړۍ ورځې مې يادې دي چې د شپې له ۱۲ د سهار تر ۴ بجو به ګرځبنديز وو. هغه وخت به موږ عموماً له اداري وخت وروسته ناستې کولې چې زياتره وخت به يې د شپې تر ناوخته دوام کاوه او موږ به له مجبوريته په يوه نږدې مېلمستون کې شپه کوله، موږ ډېر زيار ويستی او د نورو شرکتونو دوه چنده کار مو کړی، نو موږ چې په ۲۲ کالو کې څومره کار کړی او برياوې مو ترلاسه کړي، په قوي احتمال ويلی شم چې د نورو شرکتونو له ۴۴ کلن کار او پرمختګ سره برابر دی. ډايوو شرکت بايد دومره پرمختګ کړی وی البته که يې نه کاوه، لامل به يې دا وی چې د کار او فعاليت بڼه به يې ناسمه وه. يوه شواروز (شپه او ورځ) ټولو ته ۲۴ ساعته دی، خو توپير دا دی چې څوک ترې څنګه کار او ګټه اخلي. يو کس په يو شواروز کې د نورو په پرتله درې چنده کار او مطالعه وکړي، په دې معنا ده چې له نورو درې ورځې مخکې دی، نو مهمه موضوع د فعاليت بڼه، له وخت کافي ګټه او په ژوند د هغه مثبت اغېز دی.

له وخته په هوښيارۍ ګټه واخلئ، هره شېبه يوازې يو وار راځي، ځکه نو ډېر ارزښت لري. تر ټولو مهمه دا ده چې ځوانۍ کې وخت ډېر قيمتي وي، حتی ويلی شم چې د بوډاتوب له وخته درې يا څلور چنده

قیمتي وي، په ځوانۍ کې له وخته ګټه اخیستنه ستاسې د ژوند تګلاره او معیار ټاکي.

(سنکا[٤]) یو وار له وخته د ګټې اخیستنې بڼه په دې صورت سنجش او ارزیابي کړه، دی په دې نظر و چې د انسان ژوند په کافي اندازه اوږد دی. که انسان له خپل وخته سمه ګټه واخلي عمر به یې دومره اوږد وي چې دی پکې لویې لاسته راوړنې لرلای شي، خو که د انسان عمر عبث تېر شي او هېڅ موخه ونه لري، د څو ورځو په تېرېدو به پوه شي چې د ژوند بدلولو فرصتونه یې له لاسه وتي دي. سنکا په دې نظر و چې د انسان ژوند لنډ نه دی، خو موږ یې په ضایع کولو لنډوو. انسان په هڅو او هلو ځلو ډېرې پیسې ګټلای شي، خو که د ساتنې لپاره یې کافي وخت ونه لري، ښايي په څو شېبو کې یې له لاسه ورکړي. بل کس ښايي لږې پیسې ولري، خو که پام ورته وکړي او دا لږې پیسې تر ډېره وخته وساتي ښايي وخت یې ارزښت ورزیات کړي، دغه اصل د وخت په اړه هم سم دی.

په هرصورت د انسان ژوند له دې ډېر ارزښتمن دی چې عبث تېر شي، تاسې نه د تللو شېبو راګرځولو ځواک لرئ او نه خپل ژوند بېرته له سره کولای شئ.

ځوانۍ کې باید پوه شئ چې له وخت او فرصته څه ډول ګټه واخلئ. ستاسې د ځوانۍ یو ساعت وخت ښايي په دې عمر ډېر اغېز ولري چې زه ورته را رسېدلی یم. که چېرې د کوریا دې شعر ته وګورئ چې وايي:

خوښ اوسئ خوښ اوسئ
چې ځوان یئ خوښ اوسئ

[٤] لوسیوس آنائیوس سنکا ( ٦٥-۴ ق.م)، رومي فیلسوف او (رواقیان) مکتب پیرو او د نیرو ښوونکی و.

Scanned by CamScanner

بيا چې بوډاګان شولئ
دا خوښي به نه مومئ
نو زما عمر ته چې رارسئ ډېر سر به وټکوئ.

په ډايوو کې زموږ تجربې ته وګورئ، په ځوانۍ کې خپل راتلونکي ته پانګونه وکړئ او خپل وخت په ډېره هوښيارۍ او ځيرکتيا وکاروئ.

مخکې مو هم وويل چې ژوند له قيمتي شيانو ډک دی، خو وخت په ټولو کې ارزښتمن دی.

Scanned by CamScanner

# [۹]

## زه یوازې یوه ښځه یم

بازار سوړ دی او د باسواده خلکو د جذب تقاضا کمه شوې ده، دې کار د پوهنتونو په فارغانو کې بې کاري ډېره کړې، له دې امله ځينو فارغانو بېرته د پوهنتونونو لاره خپله کړه چې په جلا رشتو کې زده کړې وکړي. دا مسله په ښځينه فارغانو کې خطرناکه ده، څه وخت مخکې له حقوقو يوې فارغې ښځې ځان وژلی و، ځکه له ډېر وخت او هلو ځلو سره يې بيا هم کار نه و موندلی، دې پيښې په خلکو اغېز وکړ.

ډېر خلک په دې باور دي چې نړۍ کې له بېلابېلو اړخونو چټک بدلونونه راغلي، خو ښځو سره تبعيض او تعصب اوس هم هماغسې ژور دی. په ننني ټولنه کې ښځې د زده کړو له پلوه سړو سره مساوي دي، خو بيا هم تر فارغېدو وروسته له خپلو وړتياوو او مسلکي پوهې سمه ګټه نه شي اخيستی، دا موضوع د فرد تر څنګ ټولنې ته هم زيان لري.

په دې خاطر ډېرو يو ځل بيا د ښځو ګومارنې (استخدام) ته ځانګړی پام وکړ، البته زموږ اداره پخوا هم هغه لومړنۍ اداره وه چې د واده شويو

باسواده مېرمنو گومارنې ته يې پام کړی و. ځينې حتی د ځانگو تر رياسته ورسېدې او ۱۲ مېرمنې په ساختماني پروژې کې د کار لپاره ليبيا ته واستول شوې. دې ته په کتو ځينې مواردو کې دا ښه گومان کيدای شي چې کوريا کې نسبي بريا يو څه وده کړې ده.

زه چې ځوانان وايم د ښځې او نر تر منځ توپير ته پکې قايل نه يم، خو اوس مې زړه غواړي چې د کوريا ځوانې ښځې مخاطبې کړم.

ښځې او نر دواړه گډې ځانگړنې لري. ښځې په تاريخ کې له نر سره اوږه په اوږه د نړۍ د لوړ ژورو مسئوليت په غاړه اخيستی او په ټولنه کې سړيو سره له ورته (لږ تر لږه تيوريو کې) فرصتونو برخمنې شوې دي.

البته له بده مرغه کوريايي ټولنه داسې نه ده. نن په څو دليله کوريايي ټولنه کې د ښځې ونډه محدوده پاتې او دوی له خپلو رښتينو نوښتونو، وړتياوو او قوت نه سمه گټه نه ده اخيستې. لومړی دليل چې زما فکر ته راځي زاړه افکار او رواجونه دي، ددې له مخې خاوند (مېړه) د کورنۍ بهرنۍ غړی گڼل کېږي، يعنې دا هغه څوک دی چې له کوره بهر فعاليت کوي، اېوته ښځه بيا د کورنۍ داخلي غړې گڼل کېږي، يعنې دوی يوازې په کور دننه کار يا فعاليت کوي، نو په دې خاطر د کوريا په سنتي ټولنه کې ښځه بايد په کور دننه وي. ددې ترڅنگ کوريايي ټولنه کې پلارسري حاکمه ده، ښځو يې په ټولنيزو چارو او مسئوليتونو کې د مداخلې مناسبه فضا نه ده ترلاسه کړې، دا موضوع د کار د تنزل لامل شوې هم ده.

خو زه فکر کوم کوريايي ټولنه کې پلارسري په ټولنيزو مسئوليتونو کې د مېرمنو د کمېدا اصلي او يوازينی لامل نه دی، پردې سربېره ځينې نور

مهم عوامل هم شته او زه په دې هيله يم چې کوريايي مېرمنې به ورته پام وکړي.

البته د کوريايي ښځو ستونزې د ټولنې په ټوليزو ځانګړنو پورې اړه لري. خو زه په دې نظر يم چې کوريايي ښځې لا تراوسه نرانو غوندې مسئوليت اخيستو ته چمتو نه دي. ډېرې ښځې په لاشعوري ډول داسې فکر کوي چې له فراغت وروسته به دوه درې کاله کار او بيا واده کوي، دوی فکر کوي چې وروستی تمځای يې واده دی، خو کار ددې لارې په منځ کې لنډه دمه ده، ځکه نو په خپل کار او مسلک کې د پرمختګ لپاره چندانې هڅه نه کوي.

زه هيله لرم چې تاسې به ددې بحث د دوام په اړه فکر وکړئ. د ګومارنې په معامله کې شپږ مياشتې يوازې په دې تېرېږي چې کارمند له خپل کار سره بلد شي، يعنې د کار شپږ لومړۍ مياشتې د هر کار روزنېزه دوره بللی شو. معمولاً چې يو څوک نوی وګومارل شي تر بشپړ مسئوليت اخيستو پرې دوه کاله اوړي. په همدې دوو کالو کې ښځې ته د کار پرېښودو او کورنۍ جوړولو فکر پيدا کېږي؛ نو موږ دا تمه نه شو کولای چې يو اداره دې ګني ددې فکر لرونکي کارمند ته ډېر زړه ښه کړي.

۱۹۸۴ کال کې ډايوو شرکت د ښځينو فارغانو ګومارنه پيل کړه او مرکې يې ما خپله اخيستې. مرکه کې پوښتنه وشوه چې له واده وروسته کار ته زړه ښه کوئ؟ ۹۰ سلنه مېرمنو مثبت ځواب راکړ، خو پنځه کاله وروسته له ۳۰۰ ښځو يوازې ۱۵۰ پاتې وې.

البته زما په نظر دا شمېر هم نسبي ودې ښکارندويي کوي. موږ په ۱۹۷۲ او ۱۹۷۷ کلونو کې د ښځو ګومارنې په برخه کې ځينې تجربې وکړې،

Scanned by CamScanner

په هغه وخت کې ښځو عموماً داسې فکر کاوه چې تر واده به کار کوي او له واده وروسته به دنده پرېږدي، دې موضوع ته په کتو مونږ له دې وروسته د ښځو گومارنه بېخي بنده کړه. خو وروستیو بدلونونو ته په کتو د یوې صنعتي ادارې د مشر په توگه تاسې ته څو خبرې لرم، ځکه زه په دې باور یم چې تاسې هم نرانو غوندې ددې ټولنې د ودې او پرمختگ مسئولیت لرئ.

تر ټولو دمخه دا یاد ساتئ چې یوازې تاسې د خپل راتلونکي برخلیک ټاکونکې یئ. په دې وروستیو کې کوریایي مېرمنې دوی سره د تعصب پرضد غږ پورته کوي، خو زه وایم چې ښځې خپله دا تعصب او توپیر غواړي، ځکه دوی وایي چې (زه یوازې یوه ښځه یم ) او (ښځې نه د داسې یوه کار تمه ځنگه کیدای) شي، د دوی دا خبرې او شعارونه په خلکو کې دا فکر پیدا کوي چې ښځې گني خپله نرانو سره د مساوي حقونو چنداني تمایل نه لري.

بله مسله د ژوند ملگري ته د خاوند کلیمې کارول دي، خاوند؟ ستاسې ژوند ملگری ځنگه ستاسې خاوند کیدای شي؟ واده تاسې ته څه مفهوم لري؟ یا واده په دې معنا دی چې یو مناسب مېړه پیدا کړئ، په هغه متکي اوسئ او منښته یې وکړئ؟ یعنې غواړئ چې مجبورې وینځې ووسئ؟ واده د ورته مسئولیتونو او ارزښتونو په لرلو سره د دوو کسانو یووالی دی؛ نو دا واده دا خپلوي یا اړیکه له خپل خاوند او وینځې سره ځنگه تشبیه کیدای شي.

د کوریایي ټولنې زیاتره ښځې اوس هم د داسې چا په لټه کې دي چې منښته (فرمانبرداري) یې وکړي، بدتره یې دا چې نجونې د خپلو زده کړو په ځلور کلنه موده کې یوازې د مېړه (خاوند) په لټه وي. زه وایم دا

Scanned by CamScanner

به ډېر وخت ونیسي چې یوه نجلۍ دې زده کړې د خاوند کولو پر ځای د خپل راتلونکي جوړولو لپاره وکړي. تاسې څه وایئ چې دا فکر او تمایلات په کوریایي ټولنه کې د ښځې او نر حقونه سره مساوي کولای شي؟

دا یاد ساتئ چې تاسې خپله خپلې خاوندانې یئ. له ښځې توب او سړیتوب ورهاخو موږ ټول د ځینو ګډو ځانګړنو لرونکي یو، ددې ځانګړنو اصل او اساس دا دی چې موږ ټول د خپل ژوند او برخلیک خاوندان یو. تاسې ځانله د خپل ځان حاکم او خاوند یئ. خاوند، مور پلار او بچي مو ستاسې حاکمان نه دي. البته ددې خبرو کول اسانه خو عملي کول سخت وي. کاریګر هغه څه کوي چې بادار یې ورته وایي، په دې توګه ژوند لږ اسان وي، خو که څوک خپله خپل بادار یا خاوند شي؛ نو خپله به کارونو پسې ګرځي او بادار یا خاوند مسئولیتونه دده په خپله غاړه وي.

زه له ځوانو کوریایي ښځو غواړم چې د خپلې ودې او پرمختګ لپاره دې کار او مسلک ته دوام ورکړي. تل فکر وکړئ چې خاوند یا بادار یئ، ځکه دا طبیعي فکر دی. پاتې بحث کې تاسې ټولې نه راځئ، خو ځینې ښځې چې څنګه له زده کړو فارغې شي، څه یې چې زده کړي وي بېرته یې هېر کړي. ځکه دوی ځان خپل نوي بادار (خاوند) ته سپاري، په دې توګه هغه هر څه له لاسه ورکوي چې زده کړي یا یې شخصیت ودې کړې وي. تاسې څنګه ځان داسې بې ګټې او بې ارزښته کولای شئ؟

د هر سړي شخصي وده او پرمختګ دده په زیار او هلو ځلو پورې اړه لري، خو مهمه دا ده چې تاسې خپلو موخو او روښانه راتلونکي ته

Scanned by CamScanner

څنګه رسېدای شئ؟ څوک چې ټولنه دقيقه او په جدي توګه مطالعه کوي، د هغه وده او پرمختګ هېڅ حد او پوله نه پېژني.

نو له تاسې کوريايي ځوانانو غواړم چې تر خپله وسه پرمختګ وکړئ، که خپل چاپېريال وڅارئ وبه ګورئ چې ځينو خلکو د پام وړ پرمختګونه کړي او ځينې نور د ژوند له صحنې وتي دي. دا دواړه مسلې يو ساده ځواب لري. يو انسان که پرون ورک او عادي وو، نن يې د خپل پرمختګ لپاره جدي هڅې وکړې؛ نو سبا به يې هرومرو ښه او روښانه وي. خو که نننی مشهور انسان يوازې خپلو تېرو وياړونو ته کېني او له ټولو هلو ځلو لاس واخلي؛ نو په نږدې راتلونکي کې به هېڅ او ورک انسان شي.

مهمه موضوع ستاسې د ښځينه شخصيت وده ده، يعنې دا چې له زده کړو او واده وروسته د خپل شخصيت وده او پرمختګ مه ودروئ، خپل شخصيت او مطالعې ته ارزښت ورکړئ او پرلپسې د نويو پديدو او امکاناتو په لټه شئ. دا د ښايسته ښځو ځانګړنه ده، په رښتيا ښايسته ښځې هغو دي چې د خپل پرمختګ لپاره هلې ځلې کوي. په رښتيا ښايسته ښځې او سړي هغو دي چې له ژونده خوند اخلي او تر خپلې وسې د ودې او پرمختګ هڅه وکړي.

زه غواړم هغو ښځو سره څو نورې خبرې هم شريکې کړم چې غواړي له خپلو پټو وړتياوو او قوتونو په موثره توګه کار واخلي. تاسې بايد خپل کار ته په مسلکي ليد وګورئ، خپل مسئوليتونه په انفعالي توګه مه منئ او يوازې هغه کار مه کوه چې له تاسې يې تمه کېږئ. تراوسه کوريايي ښځو خپل کار او مسلک سره همداسې چلند کړی او په همدې خاطر ډېرې ادارې د دوی ګومارلو ته چندانې زړه نه ښه کوي.

Scanned by CamScanner

که غواړئ چې د سړیو غونډې چلند درسره وشي؛ نو باید فعال کار وکړئ او مسئولیتونه ومنئ، لږ تر لږه د یوه نر په کچه ښه کار باید وکړی شئ، که تاسې خپل کار او مسلک سره داسې چلند وکړئ ادارې مو له ګومارنې سره هېڅ ډول مخالفت نه کوي، دا کار په ټولنه کې ستاسې پر ضد حاکم ټولنیز سنتي تعصبونه له منځه وړلای شي.

په ملګرو ملتونو او حتی نور آسیایي ملتونو کې ښځې د ځانګو تر ریاستونو، د شرکت عامل مدیریت او مدیره هئیت مشرۍ ته رسېدلې دي. داسې خلک د خپلو مسلکي تجربو او پراخه وړتیاوو پر مټ خپله ټولنه کې پراخه نفود پیدا کولای شي، زه داسې هېڅ دلیل نه وینم چې له مخې یې دې د کوریایي مېرمنو وړتیا تر دې مېرمنو کمه وي، اصلي موضوع کار او مسلک سره د کوریایي مېرمنو چلند دی، ځکه زموږ مېرمنې کار یا دندې ته د واده د یوې لارې یا دمې په سترګه ګوري. که تاسې هم داسې فکر کوئ او خپل کار ته په غیرفعال ډول ادامه ورکوئ؛ نو تاسې خپله ځان سره د شته تعصب او تاوتریخوالی لامل یئ.

د ځان واکمنې اوسئ، تر خپله وسه هڅه وکړئ چې وړتیاوو او مهارتونو ته مو وده ورکړئ، د مسلکي خبرتیاوو په لټه کې اوسئ، ځکه پلارسرې ټولنه کې ځان سره د تعصب او تاوتریخوالي ختمولو یوازینۍ لار همدا ده. که داسې وکړئ د ټولنې متعصبو سړو او تېرو نسلونو ته به دا ثابته کړئ چې د کوریایي ښځو په اړه د دوی فکر ناسم و.

# [۱۰]

## د مرغانو پنجره

دا مې ویلي او وایم یې: نن چې څه لرم د کوریا د جګړې له برکته دي. جګړې وې، بدبختۍ وې او زه ددې کوریایي جګړو له برکته په ماشوم عمر کې د ژوند له سختو سره مخ شوم، بیا چې رازلمکی شوم زده کړې او کورنۍ ساتل هم دواړه زما مسئولیت شو، دې کار متوجې کړم چې د ژوند له ناکامیو، خفګانونو او بلاګانو سره د مبارزې لپاره خپلې وړتیاوې ځنګه راټولې او تقویه کړم.

ژوند دومره اسان هم نه دی، ددې لپاره درته د بودا له لومړنیو تعلیماتو یو راوړم، ددې تعلیماتو له مخې دنیوی ژوند سختي، کړاو او نړۍ د ستونزو او خفګانونو سیند دی. ژوند نه صیقل شوی وجود او نه د سرو ګلو توشک دی، حتی که ژوند د سرو ګلو څادر نغاړلی وي، بیا هم دا مه هېروئ چې د سرو ګلو لاندې تېره اغزي هم شته.

که د ګل له اغزي وېرېږئ بریا نه مومئ، بریا د هغوی ده چې د ګل په ډنډر له ولاړو اغزو نه وېرېږي. د ننیو تقریباً ټولو بریالیو خلکو دا بریا یې د پرونیو سختو او کړاونو ثمره ده، دوی پرونۍ شپه د ګلونو په بستر

نه ده تېره کړې؛ نو دا خبره بې درېغه کوم د کوریا پرونۍ جګړې له ما ننني انسان جوړ کړی دی. دې ته پام کوئ چې سختي په ژوند کې مثبت اړخونه پیدا کوي، زه په دې موضوع ډېر نه پوهېږم خو حقیقت دا دی چې په ژوند کې ښې شیبې د ستونزو او کړاونو له منځه راوتې دي.

ژوند چې ښه روان وي، د تولنې خلک خپل کار او پرمختګ ته دوام ورکوي، که تاسې په ورته حالاتو کې نورو غوندې پرمختګ نشي کولای، په ځان کې باید د خپل وروسته پاتې والي دلیل ولټوئ. مثلاً د پوهنتون یو محصل فرض کړئ چې په خپله وړتیا ډاډ او باور لري، خو د پوهنتون په لومړیو کلونو کې چندان زیار نه باسي او په اوسط نمرو قناعت کوي، البته ځان سره وایي چې په وروستي کال به خپله پوره هڅه کوي، دی فکر کوي چې که وروستي کال کې هڅه وکړي؛ نو په ښه درجه به پوهنتون نه فارغ شي، خو تاسې څه فکر کوئ چې عملاً به دا کار وشي؟

دا په یاد ساتئ، کوم محصلین چې په لومړي کال ډېر درس وایي په وروستي کال به هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي. اوس که نوموړی محصل په اخر کال کې د نورو کلونو په پرتله دوه درې چنده هڅه وکړي، بیا هم د پخوا په نسبت ښه نمرې نه شي اخیستی، که ډېره زیاته هڅه هم وکړي، ښایي هماغه خپله منځنۍ فیصدي وساتي، تر دې یې نه شي زیاتولای. تاسې لپاره د هڅو مناسب وخت هغه دی چې تولو له هلو ځلو لاس اخیستی او له حالاتو نهیلي شوي وي، دې وخت کې بریا د هغه چا ده چې جدي هڅې یې کړې وي او په خپلو تولو پټو وړتیاوو خبر وي. تاسې باید پوه شئ چې د خپل ژوند بحران ځنګه په مثبتو بریاوو واړوئ او ګټه ترې واخلئ. موږ د بحران ځرګندولو دوه

کليمې کاروو، لومړۍ يې Risk ده او دويمه يې Chance يا فرصت ده. يعنې د خطر او فرصت کليمې څنګ په څنګ راځي او مثبتې او منفي خواوې لري. دا په دې معنا ده چې بحران ښايي مثبت او منفي دواړه خواوې ولري.

بدګومانه انسان به د (ريسک - چانس) کليمه په منفي معنا اخلي او نهيلی کېږي به، خو ښه ګومان لرونکی انسان به خپل حالت په ډاډ او هيله مندۍ ارزوي، دا انسان به بحران کې شته فرصتونه پيدا کوي او بلاخره به يې د بريا لامل کېږي. البته دې کس ته د بريا او ماتې مساوي نسبت شته، خو زه فکر کوم ښه لاره دا ده چې حالاتو سره مبارزه وشي، وېره ترې احساس نه شي او انسان ورته ځان تسليم نه کړي.

تاسې ځوانان يئ، موخو ته د رسېدو هڅې وکړئ، کله کله به ماتې هم خورئ، که تل هغه کار وکړئ چې تمه يې درنه کېږي؛ نو اندېښنې به مو کمې وي، خو هېڅکله به لوړو برياوو او پرمختګونو ته لاسرسی پيدا نه کړئ.

په اوسنيو ځوانانو کې مې دا خبره خوري، چې دوی ضعيف دي، لټي يې خوښېږي، استقلاليت پکې کم دی او د پلټنې حس هم چندانې نه لري. زه فکر کوم په اوسنيو ځوانانو کې رايجه ستونزه لټي او اسانتيا خوښول دي.

البته دا ډېر مسايل ستاسې د مور او پلار په بې دريغه ملاتړ پورې هم اړه لري، داسې مور او پلار نشته چې اولاد ورته ګران نه وي. ټول هيله لري چې بچي يې ښه کالي ولري، ښه ډوډۍ وخوري او ژوند يې له برياوو ډک وي، خو تر ټولو هوښيار يې هغه دي چې د خپلو بچو راتلونکي ته ځانګړې پام او ورسره مينه لري. دوی په همدې دليل ځان اړ ګڼي

Scanned by CamScanner

چې ځينې روزنيز ټکي مراعت کړي. يو ټکی بچو ته د پاملرنې ځرنګوالی او کچه معلومول دي. هر بچي ته چې مور او پلار ډېره مينه ورکړي، زړه يې نری کېږي، دا کار له يوې خوا دوی له اروايي او شخصيتي پلوه ضعيفه کوي او له بلې خوا يې د ژوند له ستونزو سره د مبارزې قوت راکموي.

مور و پلار د بچو رټل نه خوښوي، ننني کورنيو کې بچي له درېيو څلورو ډېر نه وي؛ نو اوس ژوند هم د پخوا په پرتله ښه او اسانه شوی دی. مور و پلار هم بچو سره د مينې ښودنې نوې لارې چارې پيدا کوي. که تاسې مور يا پلار نه يئ، په هغه احساس نه پوهېږئ چې مور او پلار يې د اولاد رټلو په وخت لري.

خو مينه بايد داسې وشي چې مور او پلار د بچي راتلونکی د دوی د رټلو تر دردده لوړ وګڼي، په هر صورت ژوند کې په هر چا داسې وخت راځي چې په خپلو پښو بايد ودرېږي، ځکه مور و پلار تل، له هر چا او تولنې د دوی دفاع نه شي کولای.

د کوريا په ننني ټولنه کې چې نوي کسان په کار ګومارل کېږي له ۱۰– ۲۰ سلنه هغوی يې په لومړيو شپږو مياشتو کې کار پرېږدي، ولې؟ ځکه چې موسسو يا ادارو کې ورته کار ډېر سخت ښکاري. له دې سختۍ د خلاصون لپاره يا بېرته د دوکتورا اخيستو لپاره په پوهنتون ورننوځي او يا په بهرنيو هيوادونو ته د زده کړو لپاره سفر کوي. زه وايم چې دا چاره دې زموږ ټولنه کې ختمه شي. زه ځينې وخت د هغو ښوونيزو ادارو په معيار فکر کوم چې داسې خلکو ته داخله ورکوي. هغه خلک چې کاري چاپېريال کې له شته فشاره پوهنتون ته تښتي په اصل کې ښوونيز نظام ته سپکاوی کوي.

Scanned by CamScanner

څه وخت مخکې ناڅاپه د یوه مشهور پوهنتون د بازارموندنې پوهنځي له وروستي کال محصل سره کېناستم. ظاهراً ښه منظم و او ځیرک ځوان ښکارېده. زموږ د خبرو اصلي موضوع له فراغت وروسته د محصل پلان وه.

ما ترې وپوښتل چې له فراغت وروسته کار کوې؟ دا چې ځواب یې مثبت و ترې ومې غوښتل چې ډایوو شرکت کې کار وکړي. ده وویل ډاییوو شرکت یې نه خوښېږي، ما ترې دلیل وپوښت راته یې وویل: ډایو شرکت له خلکو ډېر کار اخلي. بیا مې وپوښت، ښه چېرته کار کول غواړې؟ ویل یې دا به ښه وي چې په یوه بهرني شرکت کې کار وکړم، ځکه کارونه یې لږ او معاشونه یې ډېر دي.

لږه شیبه وروسته مو خبرې ختمې شوې، ځکه په دې مې نه شو ملامتولی چې ولې اسانه کار او ډېر معاش غواړي، خو وروستیو خبرو یې سخت خفه کړم، ځکه زیاته یې کړه چې، که څلور پنځو کالو کې یې لږې پیسې جمع کړې دا او چنغله (کوژده) یې یوه قهوه خانه جوړوي چې پاتې ژوند یې ښه ارام تېر شي. ښه د قهوه خانې جوړول کومه بده خبره نه ده، خو دا سړی د هیواد په یوه ښه علمي مرکز کې محصل و او داسې یو مسلک یې ټاکه چې یوازې دده ژوند پکې ارام تېرېده. دې موضوع زه په دې فکر کړم چې آیا زموږ نور محصلین هم د خپل راتلونکي په اړه همداسې فکر کوي؟

خوبولې مرغۍ ته په پنجره کې ژوند ډېر ښه او اسانه دی، ځکه د خوړو، یخنۍ او احتمالي خطرونو غم ورسره نه وي، خو زه فکر کوم دې ژوند ته به څوک نه توسېږي. ازاده مرغۍ که څه هم ځانته دانه خپله پیدا کوي، ځاله خپله ابادوي او مجبوره ده چې له احتمالي

Scanned by CamScanner

خطرونو سره مبارزه وکړي، خو دې ټولو سره هغه یوه ازادي مرغۍ ده، په ټوله دنیا کې ازاد الوت کولای شي. ازاده مرغۍ تر پنجرې کې بندي مرغۍ ډېره خوشاله وي، خو بندي مرغۍ یوازې راحت لري.
له دې ځایه بهر د کشف او ننندارې لپاره لویه نړۍ پرته ده، د ځان تړلو او قیدولو فکرونه درنه لیرې کړئ، نابلدو شیانو ته وار مه خطا کوئ، له ماتې مه وېرېږئ، ځکه دا د ځوانانو دنده او مسئولیت دی چې د ژوند بحراني حالات په مثبتو بریاوو واړوي او له ستونزو سره د مبارزې په نیت راپورته شي.

Scanned by CamScanner

# [۱۱]

# د ننداري صحنه ختيځ ته راګرځي

د نړۍ تاريخ د ملتونو او تمدنونو له عروج او زواله ډک پورت دی، تاريخ ښيي چې هېڅ يو ملت له خپل برم او دبدبې سره تل نه پاتې کيږي. نن د بين النهرين، مصر او روم تمدنونه يوازې په ليکنو کې ژوندي دي.

په دې تاريخي لوړو ژورو کې چې هر وخت ملتونه د لوبې توپ يو بل ته ورکوي، نوي بدلونونه او تحولات هم ورسره راځي. موږ خپله تېرو څو پېړيو کې د داسې بدلونونو شاهد يو. په دې کلونو کې د نړۍ رهبري له هسپانيا انګلستان او له انګلستان امريکا ته لاړه. اوس د لوبې دا توپ د ارام سمندرګي نورو هيوادونو ته ورکړل شوی دی، زه چې ګورم د نړيوال تمدن صحنه ختيځ خواته را روانه ده او کوريا ددې صحنې مهمه برخه نيولې. ختيځې ځمکې لګيا دي د نړيوالو ټولنو په

مرکز اوړي، په همدې وخت کې به کوريايي ځوانان د راتلونکې نړۍ سرلاري وي.

ما تېرو مقالو کې په ډېره خوشبينۍ ووېل چې زموږ همزولې نسل د مخ پر ودې کوريا وروستی نسل و او تاسې ځوانان به د پرمختللې کوريايي جمهوريت لومړی نسل يئ، ځکه درته زه يو ښو خبرې کوم. د پرمختللې کوريايي جمهوريت د لومړي نسل په توګه، د نړيوالې ټولنې رهبري ستاسې مسئوليت دی؛ نو که څوک مخ پر وده کوريا کې په زېږېدو خفه وي او وايي چې اروپا يا امريکا کې زېږېدلای وی، له سره دې پرې فکر وکړي. ځکه زموږ هېواد پرمختللو هېوادونو ته بېخي ورنږدې شوی دی، د غرب د ماښام ستوری چې راښکاره شي، لوېدلی لمر به بېرته په ختيځ کې څرک راووهي، نو تاسې بايد شکر وباسئ چې کوريا کې زېږېدلي يئ. ځکه ددې ملت تاريخ او هلې ځلې موږ پرمختللې نړۍ ته ورننباسي، اوس تاسې ووايئ چې کوريا کې په زېږېدو ولې خفه يئ؟

شل کاله مخکې زموږ خلک غريب وو او په نړيواله کچه يې لږ شان او نفوذ هم نه لاره، موږ د کوهي چينګښې وو، خو زموږ نسل په دې ناوړه حالت لاس بری شو او داسې يو قوي اقتصاد يې رامنځته کړ، چې په نړيوالو بازارونو کې هم مخکې دی.

کوريا کې له شاهي نظام (۷۵ ق.م – ۶۸۸ م) وروسته دا لومړی ځل دی چې موږ په نړۍ کې د يوه متحد ملت په توګه راڅرګندېږو او دا زموږ په هېواد کې د (منزوي پاچا) سابقه له منځه وړي.

زموږ هېواد د خپلې بقا لپاره بهرنۍ نړۍ ته خاصه پاملرنه کړې ده، دا چې کوريا د نفوس له مخې بنګلديش او تايوان پسې په درېيم نوبت

Scanned by CamScanner

کې ده او هيڅ ډول طبيعي سرچينې نه لرو؛ نو بې له دې بله چاره نشته چې له خپلو پولو بهر سترګې ونيسو.
نن نړۍ سره زموږ د اړيکو يوازينی دليل دا مسله نه ده، موږ چې څومره پرمختللې نړۍ ته نږدې کېږو هغوی مو هم همدومره ځان ته ورنږدې کوي. اوس به ځوان کورياييان د راتلونکې نړۍ په سرلارو کې ځای ومومي. تاسې ځوانان بايد قوي ارزښتونه ولرئ، دا ارزښتونه بايد له پرمختللې نړۍ سره منطبق وي. يعنې لوړ فکر او موخې بايد ولرئ او په دې لاره کې به نويو راتلونکو تحولاتو ته چمتو ياست.
دا چې ستاسې نړيوال سيالان به مو ملګري نه وي؛ نو خپلې بالقوه وړتياوې بايد قوي کړئ او په خپل چاپېريال کې شته حقايقو ته سترګې پرانيزئ. دا په ياد ولرئ چې امريکايي ځوانان ستاسې ستر سيالان دي او غواړي چې د راتلونکې نړۍ اتلان او رهبران شي، په دې خاطر تر نيمو شپو جدي مطالعه کوي او په خپلو کمپيوټرونو ګوتې ټومبي. ناپېژانده سيالان مو اصلي سيالان دي.
دا چې په نړۍ کې څنګه تر نورو مخکې شئ، څو خبرې درته کوم. تاسې بايد بهرنۍ ژبې زده کړئ، چې بېلابېلو ملتونو سره اړيکې جوړې کړئ. په انګليسي بايد رواني خبرې وکړئ او په نورو ژبو لکه چينايي، فرانسوي، روسي، الماني، هسپانوي او نورو... خپله جاله پورې باسئ، که داسې ونه کړئ د خپل هيواد له هوايي ډګره په وتو به ړانده چرګان شئ.

دا به ډېره ښه وای چې نور ملتونو کوريايي ژبه زده کړې وی، خو زه ډاډه يم دا څنګه چې په نړۍ زموږ واک خپرېږي، داسې ورځ به راځي چې د نړۍ ډېر خلک به کوريايي ژبه زده کوي، خو دا چې زموږ دا

ارمان به ډېر وروسته پوره کېږي؛ نو زه په دې باور یم چې کوریایان باید د بهرنیو ژبو په زده‌کړه کې ډېرې هڅې وکړي چې په نړیواله صحنه کې فعال حضور ولري.

دویم پړاو کې په موټر او کمپیوټر پوهېدل ډېر اړین دي، تاسې باید هر ډول حالت سره مبارزې لپاره چمتو یاست، ځکه ناڅاپي پېښې هر وخت کېدای شي او راتلونکو کلونو کې به موټر او کمپیوټر پوهنه ډېره اړینه وي. موږ ګورو چې څو وروستیو کلونو کې کوریا کې د موټرو بازار ښه وو او دا پرمختګ به همداسې روان وي. نږدې راتلونکې کې به همداسې کمپیوټر ته هم اړتیا لرو او دا به زموږ د کور، ښوونځي، پخلنځي او ټول کاري چاپېریال اړتیا وي؛ نو په کمپیوټر باید پوه شئ او یو بل ته یې ولېږدوئ.

تاسې باید له عصري نړۍ سره یو ځای کېدو لپاره ددې شیانو اړتیا درک کړئ، په نړیواله صحنه کې د بریا لپاره بله وسیله په ځان د باور وړتیا ده، چې هر فرد او هر وضیعت سره به مبارزه کوئ.

د کوریایانو وړتیا او ټکنالوجي هر پرمختللي ملت سره د قیاس وړ ده، زه د هغو شرکتونو له کارکوونکو ډېر اغېزمن یم چې سوډان، لیبیا او نورو افریقایي هیوادونو کې یې خپلې پروژې ښه معرفي کړې دي. دوی له امریکایانو، جاپانیانو او نورو سوداګرو په ګډو پروژو کې پر ځان ښه باور ښودلی. زه فکر کوم که یو انسان وکړی شي په افریقا کې خپلې وړتیاوې عملي کړي، د نړۍ په هر ځای کې په همدې قوت او شوق کار کولای شي. زه تر ټولو ښه پلوروونکی لومړی د افریقایي او اسیایي هیوادونو لپاره ګومارم، ځکه زما په نظر دا د نړۍ تر ټولو سختې سیمې دي، دې ځای کې له څو کاله تجربې وروسته بیا دا خلک اروپا،

Scanned by CamScanner

امریکا یا نورو صنعتي هیوادونو ته لېږم. ځکه زه په دې باور یم چې څوک له دې سختو شرایطو سره ځان برابر کړي او ماموریت وکړي دا د نړۍ په هر کونج ماموریت کولای شي. په دې وروستیو کې زیاتره خلک د نړۍ ځینې پدیدې د لویو تمدنونو او کلتورونو د انحطاط عوارض بولي او تاریخ ښیي چې دا اصل د نړۍ په ټولو کلتورونو او تمدنونو کې و. دې عوارضو د ټولنو خلاقیت ضعیفه کړی، اخلاق یې مخ پر زوړ کړي او (خوشاله اوسو) فلسفې په ټوله نړۍ کې سر راپورته کړی، موږ دا زیاتره پدیدې د پرمختللیو ټولنو ځانګړې ناروغي بولو. د نړۍ ډېرو خلکو په امریکا کې د ددې عوارضو او پدیدو په اړه مستقیماً خپله اندېښنه څرګنده کړې ده.

په دې کې شک نشته چې موږ باید د نړۍ له پرمختللیو هیوادونو علم او صنعت را زده کړو، خو زه یې د مضرو او منفي کارونو د منلو پلوی نه یم. له بده مرغه زموږ کوریایي ځوانان د لویدیځ چلند بې له کوم قید و شرطه مني، خو زه فکر کوم تاسې ځوانان د بې ګټې چلندونو او طریقو تقلید ته هیڅ اړتیا نه لرئ. دا سمه ده چې تر اوسه دې ملتونو د نړۍ په صحنه کې د رهبرۍ ونډه لرلې خو دا یاد ساتئ چې له دې وروسته به ورو ورو دا ملتونه له اصلي صحنې وځي.

څو وروستیو لسیزو کې موږ د لویدیځ د موډرنېزم، صنعتي کولو او لویدیځولی په تقلید اخته وو، خو اوس له ختیځه لمر په راختو دی او د لویدیځ د ماښامني ستوري د پیروۍ اړتیا نشته، دا هیوادونه نور زاړه شوي او پر ځای یې موږ نوي ځوانان یو؛ نو که موږ له دې زړو تقلید کوو، د نړۍ د رهبرۍ پر ځای به مو دوی سره سمه صحنه سمه پرېښې وي. اوس د نړۍ پام راوښتی، خو دا ځوان نسل پورې اړه لري چې

ددې هیواد وړتیاوې او انرژي نړۍ ته وښيي. زما یوه هیله دا ده چې تاسې د نوې نړۍ اتلان او رهبران خپل مسئولیتونه په سمه توګه ترسره کړئ او دا یوه شیبه هم هېر نه کړئ چې: تاسې لومړی کوریایي نسل یئ چې د نړۍ په صحنه به قدم ږدئ او نوې عصري نړۍ په پرانیزئ.

Scanned by CamScanner

# [۱۲]

## د روغتيا راز

ځينې په دې باور دي چې روغتيا ګني کوم ځانګړی راز دی، زه خپل کارونه دومره چټک کوم، چې ډېرو ته دا چټکتيا سخته ښکاري، خو زه د خپلې روغتيا لپاره هېڅ راز نه لرم او نه مې پرې ډېر وخت مصرف کړی دی. دا به لږ زياتی وي چې ووايم ما ټول عمر ځان ځوان احساس کړی او د خپلې روغتيا په اړه مې هېڅکله اندېښنه نه ده لرلې.
د کوريا په جګړه کې چې کورنۍ سره له (تااګو) راوتښتېدم، د ورځپاڼې پلورلو لپاره به مې لس کيلومتره پلی مزل کاوه او اوس لکه چې د الوتکو اوږدو سفرونو زما د روغتيايي قوي بنسټ په اساس دي. د محصلۍ په دوره کې مې سوک وهنې او نورو برخو کې ورزش کاوه.
ښايي ځينې فکر وکړي چې زه کاروباري شخص يم؛ نو په ګلف لوبه به هم ګني پوهېږم. خو ما تراوسه د ګلف هغه ډنډې ته لاس هم نه دی ور

وړی، نه مې کله ګلف ته وخت پیدا کړی او نه مې دا لوبه د یوه منظم ورزش په توګه ګڼلې ده. ماته دا په زړه پورې وه، د (توکو توشیو) صعنتي تشکیلاتو جاپاني بنسټګر کتاب کې مې ولوستل چې ده هم د ګلف په اړه ماته ورته احساس درلود. یوه ورځ ورته کارکوونکو ویلي وو راځه چې ګلف وکړو، ده ورته ویلي زه دې ته حیران یم، تاسې ولې دې سره دومره مینه لرئ چې یو وړوکی توپ په یوې وړوکې کوتې (پیلې یا کندې) کې واچوي، بیا یې زیاته کړې وه چې د یوه صنعتي شرکت اداره تر ګلف ډېره په زړه پورې ده.

دا عبارت دقیقاً زما د احساس انځورګري ده، که د تفریح او ساعت تیرۍ خبره شي؛ نو ګلف به زما د لیست په وروستیو کې راشي، ځکه زه چې له کاره کوم خوند اخلم، هغه تر دې ټولو ډېر دی. له صحي پلوه هم ګلف لوبې ته کوم اعتبار نه وینم، ځکه زما په نظر شدید کار او فعالیت تر ټولو موثر ورزش دی. زه وایم چې ډېر پلټونکی سړی ورزش ته اړتیا نه لري.

په جیم کې چې د خلکو ګڼه ګوڼه وینم، ځان سره وایم، دا خلک خپل وخت په دې دلیل ضایع کوي چې بل ځای کې ګني خولې نه شي څڅولای. کوریا کې د جیمونو او سوناګانو شمېر مخ په زیاتېدو دی، دا په دې معنا ده چې زموږ ډېرو خلکو خپلې روغتیا ساتنې لپاره ورزش ته مخه کړې ده، خو زه تراوسه نه پوهېږم چې دا خلک ولې خپلې روغتیا او بدن روزنې لپاره دومره پیسې لګوي؟ که څوک راته ووایي چې ستا د روغتیا راز څه شی دی ورته به ووایم، سخته هڅه. زه د ډېر فعالیت له لارې د اړتیا وړ مناسبه انرژي ترلاسه کوم او په دې هم پوهېږم چې سترې کوونکې کارونه ښایي تر یوه بریده روغتیا ته زیانمن وي او اپوته

خوندور او په زړه پورې کارونه انسان ته خوښي او انرژي ورکوي؛ نو خپل کار په پوره شوق او ذوق سره کوئ او دې سره به رښتينې خوشالي او لذت احساس کړئ. په کارځای کې خولې څڅول په جيم کې له خولو څڅولو ډېر ارزښت لري. سخت کار او فعاليت زما د روغتيا راز دی. ما مخکې هم وويل کار زما لپاره يوه تفريح ده، اوس يې دا دی ښکاره وايم چې کار او کوشش زما د روغتيا راز دی.

فکر کوم د روغتيا دويم لامل مې مناسبه تغذيه او بېلابېل خواړه دي. زه ټول عمر متعادل پرهېز (رژيم) کوم. زياتره وخت زر زر ډوډۍ خورم، که هڅې او پلټنې مو ډېرې وي، اړ يئ چې ډوډۍ زر زر وخورئ، دا چې زه د نړۍ زياترو سيمو ته تللی يم؛ نو بېلابېل خواړه مې هم خوړلي دي.

پخوانی متل دی چې ښه خواړه ښه وقايه ده، زه په دې باور يم چې که سم او مناسب خواړه وخورم، د روغتيا لپاره درملو او سونډ سپېرکی ته اړتيا نه لرم. نو هر ډول خواړه ښه په خوند خورئ، خو که د خوړو په اړه لږه سختي وکړئ؛ نو د نړۍ ډېرو سيمو ته سفر نه شئ کولای. بهرنيو سفرونو کې بايد له بېلابېلو خلکو سره مخ شئ او د ملگرتيا او ټولنيزو اړيکو پاللو لپاره بايد بېلابېل خواړه وخورئ، که افريقا ته ځئ افريقايي خواړه بايد وخورئ، که منځنی ختيځ ته ورځئ د پسه غوښه به خورئ، حتی که خواړه مو په زړه نه وي، بيا هم هڅه وکړئ چې ويې خورئ، زه فکر کوم دا د ملگرو موندلو تر ټولو ښه لاره ده.

دا کار هله ډېر ارزښت پيدا کوي چې تاسې غواړئ خپل توليدات وپلورئ، ځينې وخت ښايي په يوه شپه دوو مېلمستياوو ته وبلل شم، داسې وخت کې هڅه کوم چې له دواړو شپنيو ښه خوند واخلم. د

خوړو په اړه مې هېڅکله هم سختي نه ده کړې، زه فکر کوم د رنګارنګ خوړو خوړلو او بېلابېلو خلکو سره ناستې پاستې په نړیوال ډګر کې زما په بریا مثبت اغېز کړی دی.

البته زه په دې پوهېږم چې څوک باید زر (چټک) ډوډۍ خوړلو ته راونه بلل شي، خو دا چې زما تل تادي وي؛ نو چټک خواړه خوړل راته ډېر ښه دي. د ډایوو شرکت کارکوونکو سره چې ډوډۍ خورم، هغوی لا نیمایي ته نه وي رسېدلي چې ما ځان موړ کړی وي، ما سره چې څوک سفرونه کوي هغوی هم راسره عادت شوي دي، لکه د ناپیلیون په اړه چې ویل کېږي، ۸ دقیقو کې به یې غرمنۍ او ۱۲ دقیقو کې به یې شپنۍ خوړله. له دې ښکاري چې په تاریخ کې ډېر بوخت خلک ډوډۍ خوړلو ته ډېر وخت نه ورکوي.

ددې بحث اصلي موضوع خواړه نه دي، اصلي موضوع دا ده چې خلک روغتیا ساتنې لپاره سونډ سپېرکۍ خوري، ورزشي ټولګیو ته ځي، خو دا کار بې له دې هم کیدای شي. زما شخصي فلسفه دا ده چې موږ د ورځنیو کارونو او عادتونو په مرسته هم ځان روغ ساتلای شو.

نړۍ کې نن سبا ډېر خلک خپلې بدني روغتیا ته ډېر پام کوي، خو زه په اروايي روغتیا هم ټینګار کوم، روغه اروا مهمه ده. دا چې قوي بدن د روغتیا لامل دی، کیدای شي یو وخت همدا فکر د یوې اروايي ناروغۍ لامل شي. دا فکر ښایي تاسې داسې یو ځای ته ورسوي چې وبه وواییٔ ودرېدل او مقاومت له بدني قوت ګټه اخیستل دي، خو زه وایم همدا فکر هم ستاسو ژوند بربادۍ خواته وړی شي، ځکه روغ بدن هله ارزښت لري چې روغ ذهن ورسره مل وي.

Scanned by CamScanner

سره له دې چې زه د يوې صنعتي ادارې بنسټګر يم، خو دا وايم چې د انسان اروا له بدنه ډېره مهمه ده. د صنعتي ادارې د بنسټګر موخه دا نه ده، چې دی دې څورب شي، وړې سقراط هم نه غوښتل چې موږ او شتمن سقراط دې شي. موږ بايد هغه ټول اقتصادي فعاليتونه په کلکه رد کړو چې د نفس د ارضا او د خېټې د راوتو (لويدو) لامل کېږي. ماديانو ته پام تر هغه وخته مهم دی چې د ټولنې له روح و روان سره سم وي، ګني يوازې بدن پالل به طبيعت او انساني ذهن ته په زيان ثابت شي. دغه ډول اقتصادي وده د ټولنې نېکمرغي نه بلکې بدمرغي ده.

زه دا منم چې سالم بدن د روغې اروا لپاره مهم دی، خو دا چې روغ ذهن او عقل انساني ارزښتونه کنټرولوي، نو زه د اروا روغتيا ته په بدني روغتيا لومړيتوب ورکوم.

نن سبا خلک له اړتيا زيات د خپلې روغتيا په فکر کې ډوب دي، البته زه په روغتيا سترګې نه پټوم ، ځکه يوازې روغ انسان له خپلو کارونو او خوړو خوند اخيستی شي، خو هر وخت دې د روغتيا فکر او اندېښنې نه کوي. زه فکر کوم دا به ښه وي چې انسان په روغ ذهن او عقل ژوند وکړي، دا تر دې غوره ده چې د خپلې روغتيا لپاره په منظم ډول درمل او سونډ سپېرکې وکاروي يا زر تر زره ځان لوبغالي ته ورسوي.

ټولنه چې پرمختګ وکړي، خلک ماديانو ته ډېر پام کوي او خپله روغتيا يې زياتره وخت له ياده وځي. نن زياتره خلک له بدني پلوه ښه روغ او غښتلي ښکاري، خو اروايي حالت د خوارانو ډېر خراب وي، که ستاسې اروا ښه نه وي، په بدني روغتيا به څه وکړئ؟ ليوني انسان ته به يې ډکه خېټه څه ګټه ورسوي؟

چرته مې لوستي وو: ځوانان په دې نه پوهېږي چې له وخته خنګه ګټه واخلي او بوډاګان بیا په دې اندېښمن دي چې څومره ژوند ور پاتې دی. کوم ځوانان چې فکر کوي ډېر وخت لري او په درنه سترګه ورته نه ګوري؛ نو زه ورته وایم ځواني مو لا پخوا له لاسه وتې ده. دا به بده نه وي که ووایم چې ځوانان د خپلې اروايي روغتیا په اړه فکر کوي او بوډاګان بیا د بدني وضیعت په قید کې دي. نو کوم ځوانان چې یوازې په بدني روغتیا بوخت دي، دوی خپله ځواني ضایع کړې ده.

Scanned by CamScanner

[۱۳]

# کار د تفریح په توګه

کال ۳٦٥ ورځې دی او زه یې له دوو سوو ډېرې په بهرنیو سفرونو تېروم، پر دې سربېره مې ډېرې ورځې کورنیو سفرونو کې تېرېږي؛ نو کورنۍ سره د تېرو لپاره لږ اوزګار وخت لرم. ځینې وخت خو لا د مېرمن او بچو څه چې خپله کلیزه هم رانه هېره وي.

زما کارونه او بوختیاوې ډېرې دي، زه پرې خوښ یم او دومره خوند ترې اخلم چې ځینې وایي په کار ګني مئین یم. د کار له پیله تراوسه مې یوه ورځ رخصت نه دی کړی او نه مې یادېږي چې کورنۍ سره به ګني چکر لپاره د بحر غاړې ته تللی یم، البته له دې اړخه هېڅ ډول خفګان او پښېماني نه لرم.

زه باوري یم که د زړه له تله په کار او فعالیت کې هڅې وکړئ، بریا مو حتمي ده. څوک چې له زړه هڅه کوي، هېڅکله نه ماتېږي.

ځینې خلک فکر کوي چې زما په شان بوخت او کاریګر انسان به له کومې تفریح خوند اخلي، ښایي څوک دا نه درک کوي چې زه کار سره مینه لرم او له ډېرې مینې کله کله کار له تفریح سره ګډوم.

Scanned by CamScanner

زه وایم دا فکر به هغه خلک کوي چې د کار اصلي خوند یې نه وي څکلی، د هغه انسان ښېګڼې یې نه دي لیدلي چې ځان یې کار کې بوخت کړی او بلاخره دې خلکو هغه خوند نه دی لیدلی چې انسان یې له بریا او کامیابۍ اخلي.

ځینو خلکو ته کار ستړی او له خفګانه ډک وي، د یوې سروې له مخې ۲۳،۵ ٪ کوریایي متعلیمن د کار په اړه منفي احساس لري او (کرکجن، ستړی کوونکی او ځورونکی) یې بولي. بیا هغه خلک د دوی په نیمایي دي چې د کار او مسلک په اړه مثبت فکر او احساس لري. زه فکر کوم نني ځوانان کار او مسلک اصلي موخه نه ګڼي؛ بلکې دا نورو غوښتنو ته د رسېدو یوه وسیله بولي.

د هغوی په حال خفګان په کار دی چې کار او مسلک یوازې د خېټې ډکولو وسیله ګڼي، په هغوی خو بیخي ژړا په کار ده چې په ځوانۍ کې له کاره د خوند اخیستو او هیله منډۍ پر ځای له خپل مسلکه ستړیا او خفګان احساسوي.

کار د بریا، پرمختګ، شخصي ودې او ټولنیزې ښېګڼې وسیله ده، که څوک یې یوازې د مادیاتو ګټل بولي، دا یې د کار او مسلک قانون ته سپکاوی دی.

کار او مسلک دومره ارزښتمن دی چې یوازې له مالي لیدلوري یې نه شو ارزولای. که له خپل کار او مسلک سره مینه وکړئ او په خوښۍ یې ترسره کړئ؛ نو دا کار به مو د خوښیو او خوندونو چینه شي او همدا خوند بیا ستاسې بریا او سرلوړي دوه چنده کوي.

دا خبرې د زده کړو په برخه کې هم سمې دي. محصلین باید په جدیت درس ووایي. ځان تر دې حده مطالعه او درس کې ډوب کړئ چې نور

Scanned by CamScanner

خلک ووايي په درس مئين شوي يئ. تراوسه مو د هغه محصل د سترګو ځلا ته پام شوی چې په درس او مطالعه کې ډوب وي؟ دا محصل يو ځانګړی راښکون لري او زه فکر کوم هر څومره چې خپل کار کې همداسې ډوب شي يوه ځانګړې ځلا به کوي. کار او مسلک د پيسو او زده‌کړې يوازې د نومرو او درجې لپاره نه دي. خلک بايد له خپل کار او درسه بې حده خوند واخلي. دا ډېره بده ده چې يو محصل درس ته ځان اړباسي او تر دې بده يې لا دا ده چې حتی په شين زور هم ځان درس ته نه شي اړويستی.

نو زده‌کړې اجباري دنده مه ګڼئ، که دا فکر کوئ بدل يې کړئ. لومړيو کې زده‌کړې د ځان او هغه څه اړوندې وګڼئ چې تاسې ورسره مينه لرئ، دا به درته درس خوندور او په زړه پورې کړي. دې ټکي ته پام سره بايد تاسې زده‌کړې د ټولنيز پرمختګ په برخه کې يوه پانګونه وبولئ.

څوک چې رانه د تفريح پوښتنه وکړي سخت وارخطا کېږم، ځکه يوه يې هم ذهن ته نه راځي. سره له دې چې ځينې وخت (ګو[5]) لوبه کوم، خو دا تفريح نه شم بللی، ځکه دا به هغو لوبغاړو سپکاوی وي چې دا لوبه خپله رښتيني تفريح ګڼي. ما تراوسه نه ګلف کړی او نه د کنسرت يا تياتر تالار ته ننوتی يم.

يوازې کار خوند راکوي، تراوسه هيڅا کار ته نه يم مجبور کړی؛ نو که تفريح هغه څه وي چې انسان يې په کولو خوند اخلي، زه بايد ووايم چې زما تفريح کار دی.

[5] پچيس ته ورته لوبه ده، چې په يوه تښته د تورو او سپينو ګټيو (دانو) په مرسته کېږي.

Scanned by CamScanner

که کار او زده‌کړې اضافي بار وګڼئ، د وخت په تېرېدو به مو دا دواړه چارې په اوږه درون بوج کېږدي، خو که همدا کار او زده‌کړې تفریح وګڼئ؛ نو ډېر خوندور او اسانه به شي، تاسې به يې ښه په شوق کوئ او بلاخره چې پکې هر څومره ستاسې وړتياوې زياتېږي هومره به ورسره ښې پايلې هم ترلاسه کوئ، تر دې چې يوه ورځ به رښتيني ډاډ او خوشالۍ ته ورسېږئ.

که سوداګر له خپل کار او مسئوليته د يوې تفريحي غوندې خوند واخلي، د وخت په تېرېدو به يې امکانات او اسانتياوې پراختيا ومومي، همداسې که يو محصل له خپل درسه د تفريح غوندې خوند واخلي، درجه او نومرې به يې هرومرو ښه کېږي او په اخره کې به ښه کار ترلاسه کوی. که زما په خبرو باور نه لرئ، يو ځل يې وازمويئ. که د بريا لپاره په دې جز عمل وکړئ، داسې ده لکه د اسماني ستورو رانيولو په هڅه چې ياست. خو که په خپل کار کې ډوب شئ او خوند ترې واخلئ، هېڅکله به مات نه شئ.

له ډايوو شرکت جوړولو اوه کاله مخکې مې د يوه خپلوان په شرکت کې کار کاوه، سره له دې چې زه د شرکت د خاوندانو له کورنۍ وم، خو د يوه عادي کارکوونکي غوندې کار مې کاوه او دا مې بيخي خپل کار باله. امر ته کېناستم، خپل کار به مې کاوه، په ځنډ نه راتلم او يوه ورځ رخصت مې هم نه کاوه. دا چې هغه وخت مې له خپل کاره خوند اخيست، نن هم په هماغه شوق لګيا يم کار کوم. فلم ليدل او ګلف لوبه به خوند کوي، خو ما چې نړيوالو سوداګرو سره ليدلي او له ډېرو هڅو وروسته ورسره په تړون بريالی شوی، داسې خوند مې بيا په هېڅ شي کې نه دی ليدلی.

Scanned by CamScanner

البته اوس هم ځینو نویو پروژو کې له نویو خلکو سره په اړیکه یو څه نارامه کېږم، دا به هماغه نارامي وي چې یو ورزشکار په لومړي ځل خپله وړتیا ازمویي او ورسره مخ کېږي. پروژه چې هر څومره لویه او مهمه وي، زه هم ورته همدومره ډېر پام کوم، خو د بریا کارت چې ترلاسه کړم، تړون په بریالۍ توګه لاسلیک کړم او بلاخره د دواړو خواوو له رضایت وروسته مقابل لوري ته لاس ورکړم، په دې وخت کې بې ساري خوند او خوښي احساسوم.

سږ کال هم کورنۍ ته دا ژمنه نه ورکوم، چې هرومرو به یې ګني د کلیزو مراسمو کې ورسره یم. دې حالت ته خفه یم، خو په دې بیا شکر کاږم، چې داسې پوهه او بادرکه کورنۍ لرم.

Scanned by CamScanner

# دویم څپرکی

## د غنمو د نړۍ سبق

Scanned by CamScanner

# [۱]

## د غښو د نړۍ سبق

طبیعت کې داسې غښې شته چې د ونې په پوټکي کې هګۍ اچوي، بیا په دې خپلو بې شمېره هګیو یو جال پیبيي چې له ضرره يې وساتي، څه وخت وروسته د غښي بچي له هګیو راوځي، مور يې خپلې ارامتیا ته هېڅ پام نه کوي او سمدستي خپلو بچو ته په خوړو پیدا کولو پسې وځي، دا کار ټول حیوانات او حشرات کوي.

بچې چې رالوی او خپله د ښکار شي مور يې له ډېرې ستړیا له پښو پریوځې او مړه شي. په زړه پورې داده، یو بله ډله غښې هم شته، ددې غښو بچي چې څنګه له هګۍ راووځي مور يې ورته خپل بدن د خوړو په توګه ورکوي، دا تر یوه حده د نه منلو ده، خو له غذايي پلوه د مور بدن د غښو بچو ته قوي ماده ده.

ددې صحنې اصلي ټکی دا دی چې د غښو د بچو ژوند د مور په مرګ او قربانۍ پورې تړلی دی. یعنې مور باید ومري چې بچي يې ژوند وکړي.

هو! د راتلونکي نسل ارامي او هوساینه د اوسني نسل په قربانیو پورې اړه لري. ارامي او هوساینه بې له قربانۍ نه رامنځته کېږي. که دا موضوع

Scanned by CamScanner

له فردي پلوه ارزوو؛ نو باید ووایو چې د بچو خوشالي د مور او پلار په قربانۍ پورې اړه لري، د یوه نسل خولې او کړاوونه د بل نسل هوساینه ده.

بې مسئولیته او ځانغوښتونکي مور او پلار بچو ته له ستونزو او کړاونو ډکه لاره ورکوي.

ښه کورنۍ هغه ده چې مور او پلار کې د ځانغوښتنې پرځای د بچو راتلونکي او هوساینې لپاره قرباني ورکړي، ته وا دوی ګني د غنو طبیعي قانون تعقیبوي، زموږ د هیواد ننۍ هوساینه د تېر نسل د قربانیو برکت دی.

دا موضوع د ټولو پرمختللیو ملتونو په اړه صدق کوي. د ټولنې د بریا مانۍ د تېر نسل د قربانیو پر بنسټ ودرېږي. خلک زیاتره د (راین معجزه) یادوي. آیا دا رښتیا معجزه وه؟ د (راین معجزه) اصلاً د المانیانو څلورویشت ساعته سخت کار و. د ودانۍ رغولو خوځښت د دوی د قربانۍ او فداکارۍ څپه وه، د دوی دا قرباني د ننني المان د هوساینې د عطف ټکی دی.

داسې ملتونه ډېر دي. د امریکا د کډوالو قرباني او فداکاري د دوی د ننۍ ټولنې د بریا او پرمختګ اصلي بنسټ و. د جاپان پرمختګ هم تر یوه ځایه د (مې ای جي) حکومت په لړ کې ددې سیمې د خلکو د قربانۍ برکت دی.

انګلستان چا ستره برطانیه کړه؟ هغه خلکو چې د صنعتي انقلاب لپاره یې په سختو شرایطو کې د غلامانو غوندې زیار وویسته.

ژوند کې هېڅ شی وړیا نه ترلاسه کېږي او هېڅ یوه پېښه تصادف نه دی، هر څومره چې ځای کنځ کنده همدومره ژورېږي او کنده چې

ځومره ژورېږي د کوهي اوبه ورسره همدومره ډېرېږي. مهم اصل همدغه دی.

په کوریا کې د ۶۰مې لسیزې نسل راتلونکو نسلونو لپاره ډېره قرباني ورکړه، دا قرباني دومره وه چې زه زیاتره وخت خپل هغه نسل د قرباني نسل بولم. ۶۰مه لسیزه کې موږ د یوه قوي اقتصاد پر مټ د ځواکمن ملت کېدو امکان پیدا کړ، بیا مو په پوخ هوډ او زیار دا ارمانونه سر کړل. زموږ د اوسني نسل هوساینه د هغه دورې د هڅو او قربانیو پایله ده.

زه په دې باور یم چې د قرباني نسلونه د تاریخي بهیر بل مشالونه دي. د دوی رڼا په اصل کې د یوه هوسا ملت او ښایسته معاصر ژوند لپاره د دوی د ارمان او قاطع دریځ څرګندونه کوي. کوریا ته دا رڼا هغه اراده او پرېکړه وه چې غوښتل یې یو مترقي او پرمختللی ملت رامنځته کړي او د راتلونکي نسل د خوښۍ او سرلوړۍ لامل شي. د قرباني نسل هغه دی چې ځان ته هېڅ نه غواړي او یوازې د راتلونکي فکر ورسره وي. ددې خلکو ژوند له هلو ځلو، سختیو او قربانیو ډک وي.

پرمختللو ملتونو کې رانه تل پوښته شوې چې : تاسې کوریایان ولې دومره کار کوئ او حتی یوه ورځ هم دمه نه کوئ؟ اوس ددې وخت ګني نه دی چې په خپل حال راضي شئ، ژوند یو څه اسانه کړئ او د استراحت فکر وکړئ؟

ما ددې پوښتنې په ځواب کې تل ویلي چې تاسې تر موږ ډېر هوسا یئ او ژوند مو له موږ ډېر ښه دی؛ نو فکر نه کوئ چې راتلونکی نسل باید په دې فکر وي، چې کوریا د خپلو سیالانو هومره پرمخ یوسي؟ اوسنی نسل داسې احساس کوي چې موږ یو مسئولیت لرو او هغه دا دی چې

Scanned by CamScanner

موږ باید د کوریا او نورې پرمختللې نړۍ د هوساینې تر منځ شته توپیر راتلونکو نسلونو کې کم او بلاخره له منځه یوسو.

زه شخصاً په دې نظر یم چې دا هیواد اوس هم ډېرې قربانۍ ته اړتیا لري، زه له هغو کسانو وېرېږم چې په افراطي توګه معاصرې دورې ته راننوتي او داسې چلند کوي لکه د صنعتي هیوادونو د لویې ټولنې غړي چې وي.

موږ داسې وضیعت کې یو چې ټولنه مو سختو هڅو ته اړه ده؛ نو موږ باید یو ځل بیا په ځان کې د قربانۍ روحیه را ژوندۍ کړو. که قرباني دې ته ووایو چې یو نسل د بل نسل له لپاره له ځانه تېرېږي؛ نو هر نسل باید د لا ښه راتلونکي لپاره قرباني ورکړي، ځکه د یوه نسل رضایت تل د راتلونکي نسل د نارضایتۍ لامل کېږي.

ماشوم له هغې ونې میوه خوري چې نیکه یې کرلې وه، که ونه نه وي ماشوم به څه خوري. که یو نسل یوازې په خپلو هیلو او غوښتنو فکر وکړي؛ راتلونکي نسل ته به یې هېڅ هم نه وي پرېښي. که ښه پوهېږو چې ونه زموږ په ژوند مېوه نه ورکوي، بیا یې هم کرل زموږ مسئولیت دی.

دا به څومره خوند کوي چې یو انسان ونه وکري، لمسی یې ترې میوه وخوري او بیا فکر وکړي چې یاره نیکه یې دا ونه ولې کرلې وه؟ قرباني هله کېږي چې له ځانه راووځئ، د نورو په اړه فکر وکړئ او د نورو خلکو ګټه تر خپلې هغې لوړه وګڼئ، قرباني د دوستۍ تر ټولو لوړ حد دی.

نن سبا کوریا کې خلک په دې اړه غږېږي چې تخم (دانه) څنګه په ځمکه وشیندل شي، تر خاورو لاندې شي، بیا تېغ راووهي او ثمر ته

ورسي. د تخم دا خبره په اصل کې يوه قرباني ده. د بوټي تخم په ځمکه لويږي، خاورو کې خښيږي، بيا تيغ راوهي، ريښې خښوي او بلاخره ميوه نيسي. که دې تخم يوازې په خپل ځان فکر کولای ځنګه به راشين شوی وی؟

**ځان ژوندی په ځمکه خښ کړه لکه تخم**
**کــــــه لويې غواړې د خاورو په مقام شه**
**رحمان بابا**

***(زما پلار راته تل دا يوه خبره کوي، وايي د جوارو يوه دانه که په ځمکه ولويږي، خاورو کې ډوبه شي، له دې به يو وړی راشين شي، سلګونه دانې به شي، هغه به بيا ځان خاورې کړي او همداسې به له يوې دانې پټې راشنه شي، خو که همدا د جوارو دانه د سرو زرو ډبې کې بنده کړې او بکس کې يې کېږدې، سل کاله وروسته به هم نبايي همدا د جوارو يوه دانه وي، نه به دې کې بدلون راغلی وي او نه به يې بل چاته خير رسېدلی وي، ماته مې پلار تل وايي چې ځان خاورې کړه، ځان د سرو زرو ډبې کې مه بندوه، خاورې شه چې ډېر شې، ډېر شې او لاپسې ډېر شې. ژباړن )***

که تخم ځان په خاورو کې له شيندل کېدو او ډوبيدو وساتي، په دې معنا ده چې ثمر نه ورکوي. له قربانۍ ځان ساتل په اصل کې ميوې ته له رسېدو مخنيوی دی. خبره بيخي رڼه ده، که يو نسل ځان قربان کړي راتلونکی نسل به يې ارزښتمن محصول وريېي. که يو نسل د خپلې

Scanned by CamScanner

گټې او هوساینې په خاطر قرباني نه ورکوي، په اصل کې راتلونکي نسل ته د هوساینې او بریالي ژوند رامنځته کولو فرصت له لاسه ورکوي او دا کار یوازې ځانغوښتنه او ناپوهي ده.

د کوریا اوسني ځوانان د ایثار او قربانۍ له کلیمو وېزاره دي، دا فکر د لویدیځې ټولنې اغېز دی، هغوی په فردیت ټینگار کوي او ځان ته بې درده شېبې غواړي. ښه نو (له ځان تېرېدو) یا قربانۍ کلیمې په اړه څه احساس کوئ؟

ایثار او قرباني هغه کلیمې دي چې له موږ لږ مخکیني نسل په پراخه کچه کارولي، خو اوسنیو ځوانانو ته لکه چې دا معنویات نه دي ښودل شي، هېڅوک ننني ځوانانو ته نه وایي چې د لوړو ارمانونو لپاره باید قرباني ورکړي.

ښه که دا کار بل څوک نه کوي زه به یې وکړم، تاسې ته وایم ځوانانو! خپل راتلونکي لپاره قرباني ورکړئ او د ټولنیز پرمختگ لپاره له ځانه تېر شئ. د شخصي غوښتنو پوره کېدل په زړه پورې دي، خو خپلې غوښتنې د لویو ارمانونو نذر کړئ، ځکه همدا د ژوند ارزښتنولو طریقه ده.

زما نسل هغه نسل دی چې خپل راتلونکي نسل لپاره لکه تخم له ځانه تېر او ژوندی په ځمکه خښ شو، تاسې ځوانان هغه خلک یئ چې ددې خښ شوي تخم نه راختلی فصل به ریبئ، خو دا مه هېروئ چې تاسې هم باید وکرل شئ، تاسې هم باید ژوندي په ځمکه خښ شئ چې راتلونکی نسل مو د ریبلو او راټولولو لپاره محصول ولري.

Scanned by CamScanner

[۲]

# ذهني څرکونه

ما کار سره په اړيکه کې ښه ملګري هم لرلي دي، يو پکې کشيش (رابرت شولر) دی، دا ښاغلی د اوانجلي نړيوالې فرقې مشهور مبلغ دی. څه وخت مخکې مو د ډايوو شرکت د څانګو رئيسانو ته يوه روزنيزه دوره جوړه کړې وه او دی مې پکې خبرو ته راوباله.

کشيش سولر په خبرو کې رئيسانو ته مخ کړ او ورته ويې ويل: که غواړئ خپلو موخو ته ورسيږئ؛ نو د فکري قوت په مرسته بايد پر ځان باور لا ډېر کړئ. په بل عبارت دا چې، په فکري وړتيا خپل راتلونکی جوړولای شئ. که تاسې د نورو خلکو په مخ کې ځان ټيټ ګڼئ لامل يې ستاسې منفي فکر دی او ځان درته ډېر ناڅيزه ښکاري. دا صفات تاسې کې د وخت په تېرېدو لاپسې قوي کيږي او بلاخره به ددې ستونزو مرکز شئ.

مثلاً که غواړئ چې رښتيا يو ښه وايلن غږونکی يا وکيل شئ؛ نو تل داسې فکر وکړئ چې هرومرو به په دې برخه کې لوی شخص ياست.

Scanned by CamScanner

په دې توګه تاسې کولای شئ چې د خپلو ستونزو حل او هيلو ته ورسيږئ.

زه چې زلمی وم، ويل به مې چې بريالی سوداګر شم، که څه هم هغه وخت مې افکار يو څو ګونګ وو، خو دا هيلې او ارمانونه مې هېڅکله نه دي پرېښي، ما غوښتل يو بريالی سوداګر شم، د خپلې تولنې په وده او هوساينه کې مهمه ونډه ولرم او باور مې لاره چې دا کار کولای شم. مرحوم پلار مې دې فکر ته لا ډېر هڅولم چې بريالی سوداګر به شم. له هغه وروسته مې په ذهن کې همدا فکر ګرځي، چې يوه ورځ به بلاخره سوداګر شم.

ما به ځان سره ويل چې غواړم سوداګر شم، سوداګر کېږم او اصلاً سوداګر يم ... دې تلقينونو په ما کې يو اوسپنيز باور راپيدا کړ. سره له دې چې هېڅ يوې دينې ډلې سره تړاو نه لرم، خو ځوانۍ کې به مې تل دا احساس کاوه چې ستر خدای به مې ژوند له يوه ځايه ځاري.

فکر مې کاوه هر کار چې پيل کړم پکې بريالی کېږم، يوازې ما يې بايد د کولو هوډ کړی وی، نور نو ډاډه وم چې کولای يې شم. نوره پانګه مې چې نه لرله په ځان باور مې يوزاينی وسله وه، البته دا تر ټولو لوړه او ګټوره وسله وه.

د جاپان د مشهور صنعتي شرکت بنسټګر ښاغلي (توکو توشيو) راته يوه ورځ په ځان د باور په اړه مهمې او سختې خبرې وکړې. ده ويل چې د هر کار لپاره يې بايد د کولو وړتيا ولرو، خو يوازې دا وړتيا کفايت نه کوي، ددې تر څنګ بايد ټينګار، استقامت او فکري تمرکز هم وي. هغه به ددې دری واړو عناصرو ټولګه سرسختي بلله او ويل به يې چې کار او فعاليت په هر حال کې ستونزې او ماته لري. سرسختي دې ته

Scanned by CamScanner

وايي چې ستونزو سره مبارزه وشي او د ماتې پر وخت ميدان پرې نه ښودل شي. ښايي ستاسې ډېر نوي (خلاق) کارونه هم له ماتې او ناکامۍ سره مخ شي، خو مهمه موضوع پکې دا هوډ دی چې خپل کار بايد په هر صورت پای ته ورسوئ، هېڅ شی ناشونی نه دی، يوازې د سرسختۍ نشتون يې درته ناشونی کوي.

هيله ده تاسې به په خپل کار پوره باور لرئ، ځکه هر کار شونی دی. که مثبت فکر او په ځان باور ولرئ هېڅ شی به درته ناشونی نه وي. امکانات درنه گردچاپېره خپاره دي، دا تاسې پورې اړه لري چې ويې پېژنئ او د توفيق پړاو ته يې ورسوئ. نړۍ خپلې دروازې هغو ته پرانيزي چې مثبت کار کوي، باور او اعتقاد لري او ژوند د قوي مبارزې لپاره غواړي. ښاغلی کشيش شولر وايي: نن چې څه لرو يو وخت ناشوني گڼل کېدل، که نړۍ په همدې فکر روانه وای، نن به مو پنسيلين، الوتکه او داسې نور ډېر عادي شيان هم نه لرلای.

ناشوني وشول، ځکه ځينو په خپلو فکرونو باور او ايمان لاره. دا هغه خلک دي چې د نړۍ تاريخ جوړوي.

خو منفي او لنډپاري خلک ډېر زر حالاتو ته غوسه کېږي، دوی به د هېڅ کار کولو توفيق ترلاسه نه کړي او نه به ورته د ژوند تمبې (دروازې) بېرته شي. دا خلک د خپلو فعاليتونو ښه کولو لپاره لازمې وړتياوې لري، خو دې ته يې پام نه دی او د ژوند په لومړۍ ښه روان دي. تر ټولو دردوونکی شېبه به دا وي چې يو سړی د موسيقۍ ښه وړتيا لري، دې ته يې پام نه وي او په يوه کونج کې په چيغو چيغو ژاړي چې زه ولې انځورگر نه شوم.

پام کوئ ګوره، يوه کونج کې کېناستل او د ټيټوالي او بېوسۍ احساس کول د انسانيت له خالق سره خيانت دی. زه په دې باور يم چې هر انسان له بې شمېره وړتياوو سره نړۍ ته راځي او همدې ته پيدا شوی چې له دې وړتياوو ګټه واخلي. که څوک دا وړتياوې نه کاروي، دده د شخصي زيان تر څنګ ټولنې ته هم لويه ضايع ده. ځان کم مه ګڼئ البته د خپلو وړتياوو په برخه کې افراط هم خطرناک دی، خو تر دی لوی شرم نشته چې انسان ځان له نورو کم وګڼي.

ښايي داسې خلک وي چې مثلاً رياضي کې پر ځان باور نه لري، يا به ځينې نور ورزشونو سره چندانې جوړ نه وي، ځينې د خلکو په مخ کې له خبرو ډارېږي، خو له تاسې ځينې بيا علاقه لري چې سياستوال، هنرمند، عالم يا زما په څېر د يوه صنعتي شرکت رئيس شي. دا مهمه نه ده چې څه کوئ او کوم مسلک ټاکئ، مهمه دا ده چې په ځان باور ولرئ، خپلو هيلو ته په ضمير کې ځای ورکړئ، بيا که تاسې وغواړئ، هرومرو بريالي کيدای شئ.

دا مه هېروئ! نن چې څه شته دا ټول يو وخت ناشوني وو.

# [۳]

# هڅه وکړئ چې ښه شئ

د جګړې په موده کې زه خپلې کورنۍ سره له سئول وتښتېدم او په (تاګو) کې د جګړه ځپلو کډوالو په توګه مېشت شو. پلار يې زما له مخکې نيولی او شمالي کوريا ته استولی و، مشر ورور مې په پوځ کې خدمت کاوه؛ نو ماته په څوارلس کلنۍ کې کورنۍ راپه غاړه شوه. د جګړې په هرج و مرج کې زما په عمر خلکو ته چندانې کار نه پيدا کېده، له ښه مرغه د پلار يوه پخواني شاګرد مې د يوې ورځپاڼې په دفتر کې کار کاوه او ماته يې د ورځپاڼې پلورلو لين راجوړ کړ.
د (تاګو) په ګڼ بازار (پانجون) کې به ما په دوکاندارانو ورځپاڼې پلورلې، څنګه به مې چې ورځپاڼې ترلاسه کړې بازار ته به په منډه شوم، څکه که مې لاره کې ورځپاڼې پلورلې وی، بازار ته ناوخته رسېدم او زما ګټه د نورو ورځپاڼو پلورونکو لاس ته تله؛ نو ما به هره ورځ بازار ته تر ټولو مخکې ورځپاڼه رسوله، خو بيا هم په ټول بازار نه شوم واکمنيدی. څکه ما به چې وختي ورځپاڼه ورسوله، تر څو به مې چې هغه دوکاندارانو ته ورکوله او هغوی به يې پيسې راکولې په دې ارزښتناک

وخت کې به رانه بل ورځپاڼه پلورونکی مخکې شو او د سترګو په رپ کې به یې ټول بازار له پښو وویست.

ما باید د کورنۍ مړولو لپاره د ورځې سل ورځپاڼې پلورلای وی، مور او دوه واړه ورونه به مې ماته کور کې سترګې په لار ناست وو. ما باید خپلې ټولې ورځپاڼې پلورلای وی، ددې لپاره ځینو نویو لارو چارو ته اړتیا وه، ما به ځان سره بازار ته ډېرې ماتې پیسې وړلې او په ورځپاڼه کې به مې کېښودې، ورځپانه به مې دوکان ته واچوله، بیا به مې له دوکانداره پیسې زر را واخیستې او مخ په بل دوکان به شوم، په دې توګه مې د وخت په تېرېدو د بازار دوه په درېیمه برخه لاس لاندې شوه، خو دې ټولو سره به بیا هم د نورو ورځپاڼو پلورونکي تر ما رارسېدل.

ما باید خپل تکتیک بدل کړی وی او دا کار مې هم وکړ. دا ځل به چې ځنګه بازار ته ورسېدم زر به مې هر دوکان ته ورځپاڼې ور ګوزاره کړه او په بېرته راتګ او اوزګار کې به پیسې ټولولو ته راتلم. په دې توګه راته هېڅ ورځپاڼه پلورونکی نه شو رارسیدی، البته ټولو به په دې ورځ او موقع پسې نه راکولې خو په دې توګه مې کولای شول چې ټولې ورځپاڼې وپلورم او څو ورځو کې یې پیسې ترلاسه کړم. څو میاشتې وروسته نورو ورځپاڼو پلورونکو بازار کې ورځپاڼې پلورل بند کړل او ټول بازار یوازې ماته پاتې شو.

زه فکر کوم له دې تجربې وروسته په دې پوه شوم چې که هڅه وکړو په هر ډول سختو شرایطو لاس بري کیدای شو، په دې خاطر مې سوداګرۍ کې ډېره هڅه کوله چې تر ټولو غوره ووسم. البته تراوسه د رضایت پوره احساس نه لرم، خو وایم چې په هر کال کې لا نورې بریاوې هم ترلاسه کولای شم.

Scanned by CamScanner

که څوک غواړي چې د غوره خلکو په ډله کې راشي، بايد خپلو موخو ته د رسېدو لپاره پرلپسې هڅې وکړي. که تاسې تر خپله وسه هڅه وکړئ؛ ښايي تل د غوره خلکو په قطار کې رانشئ، خو دا په ډاډ ويلای شم چې ستاسې او غوره خلکو تر منځ به څو گامه واټن وي. که بيا داسې فکر کوئ چې يو کار نه شئ کولای او غوره توب وړتيا نه لرئ؛ نو په هېڅ يوه کار کې نه شئ بريالي کېدای. زه دا منم چې کارونه مهم دي، خو کارونو سره چلند تر دې هم مهم دی. ستاسې چلند بايد داسې وي چې هر کار ته لاس واچوئ او پرمختگ پکې وکړئ. که غواړئ سياستوال، سوداگر، انځورگر، څېړونکی يا بل هر څه شئ، هڅه وکړئ چې په خپله رشته کې تر ټولو غوره ووسئ. يوازې د ستونزې د حل هڅه مه کوئ، د غوره خلکو برخه ووسئ او په خپل ټول وس د موخو ترلاسه کولو هڅې وکړئ. څوک چې په خپله رشته کې لوړ موقف ته رسي، لامل يې دا دی چې لويې موخې ټاکي او بيا يې ترلاسه کولو لپاره تر ټولو ډېرې هڅې کوي. شکمنې هڅې انسان بريا ته نه رسوي. څو کاله مخکې د مجارستان د يوې لوبډلې غړي سره مرکه کېده، دوی اروپايي لوبو کې اتلولي گټلې وه.

يو خبريال ترې د بريا علت وپوښت، ده ورته وويل چې فرصت پيدا کړي فوټبال کوي، که نه وي د فوټبال په اړه غږېږي او که غږېږي نه؛ نو په اړه يې فکر کوي.

د فوټبال غوره لوبغاړی له موره غوره لوبغاړی نه وي زېږېدلی؛ بلکې په دې لاره کې يې هڅې کړې. هر څوک کولای شي تر ټولو غوره ووسي، يوازې هغه خلک بره تلی شي چې ځان خپلو موخو ته وقف کړي او په دې لړ کې کومې معجزې ته هم اړتيا نشته. ډېر خلک د

Scanned by CamScanner

ډايوو د حيرانوونکي پرمختګ په اړه غږېږي، خو دا بريا موږ ته کومه معجزه نه وه. موږ يوازې هڅه کړې چې په خپله څانګه کې تر ټولو غوره شو.

ما تل هڅه کړې چې ډايوو شرکت تر ټولو لوړ مقام ته ورسوم. ما دا ټينګار کړی او لا يې کوم چې زموږ کارکوونکي که له غوره برياوو ګټه واخلي، د کار تر ټولو لوړې کچې ته رسيدی شي. زه هېڅکله په خپلو اوسنيو لاس ته راوړنو راضي نه وم او تر دې لوړو موخو ته د رسېدو له هڅو مې لاس نه دی اخيستی، ځکه په هر کار کې د افسوس او اسويلو د مخنيوي يوازينۍ لاره سرسختې هڅې دي.

نو تاسې ځوانان هڅه وکړئ چې په کار کې بوخت يئ، ځان پکې تر ټولو لوړ ځای ته ورسوئ، حتی دا فکر هم مه کوئ چې بل څوک به ګني ستاسې پر ځای دې مقام ته رسېږي.

بل چاته صيب ويل خوند نه کوي او سپک غوندې کار دی، هېڅکله په دويمه درجه قناعت مه کوئ، داسې مه ګڼئ چې د مشرۍ وړتيا ګني نه لرئ، ځان سره پرېکړه وکړئ چې لوړ موقف تاسې ته ځانګړی شوی دی، تاسې خپلو هڅو ته د رسېدو لپاره تر ټولو ښې او غوره هڅې وکړئ، بلاخره به مو په زړه پورې ثمره په نصيب شي.

Scanned by CamScanner

# [۴]

## نړۍ ستاسې ده

۱۹۷۶ز کال کې مې په لومړي ځل د کوریا موټر شرکت ترلاسه کړ، په دې برخه کې مې د ټکنالوجۍ ودې او پراختیا ته هم پام شو، دا چې په ډایوو شرکت کې د بریا اصلي لامل ټکنالوجیکي پرمختګ و، ما پرېکړه وکړه چې ددې شرکت ځینې کارکوونکي د مسلکي زده کړو لپاره د المان (مان) شرکت ته واستوم. هغه وخت ډایوو مان شرکت سره د مسلکي همکاراېو هوکړه لیک لاره. زموږ د شرکت د څانګو رئیسان او معاونین زیاتره د مهندسۍ له څانګې فارغ وو، ما دې بهرني روزنیز سفر ته له دې ډلې ۱۲ کسان وټاکل.

یو شمېر او په ځانګړي ډول د تولید د برخې مسئولین له دې کار سره مخالف وو، دوی ویل چې دا دولس کسان په کلیدي پوستونو کار کوي او تګ به یې په تولید منفي اغېز وکړي، دوی د شرکت غم کاوه خو زه په دې نظر وم چې دې چارې کې باید د ډایوو شرکت د اوسنیو لنډمهالو اړتیاوو پر ځای اوږدمهالو ګټو ته پام وشي، ما ویل که غوره ټکنالوجي ونه لرو، شرکت ته د پرمختګ لارې ته نه شي برابرېدی،

بلاخره مې د تولید د برخې مسئولین قانع کړل، دا لنډمهاله محرومیت په اصل کې د شرکت د اوږدمهالو پرمختګونو لپاره پانګونه وه.

زموږ کارکوونکي چې له المانه راستانه شول، یو کال وروسته د تولید د برخې مسئولین پوه شول چې زما پرېکړه سمه وه، ځکه دې کسانو په یو کال کې دومره مسلکي زده‌کړه او تجربه ترلاسه کړې وه چې زموږ د شرکت مسلکي معیارونه یې پنځه سلنه لوړ کړل.

لکه مخکې مې چې وویل تاسې کوریایي ځوانان به د یوه پرمختللي ملت په توګه یادېږئ. دا پرمختګ د ماته ورته نسل په قربانۍ ترلاسه شوی دی. موږ غوښتل چې کوریایي نسل دې مخ پر ودې حالت کې نه؛ بلکې پرمختللي حالت کې راتلونکي نسل ته وسپارو؛ نو تاسې پراخه لید ته اړتیا لرئ او په عین حال کې باید هغه ارزښتونه ولرئ چې معاصره نړۍ کې ستاسې مسئولیت دی.

په لومړي قدم کې باید راتلونکي ته وګورئ، داسې خلک هم شته چې ټول افکار یې تېر وخت پورې تړلي وي او هره خبره په دې پیلوي چې (پخوا به ...)، دا ډله خلک خپل تېر وخت رانده کړي او له راتلونکي هېڅ تصور نه لري، البته په اوسنیو افکارو او ایډیاوو له حده ډېر ټینګار هم ستونزې زېږوي.

یو څو کوریایي متلونه درسره شریکوم: (ژوندی سپی له مړه منصبداره ښه دی)، (مړه خېټه حسد له منځه وړي) دا متلونه که څه هم پخواني دي، خو اوسني حالات هم رانغاړي. دا اوسني واقعیت ته د کوریایانو فکري مشغوله ښيي. پرون پورې ځان تړل او نن اسانتیا او هوساینه غوښتل، مو له سبانیو بریاوو منع کوي.

د ټولنې رغون لپاره راتلونکي جوړوونکو ارزښتونو ته اړتيا لرئ، دا ارزښتونه د ښه راتلونکي لپاره قرباني او پانګونه ده.
د ماراتن ځغاسته ۴۲،۱۹۵ کيلومتره ده، ځغاستونکی بايد د وروستی کرښې په نظر کې نيولو سره په دې ټوله موده کې خپله چټکتيا تنظيم کړي. نو تاسې هم بايد د ښه سبا لپاره نن قرباني ورکړئ. لنډپاري پريږدئ او په تېروتنه هم اوږدمهالې ګټې په لنډمهالو ګټو مه بدلوئ. ژوند يوه ورځ نه دی، تل په خوبونو او خيالونو کې فکر کوئ چې د سبا ورځې اتلان او رهبران ياست، که داسې ونه کړئ د ژوند په ډګر کې به د لومړي کس پر ځای يوازې د لښکر سپاهي وسئ.
په ضمن کې تاسې ځوانو کورياياونو ته يو نصيحت کوم، تاسې هغه خلک يې چې د پرمختللې کوريا د لومړي نسل په توګه مو نړۍ ته سترګې غړولي. سره له دې چې نړۍ ډېره لويه ده، خو دې وروستيو څو کلونو کې په نړيوال کلي اوښتې، موږ کولای شو چې همروزه جاپان ته لاړ او بېرته راشو، ۵۰ کاله مخکې يې چا فکر هم نه شو کولای.
کوهي کې پرته چونګښه د نړۍ د پراختيا فکر هم نه شي کولای، هر څومره چې د غره څوکې ته پورته کېږئ، ليد مو پراخېږي. د عظيمې نړۍ ليدل مو ليد ته وده او پراختيا ورکوي، دا درسره مرسته کوي چې لنډپاري او موذيتوب (ځانځاني) پريږدئ.
د فعاليت له پيله مې نړيوالو بازارونو ته سترګې وې، خو هغه وخت هېڅ يوې کوريايي ادارې نړيوال بازار ته پام نه کاوه. دا ناپامي اصلاً زموږ په ګټه وه، ځکه نړيوال بازارونه د کورنيو بازارو اپوټه محدوديت نه مني.
په همدې دليل ما په خپله لاره کې شته خنډونه مات کړل او نامحدودو

بازارونو ته مې لاره پیدا کړه، دې کار سره د ډایوو د ودې او پرمختګ لامل شوم.

مور د هغه کسانو ګومارنې ته لومړیتوب ورکاوه، چې د مبارزې په روح به یې نوې نړۍ رامنځته کول غوښتل او هېڅکله یې په نړیوال بازار کې له نفوذه سترګې نه پټولې. دا د ډایوو شرکت د اصلي روحیې انعکاس دی.

تاسې ځوانان زموږ د هیواد راتلونکي اتلان یئ او هیله لرم چې د نړۍ مشران هم شئ. تاسې چې د لومړي پرمختللي کوریایي نسل په توګه نړۍ کې ګام ږدئ، له تاسې هیله لرم چې خپلې مخې ته پرتې نړۍ ته په پراخه لید وګورئ، دې لید سره پرمخ لاړ شئ، حرکت وکړئ، په پخواني او اوسني وخت کې مه ډوبیږئ او ځان د خپل هیواد په جغرافیه کې مه بندوئ.

راتلونکی وخت او راتلونکې نړۍ دواړه ستاسې دي!

Scanned by CamScanner

# [۵]

## بنسټيزو علومو ته کتنه

کوريا کې طبيعي سرچينې په نشت حساب دي، دا د ډېر نفوس لرونکی کوچنی ملت دی، خو موږ يوه لويه پانګه هم لرو، دې پانګې موږ ته دا قوت راکړی چې خپل ځان پرمختللیو صنعتي هيوادونو ته ورسوو. دا قوت ددې هيواد باسواده او ممتازه کاري انرژي او په عين حال کې هر ډول هڅو او قربانۍ ته چمتو ده.

ددې کاري انرژۍ په برکت مو وکړی شول چې خپلې ټکنالوجيکي وړتياوې د نړۍ تر ټولو لوړې سطحې ته پورته کړو. موږ يوازينی ملت يو چې نړيوالو روزنېزو دورو کې مو د مسلک او صنعت په برخه کې څو څو ځله مډالونه اخيستي او خپل هيواد ته مو وياړونه راوړي. له دې امله زموږ د صنعت او مونتاژ ټکنالوجۍ زموږ صادراتي توکي د نړۍ له ډېرو پرمختللیو هيوادونو سره د پرتلې وړ کړي دي.

خو يوازې صنعت بسنه نه کوي، د نننۍ توليدي ټکنالوجۍ اساس له نوښت او خلاقيت سره اړيکه لري. د خلاقيت بحث کې بيا زموږ هيواد چنداني خبرې نه لري، ځکه موږ تراوسه يوازې د ټکنالوجۍ تطبيقي علومو ته پام کړی او بهرنيو ته ورته توکي مو توليد کړي دي، له دې امله په بنسټيزو علومو کې له پانګونې پاتې يو. په موږ کې بنسټيز علوم نشته، که ددې علومو برخه فعاله نه کړو، يوازې تقليد او تشبيه کې به تکړه يو؛ نو موږ

باید مخکې له مخکې بنسټیزو علومو ته پام وکړو او پانګونه پکې وکړو، چې په نننۍ نړۍ کې د تقلید تر څنګ خپله ټکنالوجي هم تولید کړو. د وخت په تېرېدو هغه هیوادونه له صنعتي هیوادونو واټن اخلي چې په ټکنالوجۍ کې یې کافي پرمختګ نه وي کړی. که تاسې داسې کور کې ډېره شئ چې بنسټ یې قوي نه وي، تل به په وېره او اندېښنه کې یاست، لکه څنګه چې کور بې له جوړېدو دوام نه شي کولای همداسې بې له بنسټیزو علومو د ټکنالوجیکي پرمختګ تمه نه شو لرلای. که غواړئ چې ونه مېوه ونیسي؛ نو ریښې یې باید قوي وي او ودانۍ چې څومره لوړېږي، بنسټونه یې باید همدومره کلک شي.

نو اوس وخت ددې دی چې هیواد مو د بهرنۍ ټکنالوجۍ د تقلید او اقتباس له پړاوه ووځي او خپل ټکنالوجیک صنعت مخ ته یوسي. ډایوو شرکت تراوسه ډېر شمېر محصلین بهر ته د تحصیل لپاره لېږلي دي، د ۲۰۰۰ز کال په لومړیو کې به ددې شرکت ۱۰۰۰ تنه کارکوونکي د دوکتورا سند ولري.

ډایوو بنسټ د بنسټیزو علومو په برخه کې ځانګړې مرستې کوي او ددې څېړنو پایلې د ډایوو په علمي ټولګو کې خپرېږي، موږ دې سیاست ته په دې دلیل دوام ورکوو چې بنسټیز علوم د تمدن د ونې اصلي او اساسي ریښه ده.

کوریا کې موږ یوازې د کار باسواده انرژي لرو، که غواړو چې پرمختللیو هیوادونو سره سیالي وکړو کوریایي ځوانان باید بیلابیل علوم زده کړي او هڅه پکې وکړي. زه هیله لرم چې تاسې ځوانان به د خپلې خوښې مسلک، په بنسټیزو علومو کې تحصیل ته دوام ورکړئ.

Scanned by CamScanner

البته اوسني معاصر او پرمختللي علوم خپل ارزښت لري، خو ددې ټولو علومو اساس په بنسټيزو علومو کې پټ دی، بې له بنسټيزو علومو نور علوم پرمختګ نه شي کولای.

اوس به بنسټيز علوم د ورځنيو مسايلو له مخې بررسي کړم. کوريا له هغو هيوادونو دی چې شربتونه (نوشابې) پکې ډېر ښڅبل کېږي، خو پوښتنه دا ده چې زموږ څومره خلک ددې شربتونو د پيل په تاريخ پوهېږي؟

سره له دې چې موږ يې ډېر څښو، خو اوس هم نه شو کولای چې په نړيواله کچه شربت يا نوشابه توليد کړو، ځکه موږ يې په بنسټيزو اصولو نه پوهېږو.

ددې شربتونو تر څنګ ځينې نور وارداتي توکي مثلاً ماشينونو، منسوجاتو، دستګاوو او نورو کې هم ورته حال سره مخ يو؛ نو يوازينی لاره همدا راپاتې چې موږ له بهرنيو پرمختللو هيوادونو تقليد وکړو. بيا هم زموږ ځينې کورنۍ صنعتي ادارې لګيا دي خپلې صنعتي خبرتياوې تبليغوي او زياتره يې د کمپيوټري ګرافيک په مرسته خپلې ټکنالوجيکي وړتياوې خلکو ته ډېرې لوړې ښيي، خو په حقيقت کې ددې تبليغاتو تر شا هيڅ مهم شی نه وي.

ورځني مودونه يا فيشنونه زر ختمېږي. که څه هم هر څه زر بدلېږي خو د ژوند ثابت اصول هيڅکله نه بدلېږي، سره له دې هم بنسټيز علوم د علم او پوهې اساس دی او هيڅکله نه بدلېږي. له دې مخکې چې ورځنيو او موقتي مودونو ته مخه کړئ، هيله‌من يم چې خپل پام به د ژوند اصولو ته را واړوئ.

اوس زموږ په ټولنه کې اساسي اصول له پامه غورځول شوي، خو ټولنه دې اصولو ته له هر وخته ډېره اړتيا لري. کوريايي ټولنه شيندل شوې،

Scanned by CamScanner

بې ثباته، ناخوندي او بې معیاره شوې ده او هر څه ته پکې اصول نرم او اسانه شوي دي.

زه خو کله کله وایم چې د ژوند اساسي اصول ګڼي دې زموږ نسل بیخي له یاده ویستي دي.

که یو نسل د پیروۍ لپاره سم اصول او تګلارې ونه لري، ځوانه یې د بې ثباتۍ ښکار کېږي، که اصول ونه ساتل شي، د ځوانۍ ستنې لړزېږي. که د ځوانۍ خلک د خپل ژوند اصل ونه پېژني او په اساسي مفهوم یې پوه نه شي، د ژوند لارې چارې یې هم د هندارو د تصویرونو غوندې ناڅاپي او بې ثباته کېږي. نو موږ باید د ژوند اصول او حقیقي ارزښتونه وپېژنو، هغه مفاهیم باید زده کړو چې د ژوند ښې بدې راښیي، په ژوند او ارزښتونو باید سم پوه شو او د یوه حقیقي انسان په توګه ژوند وکړو.

رابرت فول ګام یو کتاب لیکلی : (څه مې چې ژوند کولو ته په کار وو، وړکتون کې مې زده کړل)، دا کتاب ولې ډېر وپلورل شو؟ دلیل یې دا دی چې لیکوال په کتاب کې د ژوند اصولو ته اشاره کوي. دا هغه اصول دي چې انسان یې وړکتون کې زده کوي، نه له پوهنتونه تر فارغېدو وروسته. دغه کتاب د ژوند ساده او موثرې لارې چارې په ساده ژبه بیانوي، په لوستو یې پوهېږو چې کوم اصول باید وساتو او کوم یې له لاسه ورکړو، د ځوانۍ عمر کې تاسې اصول زده کوئ او که وروسته پرې سم عمل وکړئ ژوند به مو له خوندونو ډک شي، خو که دې اصولو ته پام ونه کړئ او په ژوند کې موقت خوندونه او اسانتیاوې ولټوئ، دا به داسې وي لکه سړی چې په شګو کور جوړوي.

[٦]

# پیسې خپله هیڅ شی نه دي

هوښيار خلک له وخت او پيسو ښه ګټه اخلي؛ نو تاسې بايد پيسې يا وخت بې ځايه مصرف نه کړئ. له ماشومتوبه پيسو سره خوږ چلند وکړئ، البته خپله پيسې نه ښې دي نه بدې، بس د کارولو بڼه يې ښه او بد ټاکي.

پيسې هلته وکاروئ چې هم تاسې او هم نورو ته ګټه ولري. په زده کړو، درملنې او چا سره د اړتيا پر وخت مرستې لپاره پيسې لګول ښه کار دی، دې چارو کې بخيلي مه کوئ. يوازې له ځانه دا پوښتنه وکړئ چې لګول شويو پيسو تاسې يا بل چاته ګټه ورسوله که نه؟

دې خبرې ته په پام حتی يو غيران هم بېځايه مه لګوئ. پيسې بې ځايه مه لګوئ، يعنې څه مو چې نه وي په کار مه يې اخلئ.

د ځينو خلک به شی په کار نه وي، خو د ارزانۍ له امله يې اخلي، يا چې يې يو وار وګوري بيا يې د بيې کيسه کې نه وي، زما په نظر دا ښه نه کار دی.

Scanned by CamScanner

د کوريا موټر جوړولو شرکت مې چې واخيست په کاريگرو کې د انګيزې او ملګرې ډېرو لپاره د هوساينې رامنځته کولو په لټه شوم.
۱۹۷۶ کال کې، په کوريا کې د کارکوونکو هوساينې پروګرام بيخي نوی و، خو ما وويل چې دې موضوع ته بايد پام وشي او د تشناب، سقاوې، خوب خونو او بې واده هغو ته مې د مېلمستون جوړولو امر ورکړ.
د ځانګو مشرانو مخالفت کاوه، ځکه دې پروژو ميليونونه ډالر لګښت درلود او دا هغه وخت ډېرې پيسې وې.
زه د ځانګو د رئيسانو په خبره پوهېدم، ځکه د شرکت پانګه ايله ددې اسانتياوو د لګښت دوه چنده وه. دوی ويل که دا پيسې په هغو طرحو ولګول شي چې د شرکت په توليد مخامخ اغېز ښندي؛ نو ښه به وي. بله دا چې شرکت هم د بوديجې له کسر سره مخ و، رئيسانو احساسوله چې دې نورو چارو ته رسېدل لومړيتوبونو کې راځي.
البته زه دا نشم ويلی چې هغوی په غلطه وو، خو د ځان په اړه مې هم شک نه درلود، پرېکړه مې دا وه چې دا پيسې به لومړی د کارکوونکو د هوساينې په پروژه لګي، ځکه ما ويل که د کارکوونکو روحيه لوړه شي، د شرکت توليد به ورسره خپله لوړ شي. دې تولو سره مې بيا هم ددې کار لپاره هېڅ زړه‌مه نه لرله، ځکه شته پيسې د اوږدمهالي پانګونې لپاره وې، خو ما ددې پروژې لګښت په پام کې نيولی و. ما ويل دا پيسې بايد په دې طريقه ولګول شي او شمېر يې ارزښت نه لري. ما تل داسې فکر کړی دی، هېڅ وخت ارقامو او اعدادو ته اندېښمن نه وم او نه به يم، خو که پوه شم چې پيسې په ناسمو لارو مصرفېږي؛ نو بيا تر ما بخيل سړی نشته.

Scanned by CamScanner

هغه وخت مو د کارکوونکو د لېږد رالېږد لپاره ځینې بسونه په نظر کې نیولي وو، دې بسونو به هره ورځ کارکوونکي له سئیول نه تر اینچون زموږ فابریکې ته راوړل، لاره نږدې شل میله وه، هره ورځ به یو بس ۵۰۰ وانه د سرک د عوارضو په نوم ورکول، ۵۰۰ وانه یو ډالر کېده. بیا ما فکر وکړ چې که بس فابریکې ته له راسېدو مخکې له اصلي سرکه ووځي او په فرعي کوڅه راشي؛ نو موږ په هره پېره کې ۲۵ سنټه ګټلای شو. سره له دې چې دا دومره پیسې نه وي، خو ما یې د مصرف لپاره هېڅ دلیل نه لیده.

زه زیاتره خپلو اداري همکارانو ته د مبارکۍ ډالۍ اخلم، دا ختین یا لاسي صعنتي توکي وي. زیاتره وخت دوکانداران ماته لوړه بیه وایي، ځکه پوهېږي چې زه د یوه لوی شرکت رئیس یم، خو زه ورسره ښه په صبر او حوصله چنې وهم او بیې راټیټوم، ځکه په ارزانه شي ولې ډېرې پیسې ورکړم؟ ښایي دوکاندار فکر وکړي چې زه ګني یوازې ارزانه توکي اخلم، خو زه داسې فکر نه کوم.

موږ باید دا فکر بدل کړو، چې په لاس پراخه (ډېر مصرفوونکي) خلک ښه ځوانان دي او ځوک چې پیسې لري په پام مصرفوي دوی ګني په ارزانه شیانو پسې ګرځي یا سغن دی. زه به ښایي بخیل یم چې غواړم ۲۵ سنټه وسپموم او د ختین لوښي لپاره له دوکاندار سره چنې وهم، خو د کارکوونکو په روزنه او هوساینه میلیونه ډالر بې له کوم بخل او شکه مصرفوم.

د ډایوو فابریکې چاپېریال چندانې نه چټلوي، خو که چېرې اړتیا شي، موږ بې له شک او ځنډه ددې فابریکو په وده بې خرتې پیسې لګوو، چې چاپېریال چټل نه کړي. که کارکوونکی مو د کار په وخت کې مړ

Scanned by CamScanner

شي؛ بیا یې کورنۍ ته د پیسو ورکولو په وخت په شونډو ځیګه شړۍ نه راکاږو، موږ پوهېږو چې پیسې چېرته او څنګه په سمه توګه ولګوو. د هر شي سهي وخت یا فرصت د پیسې مصرفوونکي انسان په فکر او پوهې پورې اړه لري.

که له ځوانۍ د پیسو سمپولو فکر وکړئ دا د ژوند ښه پیل دی، په یو وار د ټولو پیسو مصرفول ښه کار نه دی، ښه طریقه دا ده چې لږې سبا ورځ ته پرېږدئ، (جان ورلی) یو تبلیغي دی، دی وایي چې ښې ډېرې پیسې وګټئ، ویې ساتئ او بیا یې ښې ډېرې د خدای په لاره او د مخلوق په ښېګڼه کې ولګوئ، خو زه ورسره دا خبره زیاتوم چې یو غیران هم بې ځایه مه لګوئ.

Scanned by CamScanner

[۷]

# سیالي

موږ د سیالیو په نړۍ کې اوسو او خبره تر دې راغلې چې ژوند کول خپله سیالي ګرځېدلې. که د لوبي لومړي قطار کې نه شئ، باېلونکي یئ، خو لوبه یوازې د سرو زرو یو مډال لري.

هر لوبه خپل اصول او قوانین لري، که لوبغاړي قانون مات کړي جریمه کېږي، خبرداری ورکول کېږي او حتی له لوبې کښېنول کېږي.

ډایوو شرکت د (ډایوو رایلز) په نوم د فوټبال مسلکي لوبډله لري، څو کاله مخکې د کوریا فوټبال فدراسیون د مدیره هئیت رئیس وټاکل شوم، فوټبال کې یوازې دوه ګول ساتونکي په لاس د بال راخیستو حق لري، په پونده بال وهل او د بل لوبغاړي مخه نیول جرم حسابېږي، فوټبال روغه او عادلانه لوبه ده.

ژوند هم د فوټبال غوندې اصول او قوانین لري او موږ هم د ژوند لوبغاړي یو. موږ باید عادلانه سیالي وکړو، ګني ژوند به راباندې بوج شي. د ژوند لوبه کې تر ټولو مهمه موضوع دا ده چې موږ ښه او عادل سیالان ووسو. په سمه لاره بایلات له ناسمې لارو ګټې نه ډېر ښه دی.

موږ روغ او عادل لوبغاړی تر هغه ټګ یا غالیجن لوبغاړي ښه ګڼو چې د ګټې لپاره هر څه کوي.

که د سیالۍ زمانه کې ژوند هم کوو، د تضاد او انزوا ښکار باید نه شو.

سیالي په دې معنا نه ده چې سیال مات او له میدانه وباسو، بلکې سیالي باید داسې وي چې د ټولو ګډونوالو ژوند پکې وده وکړي، که داسې وي ښايي یو ملګری یا ښوونکی تر ټولو ښه او ګټور سیال شي.

مثلاً د ماراتن ځغاسته نظر کې ونیسئ، یوازې چټک ځغلېدونکی ریکارډ نه جوړوي، بلکې ریکارډ هله جوړېږي چې دوه کسان سره سیالي وکړي، یو کس چې له بله مخکې شي دویم هیجاني شي، وهڅول شي، چې تېزه منډه ووهي او له خپل سیاله مخکې شي، دا جریان په ټوله لوبه کې روان وي او دواړه لوبغاړي د سیالۍ د انګیزې په مرسته د لوبې ښو ریکارډونو خپلولو ته رسېږي.

سیالۍ ته په دې سترګه ګورئ، یوازې ستاسې نه ده او دا هم سمه نه ده چې د سیالۍ اصول له پامه وغورځول شي. سیالي باید د ټولو په ګټه وي او ګډونوال باید لا ډېرو هڅو او زیار ته وهڅوي، دا د سیالۍ حقیقي اصل دی، که سم عمل پرې وشي نوې انرژي رامنځته کوي.

سیالي باید د خلکو د تضاد او انزوا لامل نه شي، ځکه د لوبې اصلي موخې د ورتیاوو تقویت دی، ګڼي سیالي به له یوې خوا خلک او له بلې خوا ښه اخلاق هم له منځه یوسي. که سیالۍ یوازې خپله وګڼئ، په اصل کې مو د خپل تخریب لاملونه زیات کړي دي.

تاسې نه شئ کولای چې ځانته او د ځان لپاره ژوند وکړئ، که داسې کوئ؛ نو د ځانځانۍ او ځانغوښتنې میکروب مو ښايي اروا ته رسېدلی

وي، دا احساس له ځانه لیرې کړئ، تاسې باید له نورو سره مرسته او همکاري وکړئ.

د بېلګې په توګه که د موټرو صنعت ته یوه کتنه وکړم، دا صنعت تر ډېره ماشینونو، اوزارو او وسایلو پورې اړه لري، دا به ډېره سخته وي چې د موټر جوړولو یو شرکت دې هر څه خپل تولید، مونتاژ او بازار ته وړاندې کړي. موټر له زرګونو پرزو جوړېږي او دا پرزې د موټرو په صنعت کې تولیدېږي، عیناً همدغسې موږ هم د ژوند د هر خاص شي لپاره یو پر بل تکیه کوو.

شرکتونه د ښه تولید لپاره یو بل سره سخته سیالي کوي، دې سره مستهلک یا مصرفوونکي ته د توکي کیفیت لوړېږي. که یوازې یو شرکت موټر جوړولای؛ نو د ټکنالوجۍ کیفیت به چندانې پرمختګ نه وی کړی. مثلاً ښایي موږ تراوسه کالي په لاس وینځلی، خو اوس ددې ټکنالوجۍ په پرمختګ دومره پیسې او انرژي لګېدلې چې حساب یې نه کېږي. شرکتونه دا هر څه مني او هڅه کوي چې تر ټولو ښه تولید وړاندې کړي او له خپل سیاله مخکې شي، دا بیخي د هغه لوبې غوندې ده چې مخکې مې ورته اشاره وکړه، که یو له بله مخکې شي وروسته پاتې شوی کس هڅه کوي چې د وروسته پاتې کېدو د جبران لپاره لا ډېره هڅه وکړي.

مثلاً په امریکا کې (آویس) شرکت خلکو ته موټر په کرایه ورکول، د دوی شعار و چې(موږ به لا ډېره هڅه وکړو) په دې سیالیو کې شرکتونه یو بل سره دښمني نه کوي، بلکې د یو بل ملاتړي وي، خو ددې لوبې اصلي ګټونکی مستهلک یا د توکو کاروونکی دی. ځینې شرکتونه په سیالۍ کې افراط کوي او له ناسمو لارو چارو ګټه اخلي، مثلاً د سیالانو

Scanned by CamScanner

پر ضد تبلیغات کوي او له ځینو لارو په دې هڅه وي چې سیالان یې په نړیوال بازار کې پانګونه ونه کړي او تولید امتیاز ترلاسه نه کړی. دا شیان بیا د لوبې اصلي مهفوم او عدالت له منځه وړي.

تاسې به اورېدلي وي چې په مینه او جګړه کې هر څه روا دي، خو په عملي سیالۍ کې ناسمې لارې چارې هېڅ هدف نه توجیه کوي. بې عدالته لوبې د حقیقي سیالیو قانون ماتول دي او تاسې باور وکړئ، اصلي او وروستي ګټیالي هغه دي چې انصاف او صداقت ولري.

په صداقت ۹۰ نومرې په دروغو له ۱۰۰ غوره دي. ځکه دا ۹۰ نومرې به ستاسې د خپلو هڅو پایله وي، نه ژوند دومره لنډ دی او نه به ګني ۱۰۰ ستاسې وروستۍ نومرې وی. که په خپل زیار ۹۰ نومرې وګټئ ستاسې د راتلونکو بریاوو قوي بنسټ دی او ټګ انسان به اخر هم په دام کې نښلي.

په (ګو) لوبه کې یوه اصطلاح ده، چې معنا یې په اصولو لوبه کول دي؛ نو همداسې په ژوند کې هم اصول شته، لوبه ښایي په چل ول وګټئ خو د ژوند په اصلي لوبه کې به بلاخره له هغه چا ماتې وخورئ چې په اصولو لوبه کوي.

نو هیله لرم چې هر یو مو د زده کړو په موده کې ښه سیالي وکړئ. که څوک مو سیالۍ ته ننګوي تر هغه دوسته ښه دی چې هسې د وخت ضایع کولو لپاره درته راځي، هڅه وکړئ چې سیال سره مننه ووهئ او هغه ته ښه سیال اوسئ، په دې توګه به دواړه ښه، روښانه او ډاډمن راتلونکی ولرئ.

Scanned by CamScanner

# [۸]

## د رهبرۍ مقام

له پاکې چينې روڼې اوبه راوځي. دا پخوانی کوريايي متل او حقيقت دی، ځکه سرچينه بايد پاکه وي چې پاک سيندونه او روانه رودونه ترې را وبهيږي.
ټولنه هم همداسې درواخله، د ټولنې رهبران دې روغ او پاک وي چې ټولنه روغه پاتې شي. دا به دروغ نه وي که ووايو چې ټولنه يې له رهبرانو پېژندل کيږي؛ نو د چينې متل ټولنه کې د رهبرانو په ونډه ټينګار دی. موږ داسې رهبران غواړو چې د ټولنې خلک ترې الهام واخلي، دوی پر ځان باور ولري او زړور وي.
هر څوک نشي رهبر کېدای، خو هره ټولنه بايد کافي رهبران ولري. کورياييان وايي کښتۍ کې چې څومره ماڼوګان ډېر وي هومره به منزل ته خوځيږئ، ګني ځای په ځای به ولاړه وي. نو په کار خو دا ده چې څوک يې وړتيا لري هغوی رهبران شي. څوک چې داسې کسان ونه لري، د ستونزو او مسايلو په خوړ کې به مزل کوي.
رهبر بايد کومې ځانګړنې ولري؟ بېلابېلې وړتياوې بايد ولري، ټولنې ته بايد لارښوونه وکړي او بېلابېلې ډلې رهبري کړي. د ټولنې ځينې طبقې له رهبرانو د خارق العاده وړتياوو تمه کوي او هغه دا چې د ښه رهبرۍ په

مرسته ټولنه کې شته ستونزې اصلاح کړي او انساني انرژي د ټولنې په پرمختګ او هوساینه کې وکاروي. مهم ټکی دا دی چې رهبري له دیکتاتورۍ سره یو ډول ونه بولئ. ځینې رهبران د یوې ډلې مسئولیت لري او د همدې ډلې په ضد بېرته فعالیتونه هم کوي، زما موخه له هغو رهبرانو؛ نه ده. پخوا به دې هیواد کې دیکتاتوري، قوي رهبري بلل کېده، خو موږ هغو ته اندېښمن یو چې د رهبرۍ له لازمو او اصلي مسئولیتونو او ژمنو تښتي. دیموکراسي په دې معنا نه ده چې رهبرۍ ته ګڼې اړتیا نشته اپوټه په اوسني وخت کې موږ رهبرانو ته لا ډېره اړتیا لرو، هغو چې رښتیا رهبران وي، د ولس په خوښه وټاکل شي او د خلکو په خوښه عمل وکړي. نو د رهبرۍ د اصلي مقام رامنځته کولو ته باید بېلابېلې ډلې خپلې ټولنې سره له عقلاني لیده چلند وکړي، موږ د رهبرۍ د ولسي سیستم پلویان وو، چې د خلکو د غوښتنو او توافق په اساس دې رامنځته شي.

د رهبر بله ځانګړنه د خپلو ژمنو او دندو د مطلق مسئولیت احساس دی. رهبران باید په ټولنه کې خپلې دندې او مسئولیتونه یو الهی ماموریت وګڼي او داسې فکر دې وکړي چې د همدې کار لپاره زېږېدلی دی. دوی باید خپل ټول ژوند خپلو مسئولیتونو ته وقف کړي او همدا ژمنې او مسئولیتونه دې خپل ژوند وګڼي. که رهبران دا فکر او احساس ونه لري، ټولنه له داسې بې ثباتۍ سره مخ کوي چې خلک به یې بیا هېڅ کله سم کار او فعالیت ونه کړی شي. څوک چې رهبري د خپل شخصي پرمختګ وسیله بولي، له ګرده سره د رهبرۍ جواز نه لري. رهبر باید د قربانۍ ورکولو قوي احساس ولري، د مسئولیت حس او رسالت له همدې ځایه سرچینه اخلي، دا احساسات د یو بل لازم او ملزوم دي. رهبري دا نه ده چې انسان په لوړ مقام یا موقف مقرر شي،

Scanned by CamScanner

بلکې رهبري هغه خلک کولای شي چې د ټولنې د ودې او پرمختګ لپاره د قرباني ورکولو احساس او مسئولیت ولري. رهبري په اغزنه لاره تګ دی، یوازې هغه کس پرې تلی شي چې له خپلو شخصي او کورنیو ګټو ورتېر شي. دا خبره د ټولو ټولنو د رهبرانو په اړه صدق کوي؛ نو هر څوک رهبري نه شي کولای، ځکه په دې پورې اړه لري چې یو څوک د رهبرۍ په لاره قربانۍ ته چمتو دی که نه؟

د ډایوو شرکت له بریا مې کلونه کلونه خپل کورنی ژوند ځار کړی دی، بې له خوب او خوړو مې نور د تفریح او ذوقي کار لپاره یوه شېبه نه لرله. ما د خپل کورني ژوند خوند د ډایوو شرکت د پرمختګ نذر کړی.

لومړیو کې مې مېرمن ګیله منه وه، خو اوس یې زما کاري موقف منلی، ښایي فکر به کوي چې بله لار نه لري. زه باید تل له دې فکر سره ژوند وکړم چې هېڅکله مې خپل بچي چکر ته بو نه تلل، خو فکر کوم کلونه وروسته به مې د کورنۍ غړي زما حالت درک کړي او ښایي لږ ویاړ هم راباندې وکړي. نو زه فکر کوم چې بختور انسان یم او د کورنۍ ددې درک او احساس مننه هم کوم. موږ ټول د کورني ژوند په ارزښت پوهېږو او وایو چې د ژوند خوشالي په کورني ژوند کې راټولېږي، خو د رهبر مسئولیت باید دده له شخصي غوښتنو او اسانتیاوو لوړ وي. که هر سړی یوازې خپلو غوښتنو پسې وي ټولنې ته به څه لارښوونه وکړي. ټولنه باید داسې خلک ولري چې د نورو خلکو په اړه فکر کوي او چمتو دي چې خپله ارامتیا او اسانتیا د ټولنې د سهي لارښونې قرباني کړي. که رهبري غواړئ دې قربانۍ ته باید چمتو شئ.

Scanned by CamScanner

د ډايوو شرکت پرسونلي سياست په همدې بنسټ رامنځته شوی دی، موږ داسې کارکوونکي غواړو چې نوښتګر وي، د مبارزې روحيه ولري او قرباني ورکړی شي، داسې کسان د رهبری شرايط لري، که کوم يې چندانې ډېر نوښتګر نه وي بيا هم ورسره علاقه لرو، ځکه پوهيږو چې کار کولای شي او د خپلو موخو لاس ته راوړلو لپاره هر ډول هلې ځلې کوي.

داسې کسان به د ډايوو شرکت راتلونکي اجرائيوي مديران وي، ځکه د ټولو خلکو ګټې ته يې په خپلو شخصي خوندونو ترجيح ورکړې، دوی پوهيږي چې د ټولنيزې ودې لپاره هلې ځلې تر شخصي ودې مهمې دي. داسې خلک د ډايوو شرکت د بريا او پرمختګ لامل کيږي، ځکه خپله ارامي او خوشالي يې د نورو خلکو د خوښۍ او رضايت نذر کړې ده.

البته ځينې داسې هم شته چې يوازې په خپلو ګټو او غوښتنو پسې ګرځي، دوی زياتره په خپل شخصي او کورني ژوند کې بند وي، دا خلک د ډايوو شرکت بيخي په درد نه خوري، ځکه د شخصي او ټولنيزې ګټې په توپير نه پوهيږي. ډايوو شرکت داسې خلک غواړي چې دا دواړه موضوعات سره جلا کړی شي.

څوک چې په خپل ټول وس رهبري وکړي خلک يې درناوی هم کوي، داسې خلک ټولنې ته د مسئوليت، قربانۍ او د حقيقي ارزښتونو په رڼا کې لارښوونه کوي. د رهبرانو درناوی بايد وشي، يوازې له دې لارې د ديکتاتورانو او رهبرانو تر منځ توپير کولای شو. ديکتاتور د خلکو نه خوښيږي او نه يې څوک په خپل زړه درناوی کوي، د ديکتاتور درناوی له وېرې کيږي، خو له حقيقي رهبرانو هېڅوک نه وېرېږي او له زړه ورته

درناوی لري. هر واک باید له حقیقي واک سره یو ډول ونه ګڼل شي، همداسې مستبد واک هم له رښتینې رهبرۍ سره توپیر لري. رښتینی واک او مقام له درناوي سرچینه اخلي، رهبر باید دا واک او مقام په خپلو هڅو ترلاسه کړي، که یې دا ترلاسه نه کړل ټولنه هم نه شي رهبري کولای. د رهبرۍ واک د رهبر د مسئولیت او قربانۍ له حسه سرچینه اخلي، ځکه یې باید له زړه درناوی وکړو.

زه تاسې ځوانانو ته وایم چې ځان کې د مسئولیت احساس پیدا کړئ. رهبران شئ، خو په دې لاره کې له لنډمهالو خوندونو او لذتونو تېر شئ، د ژوند له اوسنۍ دایرې پراخه ګام واخلئ او د خلکو او ټولنې په وده او پرمختګ کې مرسته وکړئ. هر څوک رهبري نه شي کولای او هر څوک یې باید وهم نه کړي.

خو په بله وینا تاسې هر یو د خپل ژوند رهبر یاست، ځکه بل څوک مو په ځای ژوند نه شي کولای، تاسې د ځان رهبر یاست؛ نو د رهبرانو په اړه مې چې څومره خبرې وکړې ستاسې هر یو په اړه صدق کوي.

که څوک غواړي رهبر شي، هیله لرم چې یادو ټکو ته پام وکړي، یعنې د رهبرۍ وړتیا، د مسئولیت او قربانۍ حس او د بریالي ژوند قوي اراده دې په ځان کې پیاوړې کړي.

Scanned by CamScanner

[۹]

# موږ ټول کوریایان یو

زه نه پوهېږم کوریا کې سیمه ایز تعصب ولې دومره ډېر دی. زه یو کوریایي یم، د چولا سیمې په سویل کې یوه جزیره ده چې چجنو نومېږي، د کورنۍ ریښه مې له هغه ځایه ده؛ نو زه (هونامي) یم. خو زه د پونگ سان په تاآگو سیمه کې زېږېدلی یم، د لیسې دوره مې هلته تېره کړې او د کوریا په جگړه کې له سئول تاآگو ته راتښتېدلی یم، یعنې زه (یونگ نامی) هم یم. خو بیا په سئول کې رالوی شوی یم او لوړې زده کړې مې همدلته کړي؛ نو ویلای شم چې زه (سئولی) هم یم. مهمه دا ده چې زه دې یو ځای ته هم په خاصه سترگه نه گورم، زه یوازې دومره پوهېږم چې زه کوریایي یم، کوریا وړوکی ملت دی او موږ ټول په کوریایي ژبه خبرې کوو.

Scanned by CamScanner

هرځای کې به داسې خلک وي چې مثلاً کرکټ سره لیوني مینه لري او ځینې نور به یې ورسره بیخي نه لري، ځینې خلک ټولنیز دي او ځینې منوزي دي. ځینې کلاسیکه موسیقي خوښوي او ځینې عصري موسیقي اوري. ځینې کورنې ژوند ته سخت پابند دي او ځینې یې بیا چندان کیسه کې نه دي. دا توپیرونه هره سیمه کې شته، خو دا یو نظر یا اختلاف په یوې سیمې پورې ځانګړی نه دی. هېڅ دوه نفره بیخي د یو بل په شان نه دي. که ښه پلټنه وشي پوه به شئ چې ډېرې سیمې له بېلابېلو اړخونو سره ورته دي؛ نو په لومړیو کې د اختلاف پر ځای ورته والي ته پام وکړئ، دې صورت کې انفرادي توپیرونه او اختلافات منلی او درناوی ترلاسه کولای شئ. خو فردي توپیرونه چې د تبعیض لامل شي؛ نو له ستونزو سره به مخ شئ. که څوک شخصي توپیرونه د تعبیض لامل کوي، دا ډېر بد کار دی او له هغه تعصب سره هېڅ توپیر نه لري چې هټلر له یهودانو سره لاره. په روغه ټولنه کې خلک د یو بل توپیرونو ته په درنه سترګه ګوري.

زموږ ټولنه کې تعصب او تبعیض ځای نه لري، زموږ نسل له سیاسي او ټولنیز پلوه دې تبعیض او توپیر ته لمن وهلې او دا چې زه ددې نسل غړی یم د مسئولیت احساس یې کوم. له ځوانانو چې د تعصب سرچینه وپوښتو وایي له مور و پلاره یې زده کړی، زه دې ته حېران یم، دا مېندې او پلرونه بل هېڅ مسئولیت او مهمه موضوع نه لري چې خپلو بچو ته د ولایاتو او ولسوالیو شرمېدلی تعصب لېږدوي؟ تاسې باید هڅه وکړئ چې په دې برخه کې خپل مور و پلار وښئ، ځکه اوس زموږ هیواد یووالي، همغږۍ او یوځای توب ته له پخوا ډېره اړتیا لري.

Scanned by CamScanner

یووالي لپاره باید (زه) په (موږ) واوړي، توپیر یا تعصب د انسان له ځانځانی راپیل کېږي او که د ټولنې په سترګو ورته وګورو؛ نو دا تعصب به یوه ورځ دې توپیرونو ته په احترام واوړي.

یوازې د ځان په اړه فکر، د ځانغوښتنې او نورو سره د اختلاف لامل کېږي، خو که چېرې د (زه) پرځای (موږ) ووایو، په اصل کې د ملګری یوه دروازه پرانیزو او ګټوره دوه اړخیزه اړیکه رامنځته کېږي. بهرني سفرونه به مو سترګې پرانیزي او د (موږ) په اصلي اړتیا او ارزښت به مو پوه کړي، دې سره مو غرور او ځانځاني هم ختمېږي، سیمه ایز تعصبونه داسې دي لکه په کوهي پرته چونښګه چې اسمان ته ګوري، دا په هېڅ صورت د یوه لوی انسان پراخه لید نه دی.

موږ په ډایوو کې سیمه ایز تعصب نه لرو، ځکه تر یوه حده مو نړیوال ذهنیت پیدا کړی. که له هیواده ووتئ د سیمه ایز تعصب په بې عقلۍ به پوه شئ، ځکه هلته موږ ټول په هر صورت د یوه هیواد وګړي بلل کېږو. بهر چې خپل هیوادوال وګورئ سمدستی ورغاړې وځئ او له لیدو یې خوند اخلئ، هلته دا فکر نه کوئ چې دا د هیواد د کومې او زه د کومې سیمې یم، په دې صورت کې بیا ولایات او ولسوالۍ ارزښت بایلي.

زه په دې باور یم چې دا سیمه ایز توپیرونه او تعصبات یو څو پروګرامونو له منځه وړی شي. یوه لاره یې دا ده چې د یوه ولایت محصلین بل ولایت ته لاړ شي او رخصتۍ پکې تېرې کړي، دویمه لاره یې ددې سیمو تر منځ خپلوۍ دي، خصوصاً د (کونیک سانګ) او (چولا) تر منځ، که داسې پروګرامونه وشي زه به یې د زړه تله ملاتړ وکړم.

Scanned by CamScanner

ښه فرض کړئ ماسره يو وړوکی کيک دی او ايله يو کس پرې مړيدای شي، اوس که زه دا کيک د ځلورو کسانو په منځ کې کېږدم او هر څوک يې د خوارک حرص او هڅه وکړي؛ نو هرومرو به يې تر منځ شخړه راځي، ښايي يو کس نيم کېک په خوله کړي، هغه بله پاتې برخه يې بل وتښتوي او دوه کسان به نهر پاتې شي. يا ښايي همدا شخړه په سوک څپېړه واوړي او په کيک پښې کېږدي يا يې چېرته وغورځوي، په دې صورت کې به ټول نهر وي. له بل پلوه که دا ځلور واړه د خپلو وړتياوو په کارولو سره يو لوی کيک پوخ کړي؛ نو د ټولو کار به پرې وشي. که يو څوک دا وړوکی کيک يوازې د خپل ځان وګڼي دده شخصيت تر دې کيک هم کوچنی دی، خو که داسې يو لاره پيدا کړي چې ټولو ته يو لوی کيک راپوخ کړي؛ نو شخصيت به يې تر هغه لوی کيک څو ځله لوی وي.

دلته يوه مهم مطلب ګورو او هغه د مرستې او يووالی خبره ده. يو بل سره چې مرسته وکړو او د کار پايله مو وويشو، په دې وخت کې مو وجود د کار او هڅو په اندازه پراخوالی او پرمختګ کوي. کوم خلک چې په خپلو نويو واده شويو لوڼو پسې خفه کېږي، ددې پرځای دې داسې فکر وکړي چې خدای د زوم په څېره کې يو بل زوی ورکړی دی، دا مسلې سره د چلند ښه طريقه ده. اصلي خبره دا ده چې پېښې څنګه تفسير شي. په ګډ کار کې هېڅوک خپله ونډه نه بايلي؛ بلکې خپله ګټه او نوښتونه څو چنده کوي.

موږ وړوکی ملت يو، حتی د امريکا له زياتره ايالاتونو هم کوچنی هيواد لرو، نږدې ۷۰ سلنه ځمکه مو غرنۍ ده او ډېرې ستونزې لرو. تر ټولو بده دا چې کوريا دوه ځايه شوې؛ نو وبه ګورئ چې سيمه ايز کش

Scanned by CamScanner

مکشونه څومره عبث او بې ګټې دي. سیمه ایز تعصب داسې دی لکه څوک چې کوچنی کیک یوازې د خپل ځان وګڼي، راځئ د ستونزو، شخړو او اختلاف پرځای خپله انرژي د یوه غټ کېک په پخولو مصرف کړو او لوی فکر وکړو.

نو زړه مې غواړي چې تاسې ته د لوی کیک پخلی درزده کړم، یوه لاره یې بهرنی سفر دی ....

په هر صورت اوس داسې وخت دی چې په وړو ټوټو د شخړو پر ځای باید خپله انرژي د یوه لوی کیک پخولو ته راټوله کړو، چې هر یو ته ښایسته لویه برخه ورسي او ټول پرې راټول شو.

Scanned by CamScanner

# [۱۰]

## ستاسې تر ټولو لوی استاد

زما د ژوند تجربې زما تر ټولو لوی استاد دی، د تجربو له لارې د ژوند په حقايقو او رازونو پوهېږئ او شخصيت مو د وخت په تېرېدو وده کوي.

څه وخت مخکې مې يو کتاب ولوسته، دا کتاب په ۱۸مه پېړۍ کې د (فيليپ چستر فيلډ) په نامه يوه انګريز سياستوال ليکلی و. کتاب د هغو ليکونو ټولګه ده چې ده سړي په هالنډ کې د سفارت پر مهال خپل زوی ته ليکلي وو. يوه ليک ورته ليکي چې ټولنه د نړۍ تر ټولو ستر کتاب دی، که زوی يې دا ټولنه ولولي د نړۍ د ټولو چاپ شويو کتابونو نه به هم په ډېر څه پوه شي. زه هم د تجربې په ارزښت ډېر ټينګار کوم، ځکه تجربه له ټولنې د زده کړې تر ټولو چټکه او ګټوره لاره ده.

د ټولو انګليسی تحليل ګرانو (فرانسس بيکن نه تر لاکز او هيوم) په اړه وايي چې ټوله پوهه يې له تجربو اغېزمنه وه. په بله وينا موږ انسانان له کوچني فکر سره پيدا شوي يو، بيا چې په هره طريقه وده کوو، زموږ د ژوند د تجربو برکت دی.

نو ځوانی کې د پراخه تجربو ترلاسه کولو هڅه وکړئ، چې وجود مو ژور او پراخه اړخونه پیدا کړي، له دې لارې به تاسې په پټو رازونو پوه شئ. کنفسیوس باور لاره چې که دوو کسانو سره په لاره لاړ شئ، لږ تر لږه یو به یې درته ښه استاد شي.

له ټولنې زما اخیستنه ډېره زر راپیل شوه، ځکه ما کورنۍ سره په تاالگو کې د جنگي کډوال په توگه ژوند کاوه او د کور خرڅ ماته راپه غاړه و. همدې وخت کې د انسانی اړیکو په لوړو ژورو؛ د پیسو گټلو په لارو چارو؛ سوداگرۍ؛ سیالۍ؛ بریا او د ژوند په نورو حقایقو پوه شوم. دې ټولو لویو تجربو زما په ژوند ژور اغېز درلود، ژوند کې هر څه تجربه کړئ، بې له هغو شیانو چې اخلاقي پلوه د منلو وړ نه وي. ښه ورزش کوئ، ښه زده کړې وکړئ او تر څو چې کولای شئ نورو سره ملگري وکړئ، حتی مئین شئ، ځمکه واړوئ، قلبه وکړئ، موټروانی زده کړئ، غرونو ته وخېژئ، یو ځل تجربه له نه تجربې ښه ده. که غواړئ د ځینې شیانو په اړه ژور نظر ولرئ یو ځل یې موضوع تجربه کړئ، د هر شي ښه پېژندلو لاره تجربه کول دي. ژوند ځان ته تر ټولو لوی استاد نیولای شئ.

زه درسره اوس ځینې هغه ټکي شریکوم چې په خپلو تجربو مې ترلاسه کړي. که وخت لرئ سفر وکړئ، که سفر مو سم و، نوي او رنگارنگ اسمانونه به ووینئ، سفر یوازې سات تیرۍ لپاره مه کوئ، که مو نوی شی پکې زده نه کړ، سفر مو بې گټې دی. سفر کې دقیق اوسئ او هر څه ته دقیق پام کوئ، د بېلابېلو ځایونو توپیرونه سره پرتله کړئ او د هر ځای په ځانگړنو پوه شئ، یوازې یو نظر کفایت نه کوی، له څرگندو شیانو هاخوا پلټنه وکړئ، پلټنه باید ستاسې د سفر مهم کالی وي، نړۍ

کې داسې ځای نشته چې د لیدو ارزښت دې ونه لري، خو ځینو ځایونو ته تګ اسانه او ګټور دی، مثلاً لرغونې او د غني کلتور او تمدن لرونکې سیمې.

زه د خپلې کورنۍ مننددوی یم، ځکه کاري بوختیاوو کې مې له نیم ډېر عمر بهر تېر کړی او چندانې خوښ هم ورته نه یم. ځکه ما هیڅ کله د عادي پلار کېدو فرصت نه دی لرلی؛ نو ددې کمې پوره کولو لپاره ځینې وخت خپل بچي بهر چکر ته بیایم. خو دا سفرونه روزنیزه بڼه لري، ځکه زه غواړم چې بچي مې پراخه او نړیوال لید ولري. زه بچي یوازې تفریح لپاره نه بیایم، چې لاړ شي او هسې پیسې مصرف کړي، دوی د لویدیځ تمدن مرکزونو ته هم سفر نه کوي، زه ورته وایم چې هند، مصر یا داسې نورو داسې ځایونو ته لاړ شي چې د (ماباها) تمدن پکې وي. ځکه دلته به د نړۍ د تمدن تاریخ او د انساني عقل یو څه ډېره ننداره وکړي.

دویم دا چې رنګارنګ ملګري ولرئ، زما د باسواده د ملګرو شمېر راته ډېر ګټور و، په ټولنه کې پراخه اړیکې درسره مرسته کوي، ځکه تاسې نه پوهیږئ چې بل ملګری به مو څوک وي، نو هڅه وکړئ چې ډېر ملګري او لږ دښمنان ولرئ.

په ټول ژوند کې دا خبره مه هېروئ، خپله ژوره ملګري (دوستي) د ملګرو له شمېره مه ځاروئ. که سل دوستۍ ولرئ بې له یوه رښتینې ملګري هیڅ ګټه نه لري، پېژندګلو کسان ښايي د ژوند په سختو شېبو کې درته شا کړي، خو رښتینی ملګری مو د اړتیا پر وخت یوازې نه پرېږدي، نو سره له دې چې ډېر ملګري ولرئ، دې ته هم پام کوئ چې ملګري مو ژوره او رښتینې وي.

Scanned by CamScanner

دریمه دا چې هر کار کې هوډمن اوسئ. چاپېریال ته مو وګورئ هر شی به درته ښوونکی او هره ودانۍ ښوونځی وي او تاسې پکې زده کړه کولای شئ. مثلاً که په لاره ځئ له لوحو یې چینایي الفبا زده کولای شئ. په بس یا میټرو کې ارام ځای پسې ګرځېدل ستاسې کمزورې اراده ښيي، که هوډ مو قوي وي چې هر ځای کې چې کینئ نوښت کولای شئ. په لاره کتاب لولئ یا بهرنۍ راډیوګانې اورئ.

څلورم دا چې تل کتاب ګرځوئ. ځکه کتاب د ژوند نامستقیمې تجربې دي. د انسان عمر د ټولو مستقیمو تجربو ترلاسه کولو ته نه بس کېږي؛ نو د کتاب له لارې د خلکو له ډېرو زیاتو تجربو برخمنېدای شو، دا داسې تجربې دي چې ښایي بې له کتابه یې بل ځای کې ونه مومو. البته مستقیمې تجربې ډېرې ګټورې دي، خو د یادو مجبوریتونو له امله باید د نورو خلکو تجربو ته بیه او ارزښت ورکړو. په خپل ژوند سربېره د لا ډېرو تجربو ترلاسه کولو یوه ښه لاره کتاب لوستل دي.

کتاب هم هغسې لولئ لکه ملګری چې پیدا کوئ، پراخه او رنګارنګ. ډېر ملګري ولرئ او رنګارنګ کتابونه ولولئ. د ښو ملګرو غوندې ښه او ګټور کتابونه هم ولولئ، د کتاب سطحي مطالعه داسې ده لکه سړی چې ډېر ملګري ولري، خو یو هم پکې د سختې ورځې نه وي.

نو هڅه وکړئ چې مطالعه مو ژوره او دقیقه وي، هر کتاب هغسې ولولئ لکه یو ښه ملګري ته چې درناوی ولرئ، د ۱۰۰ کتابو سطحي مطالعه ګټه نه لري، کتاب ګرځوئ، چې وخت مو پیدا کاوه، سر پرې ټیټوئ.

Scanned by CamScanner

# [۱۱]

## مرسته کوو

باران ورېده، د اوبو څپه راغله او کوچنی مېږی يې ځان سره واخيست، بخت يې ښه و، په ونه کې د ناستې کوترې ور پام شو، په خپله مښوکه يې يوه پاڼه له ونې راپرېکړه او مېږي ته يې اوبو کې را واچوله، مېږی پاڼې ته ور وخوت او له مرگه بچ شو.
څو ورځې وروسته هماغه کوتره د ونې په منډه ناسته ده، دا په خپلو سوچونو کې ډوبه ده او ښکاري ورته شيش نيولی، دې وخت کې د مېږي ورپام شو، ورغی او د ښکاري په پښه يې غاښ ولگاوه، ښکاري دې سره ټوپ کړ او نښه ترې خطا شوه، کوتره هم له والوته او له مرگه بچ شوه، يعنې مېږي په دې توگه د کوترې د کړو ښو بدل خلاص کړ.
داسې څوک نشته چې د بل مرستې او ملتيا ته اړ نه وي، دومره کم ظرفه انسان به هم نه وي چې بل چا سره مرسته ونه کړي، موږ ټول د يو بل مرستې ته اړ يو او دا ټول د انساني اړيکو د ارزښت څرکونه دي.
د خپلو فعاليتونو په لړ کې مې څو ځله ددې اړيکو ارزښت ليدلی دي، مثلاً د ډايوو د فعاليت په لومړيو کې مو له (ډي) انډونيزيايي شرکت سره اړيکې وې. زما چې څومره يادېږي موږ به خپل منسوجات

په ۲۰ سنټه فې یارډ دې هیواد ته لیږل. بیا انډونیزیایي دولت قوانین بدل کړل او د تولیداتو بیه یې ۱ سینټ ته راښکته کړه. دا چې موږ (ډي) شرکت سره اوږدمهالي تړون درلود، هغوی د تېښتې هیڅ لاره نه لرله، باید زموږ په بیه یې توکي پېرلي وی. ما چې دا حال ولید خپل صادرات مې راکم کړل چې ددې شرکت زیان هم ورسره کم شي. خو سره له دې هم (ډي) شرکت له مالي ستونزو او بحران سره مخ شو. که مې دېرش زره ډالر بانک ته نه وی تسلیم کړی دا شرکت د بانک ملکیت گرځېده؛ نو زه خپله دې شرکت ته لاړم او د اړتیا وړ پیسې مې ورکړې. هغه وخت زموږ د شرکت پانگه چندانې نه وه؛ نو د دېرش زرو ډالرو په اړه پرېکړه سخت کار و.

خو په یوه کال کې هر څه بېرته راښه شول، د انډونیزیا د وارداتو بازار ښه شو او بیې له یوه ۱ سینټه یو دم ۳۷ سینټو ته پورته شوې، زموږ تړون دې وخت کې هم ۱۷ سینټه و او (ډي) شرکت یې په همدې بیه د پېرلو قانوني حق درلود، خو دې شرکت وړاندیز وکړ چې منسوجات به په ۳۵ سینټه یعنې زموږ له بازاره ۲ سېنټه ارزانه پېري؛ نو موږ به د ۱۷ سینټو تړوته په ۳۵ سینټه پلورله او دې شرکت بلاخره زموږ شرکت ته یو میلیون ډالر گټه رارسوله. نو وگورئ چې د اړتیا پر وخت ما دې شرکت ته یوازې دېرش زره ډالر ورکړل او اوس یې ماته څومره گټه را ورسوله. باور وکړئ چې بل سره مرسته به هرومرو درته اجر لري، ښایي دا اجر یا گټه یې تاسې ته مستقیماً ونه رسېږي، خو له دې کار به هرومرو یوه گټه لرئ، دا د ژوند او نورو سره د مرستې اصل دی.

که یوازې خپلې گټې ته گورئ او نورو سره مرسته نه کوئ تر یوه لنډمهاله به ښه روان یئ، خو تر ډېره دوام نه کوئ. که انساني اړیکو کې

Scanned by CamScanner

يوازې خپلې ګټې ته وګورئ ځانته به خطرونه پېښ کړئ، تاسې بايد د مشترکو ګټو په اصولو عمل وکړئ. که يو سړی نورو ته زيان اړوي او ټوله ګټه يوازې د خپل ځان ګڼي، دا اړيکې به تر ډېره دوام ونه کړي.

موږ ډايوو شرکت کې په هغو سيستمونو ټينګار کوو چې ټولو ته ګټه او هوساينه ولري او معاملاتو کې مقابل لوری هم زموږ په څېر ګټه وکړي.

موږ هڅه کوو خلکو ته ثابته کړو چې (ډايوو) سره سودا يا معامله يې په ګټه ده. دا اصل شخصي اړيکو کې هم شته، که څوک وغواړي له بل چا سوی استفاده وکړي، اړيکې يې زر له منځه ځي. د دوه اړخيزو اړيکو جوړولو لپاره بايد دواړه خواوې يو رنګ او په يوه زړه وي، دوی دواړه دې د يو بل وضعيت درک کړي، يوازې په همدې شرط ښې او ګټورې اړيکې رامنځته کېدای شي.

مناسبې اړيکې د ژوند له مهمو او اړينو ټکو دي. خلک چې څومره له ملګرو پېژندل کېږي همدومره له اړيکو هم پېژندل کېږي، هغه متل رښتيا دی چې وايي: هغه مرغان يو ځای کېني چې بڼې يې يو رنګ وي. نو هڅه وکړئ چې سمو خلکو سره ملګري وکړئ، که هغه حالت راياد کړئ چې څوک مو د اړتيا پر وخت يوازې پرېږدي؛ نو د اړيکو په ارزښت به پوه شئ. که د لوړې کچې خلکو سره ملګري شئ، ستاسې به پام هم نه وي، د هغوی کړه وړه به مو زده کړي وي، همداسې که له ټيټو خلکو سره راشه درشه ولرئ، د هغوی کارونه به مو زده کړي وي، ځکه خربوزه له خربوزې رنګ اخلي.

که يو بل سره ښې او دوستانه اړيکې وپالئ په ژوند کې به بريالي ياست، ژوند کې لويو خلکو سره اړيکې ګټورې دي، حتی له پيسو يې هم ارزښت لوړ دی، ځکه ښې اړيکې او ملګری په پيسو نه پېرل کېږي.

خو انسانی اړیکې چې څومره ارزښتمنې کېږي همدومره پېچلې کېږي هم. په ښو اړیکو کې یوه مهمه موضوع باور دی، باور د وخت په تېرېدو پیدا کېږي، نو په ترلاسه کولو کې یې صبر او حوصله وکړئ.

ما چې ډايوو شرکت جوړاوه، پیسې راسره نه وې، غوښتل مې له بانکه پور واخلم، خو نه مې تضمین لاره او نه بانک کې داسې څوک و چې یوه تازه کاره او په ځان باوري ځوان ته پور ورکړي، ځکه دوه اړخیز باور لا نه و رامنځته شوې. زه به اونۍ کې دوه ځله د بانک رئیس ته ورتلم او د خپل پلان جزیات به مې ورته تشریح کول، چې د بانک رئیس قانع کړم، دا زما یوازینۍ اسره وه، خو چنداني بریالۍ راته نه ایسیده.

ځینې به وخت به یې سهار وختي کور ته ورتلم، د ژمي په یخ سهار به مې چې د دوی د انګړ دروزاه وټکوله، غږ به راغی چې سړی لا ویده دی.

زما به ژامې ټکېدې او په یخنۍ کې به د کور مخې ته په تمه ناست وم. د یو کال په تېرېدو رئیس پوه شو چې په ما باور کېدای شي، خو دا باور ما په دومره سختیو او حوصلې ترلاسه کړ، زه اوس هم د بانک له نوموړي رئیس سره ژوره او ارزښتنمه دوستي لرم.

په سوداګریزو تشکیلاتو کې د شخص وجود ډېر مهم او اساسي دی او شاخص کېدل یې د سوداګرۍ درونوالی دی. دا چې کارونه خلک کوي؛ نو د پرسونل موضوع ته مې باید په کمه سترګه نه وی کتلی، ځکه همدا پرسونل د شرکت د بریا او ماتې لامل کېدای شي؛ نو دا ډېره مهمه ده چې بېلابېلو خلکو سره اړیکې ولرئ، یو بل سره مرسته وکړئ او په دې باور اوسئ چې یوه ورځ به د خپلو ښو اجر وګورئ.

[۱۲]

# پيسې ګټل او لګول

که د پيسو ګټلو ښه خبره شي، زه په کې ښه استاذ يم او تر څنګ يې د داسې ښو استاذانو سره سيالي هم کولای شم.

د کاروبار له پيله مې نوم څو ځله د کوريايي پيسه ګټونکو ليست په سر کې راغلی او د مشهورو صنعتي بنسټګرو په ليست کې هم يادېږم، خو دا ټول شيان په دې معنا دي چې زه د پيسو ګټلو وړتيا لرم، يعنې زه پوهېږم چې پيسې څنګه پيدا کړم.

زه چې هر ځای کې پښه ږدم، دستي مهمو ټکو او وړتياوو ته متوجې کېږم، يوه ورځ مې هسې په ګپ کې ويلي وو چې **ټولې لارې په سرو زرو پوښلې دي** زه يې يوازې را جارو کوم. البته ډېر داسې ځايونه شته چې لارې يې په سرو زرو نه دي پوښل شوي او پيسې ګټل هم ولاکه چندان اسانه کار وي. په هر حال پيسې ګټل سختې هځې او کړاوونه غواړي، ما دا ټوکه په دې خاطر وکړه چې خلک پوه شي زه په څه شي کې تکړه يم.

انځوګر چې د انځوګرۍ شوق وکړي، د سيمې لوړې غونډۍ ته خېژي او له هغه ځايه ځانته منظرې او سوژې پيدا کوي. کب نيونکی تل د ډېرو

اوبو په فکر کې وي. همداسې چې د صنعتي ادارې بنسټګر چېرته ځي په هغه ځای کې د پیسو ګټلو امکانات لټوي. دا چې زه د پیسو ګټلو په چل پوهېږم، هر ځای ته چې لاړ شم، د مال خرڅولو ډېرې ښې مفکورې مې ذهن ته راځي. ما په دې ورځتیا ډېرې پیسې ګټلې دي، خو اوس هم باید په ځان کې یوه ورځتیا وروزم او زه فکر کوم دا مې د ضعف له ټکو دی. که د پیسو ګټلو خبره شي زه پکې استاذ یم او که د لګولو خبره شي؛ نو بس ... د استاذ پکې هم استاذ یم.

زه وایم دا مهمه نه ده چې کوم کار دې وشي، مهمه دا ده چې څوک یې وکړي، څوک چې د ورزش وړتیا لري ورزش دې وکړي، کوم هلکان چې موسیقي کولای شي ګوره دې کېږدي. که یو ماشوم د موسیقۍ وړتیا ولري او مور ترې په شین زور انجینر جوړوو، دا ښه نه کار دی.

همداسې ځینې خلک د پیسو ګټلو په چل پوهېږي او ځینو ته یې د لګولو چل ورځي؛ نو تاسې باید مختصصو خلکو ته اجازه ورکړئ چې ستاسې پیسې په سم جریان کې واچوي، په دې صورت کې به چارې ښه پرمخ لاړې شي. که داسې چاته پیسې ورکړئ چې ښه یې نه شي لګولای ښایي پیسې مو ډوبې شي. ما نړۍ کې پیسې دې لپاره نه دي ګټلي چې یوازې خپل کور کې یې ولګوم او نه مې ډایوو یوازې خپل شخصي شرکت ګڼلی، زه ددې شرکت یو متخصص یم. یعنې ما چې څومره پیسې پیدا کړي، ټولې زما نه دي. زه فکر کوم دا پیسې د هغو متخصصینو دي چې د ټولنې د پرمختګ لپاره یې په مصرفولو پوهېږي. ما په همدې احساس د (ډایوو بنسټ) رامنځته کړ، هغه وخت مې یوازې (۳۷ میلیونه) ډالره پانګه لرله او له همدې باوره اغېزمنه وه. زه

Scanned by CamScanner

وايم چې پانګونه او ترې شوې ګټه بايد د ټولنې په پرمختګ ولګول شي. ښايي دا به مې د مور برکت وي چې ډېره پرهېزګاره ښځه وه، زما مور د خدمت او قربانۍ د فلسفې ژور درک لاره. فکر کوم مور مې چې ماشومتوب کې څه راښودلي زما په ټول بدن کې يې ريښې غځولې دي.

په هر حال د ډايوو طريقه همدا ده چې د ادارو يا موسسو ګټه بېرته ټولنې ته ور وګرځي او زه فکر کوم همدا د پيسو لګولو ښه طريقه ده. د بنسټ مهم فعاليت: په بنسټيزو علومو کې څېړنه او د پايلو نشر او ددې علومو پرمختګ. ځکه دا د ټکنالوجۍ د علم او پوهې بنسټ جوړوي. له بده مرغه کوريا کې دې موضوع ته چنداني پام نه کېږي. زه د بنسټ په چارو کې وړه لاسوهنه هم نه کوم. بنسټ خپله د ټولو امورو تصدي په غاړه لري او خلک يې تر ما د پيسو لګولو په چل ښه پوهېږي.

پر دې سربېره لس کاله کېږي چې دا بنسټ د کوريا په لېرې پرتو او ساحلي سيمو کې طبي مرستې کوي. په (موژو)، (واندو)، (شينان) او (چيندو) غونډې سيمو کې ګومارل شويو ډاکټرانو ځايي بزګرو او کب نيونکو ته لويې قربانۍ ورکړې دي. دغه محرومې سيمې د کوريايي ژوند له کاروانه ډېرې وروسته پاتې دي او د ځوانانو زده کړې يې پکې له لويو ستونزو سره مخ دي. دې ځای کې هېڅوک بې له يوه احساس او ژمنتيا دنده نه شي ترسره کولای. ددې خلکو قرباني هله د ستاينې وړ ګرځي چې دوی په ښارونو او شخصي روغتونو کې هم ورته خدمتونه وړاندې کول او له دې لارې يې ښې پيسې ګټلې. زه مې غواړي ددې سيمې ډاکټران زيات کړم، خو داسې خلک کم دي چې قرباني ورکړي او دې سيمو ته لاړ شي. اوس مو يو پلان لرو، مو غواړو له دې سيمو

بامسئولیته او بااحساسه ځوانان راټول کړو، د ډایوو بنسټ په مرسته یې بهر د طبي زده کړو لپاره واستوو او په بېرته راستنېدو همدې سیمو کې خدمت وکړي. ددې ترڅنګ ډایوو بنسټ د ښوونځیو او لیسو مالي ملاتړ هم کوي. موږ خپله هم روزنیز مرکزونه لرو، مثلاً اکپو ښوونیز مرکز چې د ډایوو کنښتې جوړولو په سیمه کې دی او آزو پوهنتون چې په سوډان کې دی. ددې ترڅنګ له ۱۹۸۷ ز کال راهیسې ډایوو بنسټ خبریالانو ته بهرنۍ روزنیز بورسونه ورکوي او د څېړنیزو خپرونو ملاتړ هم کوي. دا ټولې هڅې هغو خلکو لپاره دي چې راتلونکي کې به د خلکو په عمومي ذهن او افکارو اغېز وکړي، دا فرصتونه ددې لپاره دي چې خلک مطالعه وکړي او پراخه ځمکو ته لاره پیدا کړي.

تاسې ښایي دا خبرې څان ستاینه وبولئ، ځکه د خېر ښېګڼې کار هله خوند کوي چې په پټه وشي. دا به رښتیا هم ډېره مناسبه نه وي چې تاسې ته مخامخ د ډایوو په ښېګڼو وغږېږم، خو هیله لرم تاسې به مې خبرې ناسمې نه وي تعبیر کړي، ځکه زه دا خبرې د لویې یا دې لپاره نه کوم چې درناوی مې وشي، زما موخه یوازې دا ده چې هر وخت یوازې د خپلې ګټې فکر مه کوئ، که مې په دې خبره پوهولي یئ ډېر به خوشاله شم، زه تل په دې باور یم چې د پیسو ښه لګښت تر ښه ګټلو غوره هنر دی.

زه پوهېږم له تاسې به هم ځینې غواړي چې زما په څېر لوی صنعتي بنسټ رامنځته کړي، زه داسې پرېکړو ته ښه راغلاست وایم، تاسې باید په پیسو ګټلو کې مهارت پیدا کړئ، مهمه نه ده چې چېرته ځئ او چاسره ګورئ، تل د پیسو په فکر کې اوسئ، زما موخه دا ده چې که لږ خپل چاپېریال ته ځیر شئ، هر ځای به درته پیسې پیسې شي.

Scanned by CamScanner

خو صنعتي بنسټګر داسې څوک نه دی چې تل دې د خپلې ګټې فکر ورسره وي، بلکې پیسې باید داسې وګټئ چې بېرته ترې ښه ګټه واخلئ، که بې ضرورته شیان اخلئ او پیسې بې ځایه بادوئ، هېڅکله صنعتي اداره نه شئ جوړولای.

که یوازې د خپلې ګټې او شخصي حرص لپاره کاروبار کوئ، تیروتي یاست.

په صنعتي ادارو ځینې خلک نیوکې کوي، لامل یې دا نه دی چې پیسې نه ګټي یا ګنې ډېرې نه ګټي، اصلي لامل یې دا دی چې خپلې پیسې سمې نه کاروي، لنډه دا چې د پیسو مصرف تر ګټلو ډېر مهم دی.

که تاسې پیسې سمې نه شئ کارولئ، هغه چاته یې ورکړئ چې دا وړتیا لري، دا دومره سخت کار نه دی، خو سخته دا ده چې تاسې سوداګریزه اداره او ترې ترلاسه شوې ګټه یوازې د ځان وګڼئ. که ځان د مال له بنده خلاص کړئ، وبه ګورئ چې ځینې خلک د پیسو ګټلو او ځینې یې د کارولو وړتیا لري، که په دې پوه شئ کار درته اسانېږي. که د پیسو ګټلو وړتیا لرئ پیسو پسې شئ او د مصرفولو لپاره یې نور خلک پرېږدئ چې د ټولنې په خیر یې ولګوئ، که داسې وشي، نړۍ به د مینې او ورورلۍ ښکلې کور شي.

Scanned by CamScanner

# [۱۳]

## مثل سره سيالي

انسان يوازې ژوند نشي کولای.

هر فرد د ټولنې يوه برخه ده او ټول خلک يو بل ته اړ دي. انسان ټولنه جوړوي او ټولنه انسان. پيټرو او بريجت برگر دوه امريکايي ټولنپوهان دي، دوی د (د ټولنيزو ادابو تاريخ) په نوم يو مشهور کتاب لري او په دې کتاب کې يې د هر فرد د ټولنيزتابه په پړاوونو بحث کړی دی. دوی وايي د هر انسان ژوندليک نورو سره دده د اړيکو حکايت دی. ټولنيزتوب انسان ته فرصت ورکوي چې نورو خلکو سره اړيکې پيدا کړي او دا اړيکې يې بلاخره ټولنې ته وغځيږي.

دا چې انسانان يو بل سره ترڅلي بايد گډ ژوند وکړو، موږ ټول ددې (تړون) په مفهوم پسې گرځو چې د همدې مفاهيمو په اسانۍ د ژوند طريقه ومومو. د ژوند اصلي معنا په ملگرۍ کې ليدلای شو، په ځانځانۍ او يوازېتوب کې نشته. ځينې خلک فکر کوي چې يوازې دوی د ښه ژوند حق لري او موږ همدې موزي (ځانغوښوتونکي) فکر له ستونزو سره مخ کړي يو. که د بل ژوند ته لږ وگورئ نه به نشه يي

توکي وپلورئ او نه به خوړنيزو توکو کې زيانجن مواد ورګډ کړئ. که په دې حقيقت پوه شئ چې په يوه کوچني کور کې درې نسله ژوند کوي، هېڅکله به ځرمني چپنه وانه خلئ يا به د ځمکې او کورونو دلالي ونه کړئ. دا کړنې له دې امله پيدا کيږي چې انسان خپل ګاونډې ته پام نه کوي. دا خو ډېره بده ده چې ځينې خلک په همدې کارونو بوخت ژوند کوي. ټواين بي مشهور مورخ دی، دا د انسان په بې حده کبر ښه خبر و، ځکه يې د انسان د نجات يوازينی لاره په دې غوښتنو برلاسی ګاڼه.

هر څه چې کوئ، د ځانځانی په دام کې مه ننبلئ. د شخصي حرص او ګټېئ نه لوړ ګام واخلئ، د ټولنيزې ښېګڼې فکر وکړئ او دا په ياد ساتئ چې يوازې نه يئ؛ بلکې د نورو خلکو سيوري ته ژوند کوئ. تاسې له نورو خلکو سره تړلي ياست، دا تړون ښايي درښکاره هم نه شي، ژوند يو بل ته او د يو بل په خوا کې دی. يو بل سره ژوند د يو پرمختګ لامل کيږي چې زه به يې (ګډه وده) ونوموم. دا په ډايوو شرکت کې زما د فلسفې اساس دی.

ادارې هم بايد د اشخاصو غوندې د نورو په شر کې ځان ته خير ونه لټوي. دا منم چې د شرکتونو د فعاليت اساس د پانګونې د سيستم له مخې ګټه کول دي او هېڅوک ترې انکار نه شي کولای خو داسې هم نه ده چې ادارې دې يوازې د خپلې ګټې په فکر کې شي او سيالان دې له منځه يوسي، په بله معنا، ادارې بايد د ټولنې او ولسي خلکو د ودې او پرمختګ په برخه کې فعاليتونه وکړي. لکه څنګه چې فرد ټولنې سره ځينې ژمنې لري همداسې ادارې هم خپلو خلکو او ټولنې سره ژمنې لري، ځکه ادارې له ټولنې رامنځته شوي او يوه برخه يې جوړوي.

ادارې چې بهرنیو شرکتونو یا افرادو سره سودا کوي دا اصول په سوداګریزو مناسباتو کې هم شاملیږي. ادارې دې په شراکت او سوداګانو کې ټولنیزې ودې ته پام وکړي. یوازې د خپلې ګټې فکر لنډمهالې ګټې زېږوي، خو په اوږدمهال کې درته ګټه نه لري. ځکه ډېر شرکتونه به د وخت په تېرېدو تاسې سره سودا نه کوي، دې سره به اړیکې کمې شي او سوداګري به مو ناکامه شي. زه په سوداګریزو چارو کې په دې باور یم چې مقابل لورې هم باید په سودا کې موږ هومره ګټه وکړي، ځکه په دې توګه ګټورې او اوږدمهالې اړیکې رامنځته کېدای شي. نو نور خلک او ادارې باید په دې پوه شي چې موږ سره معامله یې په ګټه ده، موږ تل دې اصل ته وفادار وو او یو به. زه باوري یم (ډایوو) شرکت په همدې اصولو له بهرنیو ادارو سره ګډه او د پام وړ پانګونه کړې ده. د ټېکې یا کاري اجارې قراداد هم په دې اصولو کې راځي، په ټولو پروژو کې موږ د کار لګښت او فرضي ګټه سنجوو او بیا ډاډه کېږو چې ټیکه دار به هم د کار په ګټې او زیان کې شریک وي. ددې ټولو اصولو په مراعتولو باید ډاډه شئ چې په معاملاتو کې زیان نه وینئ.

که تاسې د مقابل لوري ګټه په نظر کې نیسئ هغوی هم باید ستاسې ګټه په نظر کې ونیسي. د آلاسکا پرودهو سیمه کې ډایوو شرکت د اوبو تصفیه کولو دستګاه ډیزاینوله او له همدې ستونزې سره په کې مخ شو. بک‌تل شرکت موږ ته د پرمختللې ټکنالوجۍ له امله دا کار راکړ، د کار طرحه یې چې راسپارله، دې ادارې د تړون شرایط بدلول پیل کړل او ټول زموږ د شرکت په زیان شول. تر څنګ یې هغه شرکت ځان ته په هر پړاو کې د تړون ماتولو، بندلولو او ځنډولو یو ډول حق ورکاوه، بل

شرط يې دا کېښود چې پيسې به د پروژې له تسيلمۍ او ارزونې وروسته ورکول کېږي.

زما په نظر دا يوه خبره هم د منلو نه وه، ځکه زه د برابرۍ، انصاف او طرفينو د مساوي حقونو قايل يم. هر هوکړه ليک بايد د طرفينو په ګټه، مساوات او برابرۍ وليکل شي. له بلې خوا مې ددې تړون لپاره ډېرې هلې ځلې کړې وې، دا مې هم نه پيرزو کېده چې ترې تير شم. هيسې د بک تل شرکت رئيس ته ورغلم او ستونزې مې ورته مخ ته کېښودې. ورته مې وويل چې تړونونه بايد عادلانه وي او ډايوو شرکت په دې اصولو عمل کوي. ورته مې وويل چې ايا امريکا کې همدا طريقه ده؟ که څه هم هغه سړی څنګه ما غوښته هغسې له موضوع اغېزمن نه شو، خو ما ورته وويل چې زه ددې تړون شرايط نه شم منلای او بايد له دې کاره تېر شم، بلاخره مې وکړی شول چې يو عادلانه تړون وليکو او ډايوو شرکت ته يې هم د کار له پيله مخکې ښايسته ډېرې پيسې ورکړې.

يوازې سوداګرۍ کې نه؛ بلکې انساني اړيکو او معاملاتو کې هم ګډ درناوي او متقابل عمل مهم شرط دی. تاسې بايد د طرفينو د ګټې هڅه وکړئ. که يو شرکت د بل په زيان کې ګټه کوي ټولنه له ستونزو سره مخ کېږي. د ګډ درناوي او انصاف دا اصل د بادار- مزدور؛ پلورونکي – پېرودونکي؛ استاد – شاګرد؛ مور، پلار – اولاد او حتی ښځې او مېړه تر منځ اړيکو کې هم مهم دی. خلک بايد په يو بل باور ولري. د کورياېي ټولنې يوه بدبختي بد ګوماني ده، د خلکو او دولت؛ استاد او شاګرد؛ بادار او مزدور؛ پلار او زوی؛ مور او زوی ... تر منځ بدګوماني پيدا شوې ده. انسانان چې يو پر بل بدګومانه شي بيا سره نه راټولېږي او

Scanned by CamScanner

چې رایوځای نه شي کرکه پکې پیدا کیږي، په ټولنه کې دغه پدیدې د هغو ډوبوونکو گردابونو په څېر دي چې هېڅ خلاصی ترې نه کیږي.
څه وخت مخکې مې د یوې سروې پایلې لوستې، چې تقریباً نیمو کارکوونکو پکې په خپل شرکت باور نه لاره. که دا سروې بیا وشي په پوره ډاډ وایم چې ددې ځوابونو سلنه به لاپسې لوړه شي.
زموږ ټولنه کې بله مسله د کارکوونکو خپل منځي شخړې دي، ډېر خلک دا شخړې کاري چاپیریال کې توپیري چلند پورې تړي، خو زه فکر کوم بې باوري اصلي ستونزه ده. که څوک په یو بل باور ونه لري، څنگه به سره راټول شي؟ همدا بې باوري چې د ښځې او خاوند تر ژونده ورسېږي څه پایلې زېږوي؟
بې باوري او ځانځانی کې نرۍ پوله ده، ځکه زموږ زمانه له ستونزو او کش مکشونو ډکه ده، نو زموږ به ورته پام هم نه وي او ښایي په ځانځانی او بې باوری به اخته یو. خلک په راتلونکي باور نه لري، ټول هڅه کوي چې خپل او د کورنی ژوند خوندي کړي، دې سره ټولنه کې ځانځاني پیدا کیږي. که په یو بل باور ولرئ هېڅ شی به مو د یووالي او پرمختگ مخه ونه نیسي، خو اپوټه په بې باوره فضا کې بیا یووالی او پرمختگ امکان نه لري. د ښځې او مېړه تر منځ بدگوماني او بې باوري کورنی له منځه وړي. بدگوماني یا شک ملگری ماتوي. د مدیر او مامور تر منځ شک او بدگوماني شرکت ناکاموي. که ملت او دولت په یو بل بدگومانه وي ملت شیندل کیږي. نو د خپلې او ټولنیزې گټې لپاره باید په یو بل باور وکړو. له بل چا دا تمه مه لرئ چې په تاسې به یو اړخیز باور وکړي، تاسې باید خپله ورمخکې شئ.

هیله لرم چې تاسې ځوانان خپل راتلونکي ته پلان جوړوئ، دې ټکي ته به مو پام وي. خبر شئ چې په يوازې سر ژوند نه شئ کولای. انسان د ژوند لپاره نورو ته اړ دی او دده وجود يوازې نورو سره په اړيکو کې د توجيې وړ دی. خدای دې وکړي چې د ځانځانۍ گرداب کې ډوب نه شئ، په يو بل باور ولرئ او د يو بل په فکر کې شئ، که دا وشي د ښايسته او زړه راښکونکې نړۍ بنسټ به کيږدئ.

Scanned by CamScanner

# دریم ځپرکی

مخ ته مولویه نړۍ پرته ده

Scanned by CamScanner

# [۱]

## مخ ته مو لويه نړۍ پرته ده

زه خوځنده يم، ډېر وخت نشم کيناستی، زړه مې غواړي يو کار پيل کړم، زه په کار روږدی يم، لويه ستونزه مې دا ده چې خوځنده يم. ناسته يا استراحت راته يو ډول ځور ښکاري؛ نو ځکه ټول عمر په کار اخته يم.

زه په همدې خاطر فعالو او د کار په لټه ځوانانو سره ځانګړې مينه لرم، ښايي يو لامل دا وي چې د ځان په څېر يې ګڼم، خو تر ډېره په دې باور يم چې ځوان نسل به نړۍ او تاريخ کې نوې بابونه پرانيزي.

کار پيلول او بيا هېرول ماته هېڅ ارزښت نه لري؛ نو هغه ځوانان مې خوښېږي چې کار پيلوي او پکې ډوبېږي، ښايي د همدې هلوځلو له امله به دا ډله خلک تر هغو ډير بريالي يا ناکام وي چې هېڅ کار نه کوي. دا ډله له احتمالي ماتو سره ډېره عادي مخ کېږي او د خپلو تجربو يوه برخه يې بولي، تر ټولو مهمه دا چې هېڅکله نه نهيلي کېږي. تاسې هم په همدې طريقه ماتو سره د مخ کېدو جرات پيدا کولای شئ، بريا خواته وروستی ګام پورته کړئ، څوک چې له ماتې وېرېږي د بريا خوند نه شي څکلای.

Scanned by CamScanner

له دې ځايه بهر درته لويه دنيا په تمه او ډېر کارونه پراته دي. تاسې بايد داسې نوي ځايونه ولټوئ چې مخکې څوک نه دي ورغلي او داسې کار وکړئ چې بل چا نه وي کړی. تاريخ ګام په ګام له هغو خلکو جوړ دی چې دا فکر يې لاره. دا رښتيني مخکښان دي، البته مخکښۍ کې ځينې خطرونه شته چې په هر صورت بايد ومنل شي.

مخکې روان خلک په ناهوارو لارو ځي او ښايي نيوکې هم پرې وشي، خو اصلي مخکښان له دې نيوکو نه وېرېږي. دوی مخکې ځي، د نويو لارو او ځايونو په لټه وي او بلاخره يې بريا د خوښۍ لامل کېږي.

تاريخ ثابته کړې، د ملتونو د قوت او پرمختګ راز د دوی په مخکښۍ روحيه او زړورتيا کې و، بيا چې يې اساني لټولې او له مسئوليتونو تښتېدلي؛ نو مات شوي دي. که امريکا د پرمختګ جرات او روحيه نه لرلای نن به دومره پرمختللې وه؟ پخوا د امريکا د وخت حکومت د امريکا د لويديځې سيمې د پراختيا لپاره، خلکو ته اجازه ورکړه چې دې ځای ته ورشي. دې کار د مخکښانو په روحيې ډېر مثبت اغېز وکړ، اوس په دې هېڅوک سترګې نه شي پټولای چې د امريکا متحده ايالاتو په رغونه کې دې جرات څه ونډه لرلې ده، خو هسپانيا؟

هسپانيا د کولمبوس په څېر د يوه تخيلي انسان ملاتړ وکړ او په دې توګه يې نوې نړۍ وموندله. په دې لاره کې ټولې عملي شوې لارې چارې او سياستونه بې ضرره نه وو او ښايي ډېرې بې عدالتۍ يې کړې وي، خو د پرمختګ اصول له همدې تجربو زده کولای شو.

سره له دې چې کوريا لرغونی تاريخ لري، پخوا يې د مخکښۍ چندانې روحيه نه لرله او دا په دې معنا ده چې کورياپانو تاريخ کې ارامتيا تر مبارزې ښه ګڼلې ده. موږ ټول عمر د حوادثو جبر منلی دی، ښايي دا

به د کنفسيوس د فکر اغېز وي چې په تواضع او د نزاکت په ادابو ټينګار کوي، له دې امله زموږ سيمه په دې صفتونو موصوفه شوې (د دوستانه نازونې سيمه)، (د سهارنۍ مينې خلوتګاه) .... خو دا معلومه ده چې موږ د همدې صفوتو او شهرتونو له امله د ملي قدرت له پلوه تر نړۍ ډېر وروسته پاتې يو.

ډايوو شرکت چې راجوړ شو له خپلو پولو بهرنيو بازارونو ته مو ډېر پام وکړ، په هغه وخت کې کورياېي صاداراتو ته د بې ارزښته پانګونې په سترګه ليدل کېده. د هغه وخت لويو شرکتونو يوازې واردات کول او هيڅا يې صادراتو ته چندانې پام نه کاوه؛ نو موږ په دې برخه کې لومړۍ ګام پورته کړ. سره له دې چې ټولو ويل په دې لاره به پرمختګ ونه کړو، خو بيا مو هم ستونزې په زړورتيا وګاللې او بلاخره بريا ته ورسېدو. که تراوسه مو څه نه ترلاسه کړي، لامل يې دا دی چې نه مو دي کړي، ګني داسې نه ده چې هڅه مو دې کړې وي او بريالي شوي دې نه يو. دا نو کمزوري ده چې لا مو د يوه کار کولو وړه هڅه نه وي کړې او له مخکې يې ناشونی وبولو.

د ډايوو د مخکښۍ روحيې نه يوازې اروپايي او امريکايي بازارونو ته مخکې کړو، بلکې داسې بازارونو ته هم لاړو چې دولتونو سره يې لا موږ سياسي اړيکې هم نه لرلې، مثلاً سوډان، نايجريا، ليبيا، انګولا، الجزاير، چين او د ختيځ بلاک هيوادونه لکه مجارستان، چکسلواکيا او شوروي اتحاد. دې بازارانو ته د تلو لپاره دا ډايوو بې خرتې پانګونه ددې لامل شوه چې کوريا له سوډان، ليبيا، الجزاير، نايجيريا او مجارستان سره سياسي اړيکې رامنځته کړي.

Scanned by CamScanner

خو څوک چې مخښکي غواړي، د دوی اروا مخکښه ده، مبارزه کوي او نوي کارونه ازمايي. نړۍ ډېره لويه ده او ډېر کارونه بايد وشي. ما تل داسې ژوند کړی او همداسې به يې کوم، يعنې د نويو فعاليتونو پيل او په ټول وس يې مخ ته وړل.

تر څو چې ځوانان يئ مخکښ اوسئ، دا د ژوند کولو يوازينۍ طريقه ده. نړۍ دومره وړه ده چې نړيوال کلی يې بولي. خو په دې نړۍ کې اوس هم د پلټنو او کشف لپاره ډېر ځايونه شته. که څه هم نړۍ په کار بوختو خلکو نه ډکه ده، خو بيا هم داسې کارونه پراته دي چې هېچا نه دي کړي. کايناتو ته ځير شئ او په زړه پورې طرحې ولرئ، له ماتې مه وېرېږئ، مخکښ خلک يوازې وي، د خپل راتلونکي مخکښان شئ، همدا د ژوند واقعيت دی.

Scanned by CamScanner

# [۲]

## نېمکړغي

زده‌کړه له پخوا ارزښتمنه ده، زه چې زلمی وم دې شعارونو ډېر مود لاره چې (د زده کړو فرصت له لاسه مه ورکوئ)، (چې زده کړې ونه کړئ هېڅ ځای ته نه رسئ). دا د هغو درسونو يوه برخه ده چې پلار او نيکه مې ماته را زده کړي وو. اوس که له زده‌کړو سره د کورياپانو مخ په زياتېدو شوق وګورئ؛ نو تاسې هم په خپل ژوند کې د زده‌کړو ارزښت احساسولای شئ.

دنيا داسې جوړه شوې چې يوازې زده‌کوونکي انسان پکې ژوند کولای شي. دا نړۍ نن د لسګونو کالو په تېرېدو هم هماغه پخوانی ارزښت لري. په ځوانۍ کې بايد د ښه او روښانه راتلونکي لپاره په شوق هلې ځلې وکړئ، ځکه ځوانۍ کې ستاسې د ژوند ښه مو د بريا او ناکامۍ لامل کيږي.

نو په تاسې ځوانانو ټينګار کوم چې زده‌کړه وکړئ، بېلابېلې رشتې ولولئ، ځکه په تجربې درته وايم چې پوه خلک قوي خلک دي. البته دا زما په نظر يو څه محتاطانه ده چې زده‌کړه له لاسه مه ورکوئ، ځکه

Scanned by CamScanner

مفهوم یې یو څه بې روحه او ځانخوښي راته ښکاري. زه غواړم ووایم چې خپله پوهه له نورو سره شریکه کړئ. ځکه پوهان مسئول دي چې نور پوه کړي. دا بخشش دې یوازې علم پورې محدود نه وي، بلکې موږ باید هر څه له خپل همنوعه سره ووېشو. موږ باید نورو ته په خپله پوهه او شتمنۍ کې برخه ورکړو، ځکه ځانځاني که مالي وي او که ځاني انسان ته زیان رسوي. بل ته ژوند ډېر ارزښتمن دی. دنیا ورځ تر بلې ګرمېږي، رنځېږي او ښایسته کېږي او په دې توګه ورسره ژوند هم ارزښت پیدا کوي.

زما د ژوند د رښتیني نیمکرغۍ لومړۍ تجربه هغه مهال دی چې د جنګي بې ځایه شویو په توګه مې کورنۍ سره په (تااګو) کې ژوند کاوه او ورځپاڼې مې پلورلې. هغه وخت جنګ خلک دومره ځپلي او خوار کړي وو، چې مرګ یې تر ژوند ښه باله. تل به وږي وو او ښایي د ژوند همدې ترخې ټوکې او لوږې راته د ژوند غیرت راکاوه.

هغه وخت یې زما پلار نیولی او شمالي کوریا ته وړی و او مشرانه ورونه مې پوځ کې وو، یعنې کورنۍ ماته را تر غاړې وه. ما باید بازار کې هره ورځ ۱۰۰ ورځپاڼې پلورلې وی چې د ژوند لګښت مې پوره کړی وی. دا کیسه مې مخکې کړې، مور او کوچنیو ورونو به مې تر نیمو شپو دروازې ته سترګې نیولې وه چې زه ورشم او په ګډه ډوډۍ وخورو، زه ترې په دې کار ډېر زیات خوشاله وم. موږ څلورو به چې یو ځای ډوډۍ خوړه سخت به خوشاله وو. زه رښتیا هم خوشاله وم او هغه ډوډۍ موږ ټولو ته رښتیا هم خوند راکاوه.

خو تل مو یو ځای ډوډۍ نه شوه خوړی، ځکه ما (پانجون) بازار کې ورځپاڼې پلورلې، دا بازار د سیند په غاړه جوړ شوی و، هوا هم چندانې

ښه نه وه او دوکانونه هم ډېر واړه وو. که مې کورنۍ ساتلی؛ نو د ورځې مې باید ۱۰۰ ورځپاڼې پلورلې وی، خو دا ناسمه هوا يې راته سردرد و، ځینې وخت به مې د کورنۍ د ډوډۍ لپاره یوازې څو سیکې په جیب کې شرنګېدې.

په داسې شپو به چې کور ته راغلم مور او وروڼه به مې ویده وو، زر به پوه شوم چې دوی ولې زما له راتګه مخکې ویده شوي، مور به یوه کاسه وریجې لرلې او کورنۍ به مې هغه ماته پرېښودې، مور به مې سر راجګ کړ او ویل به یې مور ډوډۍ خوړلې ته به وږی یې ډوډۍ دې زر وخوره. ما به چې خپلو ورونو ته ولیدل، هغوی خواران به مې مور وږي ویده کړي وو او دې سره به مې زړه راډک شو. خو ما او مور به مې اوښکې په سترګو کې له یو بله پټولې، ما به ورته وویل چې ما په لاره کې یوه کاسه مینچې خوړلي، دا وریجې ته او هلکان وخورئ.

دواړو به یو بل ته دروغ ویل او ښه پوهېدو چې دروغ وایو. خو مور یو بل ته خپل واقعي احساسات نه شول څرګندولای، اوس کله کله فکر کوم چې ددې ټولو ستونزو سره بیا هم هغه وخت زما د ژوند تر ټولو ښې شېبې وې. نېکمرغي د بوډۍ ټال کې زنګل یا بل خارق العاده شی نه دی، ما او کورنۍ به مې یو بل ته ډېره زیاته قرباني ورکوله او همدا زما لپاره نېکمرغي وه. مور پیسې نه لرلې خو مینه او عاطفه راسره ډېره وه. سره له دې چې لږ څه مو لرل خو یو بل ته مو ډېر څه ورکول. که یو شتمن هر څه لري او په دې نه پوهېږي چې چاته یې څنګه څه ورکړي؛ نو دا شتمن نه دی، اصلي شتمن هغه دي چې لاس او زړه یې پراخه وي.

Scanned by CamScanner

نو موږ باید د شتمنۍ اوسنی مفهوم بدل او په خپله حقیقي معنا بېرته راژوندی کړو. یعنې څوک چې په بخشش او سخاوت پوهېږي هغوی د ننني نړۍ اصلي شتمن دي.

ربښتیني نېکمرغي څه ده؟ زه دا دعوه نه کوم چې ددې پوښتنې ځواب راځي، خو دومره ویلای شم چې ربښتیني نېکمرغي شتمنۍ، واک او شهرت سره چنداني تړاو نه لري. دا ښکاره وایم، د ژوند ښې شیبې مې هغه وې چې له مادي پلوه تر ټولو ټيټه کچه کې اوسېدو.

له هماغه وخته مې نورو ته د ژوند کولو فلسفه راخپله کړې، خو عملاً گورم چې دا فلسفه پالل ډېر گران کار دی. اوس هم هڅه کوم چې په همدې فلسفې ژوند وکړم.

تاسې باید نورو ته ژوند وکړئ، نورو ته مینه ورکړئ او د دې ټولنې د غړي په توگه له ځانځانۍ تېر شئ.

نیمکرغي په مینه کې لیدی شو، څکه له همدې سرچینه اخلي، زه فکر کوم چې موږ د نړۍ ټول خلک یوه گډه هیله لرو، یعنې ټول نېکمرغي غواړو، خو په دې نه پوهېږو چې څنگه يې ترلاسه کړو، زه هم داسې یم. خو په دې پوهېږم، که نورو ته ژوند وکړئ او نورو سره مینه وکړئ، نیمکرغي به درته رامخه کړي.

نو ای ځوانانو تر خپله وسه زده‌کړه وکړئ، هڅې وکړئ او نور خلک په خپله پوهه او تجربو کې شریک کړئ، په دې توگه به سبا د خپل علم او پوهې شتمني له نورو سره وویشئ.

Scanned by CamScanner

# [۳]

## شهرت او عزت

ژوند کې ځينې داسې ارزښتونه شته چې انسان يې بايد هېڅکله ونه بايلي، په ټولو کې ډېر ارزښتمن يې عزت او باور دي. که د ژوند بايلل مرګ دی؛ نو د عزت او باور بايلل هم په ټولنه کې ستاسې د ژوند پای دی.

پيسې بايلل هم بد کار دی، خو سرټيټی نه لري، بېرته يې ګټلای شئ، ځکه د مصرف شی دی، خو ټولنه کې خپل عزت په هېڅ صورت له لاسه مه ورکوئ، دا بايد خپل ژوند ته مهم وګڼئ او ساتنه يې وکړئ.

هر انسان ټولنه کې نوم او شهرت لري، د شخص باور ترې بيل نه دی، دا د انسان د موجوديت يوه برخه ده. که څوک د يوه چا نوم واخلي تاسې ته يې دستي ځېره درياديږي، غږ، شخصيت، ټولنيز موقف، سوابق او ښايي د قوت او کمزوري ټکي ... دا ټول يې درياديږي؛ نو نوم يعنې په خپله شخص. که د (نيرون) نوم واورئ بدکاورنه يې درياپږدې او که ډاکټر (شوايزر) واورئ د انسانان دوستانه کارونو ياد يې درتازه کيږي؛ نو تاسې پوهيږئ چې نوم څومره مهم دی او ددې د

ساتنې لپاره باید څومره هڅې وکړئ، په دې نوم داغ مه ږدئ او مه پرېږدئ چې نوم مو د خجالت او سرټیټي لامل شي.

تر ټولو لویه بې عقلي دا ده چې انسان په لوی لاس خپل نوم خراب کړي، که نیک نوم مو له لاسه ووت بیا راګرځول یې ستونزمن دي.

نو د خپل عزت او آبرو ساتلو لپاره څه کوئ؟ آیا څلند مو نوم سره سم دی؟ که زده کوونکی یې او کړه وړه دې د زده کوونکي نه وي عزت دې بایلې. که محصل یې د یوه محصل په څېر تمه درنه کېږي. ډاکټران، مور او پلاران، ملایان او حتی سوداګر که هغسې څلند ونه کړي لکه ټولنه کې چې له دې نوم او موقفه تمه کېږي؛ بې عزته کېږي. په ټولنه کې هر نوم او شخصیت یو لړ ځانګړنې لري؛ نو تاسې باید ښې او مثبتې ځانګړنې ولرئ، چې د یوه وزیر یا لوی دیني عالم په توګه وپېژندل شئ. که مو دا ځانګړنې له لاسه ورکړې د اغیارو له رټلو سره مخ کېږئ، دا خبره د ټولو معلم، محصل، سوداګر، لیکوال ... لپاره ده. البته ځینې خلک ټولنه کې خپل نوم او شخصیت ته پام نه کوي، دا خلک په خپلو ناسمو کړنو ټولنه کې د خپل هم مسلکه خلکو نوم بدوي او له بده مرغه د داسې خلکو شمېر په زیاتېدو دی، دا موضوع د سوداګرو او کسبګرو په اړه هم سمه ده او زه فکر کوم چې خپل ټولنیز موقف یې سم نه دی پېژندلی.

مخکې مو وویل چې نړۍ کې ښوونکي ډېر خو معلمین لږ دي، دا په معنا ده چې ښوونکو ټولنه کې خپل موقف نه دی پېژندلی، دا موضوع د هغو ډاکټرانو په اړه هم صدق کوي چې له درملنې مخکې د فیس خبره کوي.

Scanned by CamScanner

د اداري کارکوونکي هم بايد خپل ټولنيز موقف وپېژني، زه فکر کوم د صنعتي بنسټګر دنده دا ده چې د اقتصادي فعاليتونو په مرسته د ټولنې ودې او پرمختګ سره مرسته وکړي. که ما دا فکر نه لرلای چې د صنعتګر مسئوليت د خپل، کورني او د ټولنيز ژوند جوړول دي؛ نو وخته به مې دا کار پرېښی وی. که کوم ځوان غواړي د خپلې شخصي ګټې لپاره صنعتي اداره رامنځته کړي دا فکر دې اصلاح کړي که يې نه اصلاح کوي؛ نو هيله لرم د صنعتي اداري د بنسټګر په اړه دې له سره تجديد نظر وکاندي.

که زه وغواړم چې يو موده له کاره ځان اوزګار کړم او ارام وکړم، بيا هم په ټولنه کې د خپل شته شهرت له امله دا کار نه شم کولای. د کيم وو چونګ نوم له فعاليت سره نښتی او زه ويرېږم که فعاليت پرېږدم هسې نه ټولنه کې مې شته حيثيت او مفهوم بدل شي.

سره له دې چې ډايوو ګروپ ډېر زيات فعاليتونه کوي او يو شمېر يې د صنعت او سوداګرۍ په برخو کې دي، خو زه نه پرېږدم چې ډايوو په ځينو فعاليتونو کې برخه واخلي. لومړی يې د لذتي فلسفې پلويانو ته خدمتونه وړاندې کول دي، مثلاً هغه خدمتونه چې د خلکو د عيش و نوش غوښتنه پوره کوي.

د خوراک او څښاک توليد د پيسو ګټلو تر ټولو ښه لاره ده، خو د ډايوو ګروپ باور او سابقې ته په کتو وايم چې له دې کارونو ځان وساتل شي.

دويم فعاليت د نااړينو مصرفي توکو واردول دي، په دې اړه پرېکړه کول دې پوره اړه لري چې ايا ورته شی په هيواد کې دننه توليدېږي که نه؟ که ورته شی په هيواد کې وي ددې له واردولو ډډه کوو.

Scanned by CamScanner

دربیم مورد هغه سوداګریز فعالیتونه دي چې د وړو او منځنیو پانګونو مخه نیسي. دې ادارو ته د مناسب کار پرېښودل مهم دي، لويې ادارې باید یوازې خپل کار وکړي او له دې وړو ادارو دې کارونه نه تروړي. پورتني محدودیتونه د کیم وو چونګ او ډایوو ګروپ د ښه شهرت لپاره په ځان منم، ځکه د شهرت او عزت ساتل راته ډېر مهم دي.

Scanned by CamScanner

# [۴]

## د جايزو طبيعي اغېز

د ډايوو لومړيو فعاليتونو کې مې ډېرې جايزې واخيستې، فکر کوم دا جايزه فرد ته ټولنې درناوی دی. سره له دې چې جايزه خپله د هڅونې جنبه لري، خو اخيستونکې ته يو ډول ستونزه هم جوړوي. جايزه چې دې واخيسته بيا بايد ثابته کړې چې ددې وړتيا دې لرله، پر جايزې او ترلاسه کړي اعتبار سربېره ددې ثبوت لپاره يوازينۍ لاره دا ده چې لا ډېر کار وکړئ.

ما هم داسې وکړل، ځکه نه مې غوښتل چې په ما د ټولنې کړی باور ورمات کړم؛ نو د پخوا په پرتله مې دوه چنده کار پيل کړ او ننني (ډايوو) د هماغو هڅو پايله ده. د خپلو شخصي تجربو له مخې ويلای شم چې جايزې ورکول ښې پايلې لري ځکه خلک نورو لويو موخو ته هڅوئ. کورياييان په جايزو، ستاينو او نمانځنو کې چندان سخي نه دي، مثلاً زه چې اروپا او امريکا ته وينا لپاره لاړ شم، ډېر خلک لاس راکوي او هڅوي مې، ځينې وخت دا لاس ورکول له وينا ډېر وخت نيسي او

کله کله لیکونه هم راته لېږي، خو که هماغه وینا کوریا کې وکړم، هېڅ غبرګون به یې ونه وینم.
بهر مې خلک په دې خاطر نه هڅوي چې زه ګني د لینکلن (مشهور په ګریټ ګستبی) غوندې وینا کوم، بلکې لامل دا دی چې هغه چاپېریال د هڅونې او نمانځې لپاره تر نورو ښه دی، له بده مرغه زه دا چاپېریال په کوریا کې نه وینم.
خلک په وړو جایزو خوشاله کېږي او دا طبیعي ده چې له خپلې ستاینې هم خوند اخلي. انسان له جایزې اخیستو سره یو ویاړ ګټي او د لا ډېرو هڅو نوې انګیزه پکې پیدا کېږي، لکه مخکې مې چې وویل بیا څوک نه شي کولای چې د خلکو او ټولنې ترلاسه کړی باور مات کړي.
تاسې د جایزې په ورکړې د یوه شخص د ژوند لوری بدلولای شئ، نو که موږ کوریا کې بلې هېڅ یوې رشتې ته جایزه نه ورکوو، ښوونې او روزنې د ودې لپاره خو باید د ټولنې دې قشر ته جایزې ورکړو.
زه فکر کوم نیکو او صالحو خلکو ته باید ډېرې جایزې ورکړل شي، خلک باید د جایزې اخیستو په ارزښت پوه شي. ټولنه چې د یوه چا درناوی وکړي، هغه په ژوند کې لا ډېرې هڅې کوي.
که په دې اړه کوم شک لرئ، زه حاظر یم چې درته ثابته یې کړم.

Scanned by CamScanner

# [۵]

## هر شی پخپل ځای ښه دی

نړۍ کې هر شی او هر څوک خپل ځانګړی ځای لري.

ټولنه کې هله نظم، ترتیب او ارامتیا راځي چې هر شی او هر څوک خپل اصلي ځای ته ورسي. که یو شی په خپل ځای کې نه وي بې نظمي رامنځته کوي. فکر وکړئ خوله مو د غوږونو او غوږونه مو د سترګو په ځای وی څه حال به و. سترګې غوږونه او خوله مو په خپلو مناسبو ځایونو دي. په دې طبیعي حالت کې ستاسې د بدن غړي له نورو غړو سره همغږي لري؛ نو که هر شی په خپل ځای کېښودل شي نظم خپله رامنځته کېږي.

موږ خوړو ته اړتیا لرو؛ نو دا موضوع مهمه ده، مثلاً وریجي باید په قاب یا غوري کې وخوړل شي، هېڅوک وریجې په ځمکه نه اچوي، ځکه په ځمکه لویدلې وریجې د خوړلو نه وي. کومې وریجې چې له قابه خوړل کېږي د انسان بدن کې ترې انرژي جوړېږي، خو که په ځمکه توی شي، خځلې ترې جوړېږي.

Scanned by CamScanner

ټولنه کې تشه هله راپیدا کیږي چې تاسې خپل کار ونه کړئ. محصل باید محصل وي، مور مور؛ پلار پلار؛ مېرمن مېرمن؛ خاوند خاوند؛ کاریگر کاریگر؛ صنعتگر صنعتگر او نور... . ټولنه هله خرابیږي چې خلک یې په خپلو مناسبو ځایونو کې نه وي.

۱۹۸۸ ز کال کې د ډایوو د نوي کال په پیغام کې پر دې ټینګار شوی و چې د ټولنې خلک باید په خپلو مناسبو ځایونو کې وګومارل شي او متن یې داسې و:

(راځئ نوي کال کې هر یو خپل ربښتیني ځای ونیسو)

ټول کولای شو متعادل کوریایان شو او بلاخره ټول کولای شو چې ددې نړۍ درانه خلک شو.

که وایو چې ټولنه مو دې زر پرمختګ وکړي او ثبات ته دې ورسي؛ نو ټول باید خپل حقیقي کار ترسره کړو. مسلکي خلک دې خپل ځای نه پرېږدي او نامسلکه دې پرې نه ګومارل کیږي، دا خبره محصلینو، مور و پلار، ښځې او خاوند .... لپاره هم سمه ده.

ټولنه کې هر کار خپل استاد لري، هر استاد باید خپل واقعي ځای ته لاړ شي، نن موږ ډېر بیکاره خلک ګورو چې خپلو ځایونو کې نه دي.

که څوک په شرایطو پوره نه وي او په یوه پوسټ وګومارل شي څه پیښیږي؟ که پوهنتون کې نامسلکي استادان درس ورکړي او د شرکت چارې نوي راغلي خلک واخلي، څه به کیږي؟ ښکاره خبره ده، ړوند چې ړوند ته لاره ښيي دواړه به لویږي.

ډایوو شرکت لومړی کارکوونکي د دوی وړتیاوو ته په پام خپل اصلي او مناسب ځای کې ګوماري، ځکه زما په نظر یوې بې جنجاله او بریالۍ ادارې لپاره دا چاره مهمه ده.

Scanned by CamScanner

موږ په شرکت کې بې نوبته او په يو ځل ځو ترفيع ورکوو، ځکه ځينې کارکوونکي بايد د خپلو وړتياوو پرمټ د پرمختګ لار تر نورو ژر ووهي.
په ادارو کې د اداري مدير يوه مهمه دنده دا ده چې خلک په سمو پوستونو او مسئوليتونو وګوماري. تر ځو کاله مخکې ما خپله د ځانګو رئيسان ټاکل، خو اوس د ډايوو شرکت لوړپوړي چارواکي زما په دې تګلاره پوه دي، مستقيماً خپله دا ګومارنې کوي.
ځو ورځې مخکې مې يوه سندره کې واورېدل چې ويل يې: ځوکۍ تاوېږي، تاوېږي، تاوېږي او د هغه کېږي چې ځوک پرې کېناست.) خو اصل کې داسې نه ده، ځکه هره ځوکۍ د هغه چا ده چې په کار يې پوه وي او هماغه بايد پرې کېني. دا کار به يوازې د ځوکيو په فابريکه کې کېږي، ګني بل ځای کې نشته. که په شرايطو نابرابر کس په ځوکۍ کېناست ستونزې راپيل کېږي، ځکه هغه سړی يا اړوند کارونه نه کوي او يا يې لږ تر لږه په سمه توګه نه کوي.
ټولنه کې هر ځوک خپله ځوکۍ لري، که هر ځوک خپلې ځوکۍ ته ورسېد، هېڅ ستونزه به نه وي او ټول کارونه به ښه سم روان وي، ځکه هر ځوک به د خپل کار مسئول شي. ټولنه کې د خلکو ونډه هم د اصلي ځای غوندې جلا ده، ځکه نو مهمه دا ده چې هر ځوک په خپل ځای شي او خپل کار وکړي. کار يا مسلک په خپله ښه يا بد نه وي، ښه هله وي چې په کار پوه خلک يې کوي او بد هله شي چې د ناپوه خلکو لاس ته ولوېږي. توپير يوازې په همدې ټکي کې دی.
د کريکټ لوبه کې هر لوبغاړی په خپل ځای ودرېږي او د هماغه کس په نوم وي، يو بال کوي، بل بيټينګ کوي، بل کيپر وي بال نيسي، بل

Scanned by CamScanner

کس لوبه څاري، ځینې بونډریو کې ولاړ وي، ځینې دننه دایره کې وی ... یعنې هر لوبغاړی خپل ځانګړی ځای او ځانګړی مسئولیت لري. که په لوبه کې یو دم دا کسان سره خپل ځایونه بدل کړي، مثلاً کیپر بال وکړي، لوبغار بیټنګ وکړي، بیټسمین کیپر شي ... یعنې د یو بل په کار ور ودانګي؛ نو دوی به سمه او منظمه لوبه وکړي؟

موضوع دا ده چې په کریکټ او ټولنه دواړو کې باید هر لوبغاړی خپل ځای وپیژني، لکه څنګه چې هر لوبغاړي د خپلې لوبډلې د پرمختګ لپاره ښه لوبه کوي، موږ هر یو باید هغه کار وکړو چې د کولو وړتیا یې لرو. کار د خپلې خوښې او حوس له مخې مه ټاکئ، ځان په شرکت مه تاوانوئ او په داسې پوسټ کار مه کوئ چې وړتیا یې نه لرئ.

محصلین دې خپله انرژي په مطالعه او درس مصرف کړي چې ټولنې ته ترې ګټور شخص ووځي.کوم زده کوونکی چې په شوق او قربانۍ دنده ترسره کوي، دې ته به ټولنه هرومرو اړتیا پیدا کوي.

نو باید وګورئ چې تاسې خپل اصلي کار کوئ که نه؟ ځکه که خپل اصلي کار ونه کړئ د ټولنې یوه ضایع شمېرل کیږئ، ځکه هېڅوک ستاسې په ځای ستاسې کار نه شي کولای، که ټولنه کې مو خپل ځای وپېژنده هېڅوک مو ځای ناستی نه شي پیدا کولای، ځکه ټوله ټولنه په خپل اصلي ځای ده.

ستاسې اصلي او حقیقي ځای درته په تمه دی.

Scanned by CamScanner

# [٦]

## د کار کولو معنوي خوند پر وړاندې مادي ګټه

اوس مې زړه غواړي چې د ښه ژوند په مفهوم درسره وغږیږم.
کوریا کې دا پوښتنه عادي ده چې ژوند ښه دی که نه؟ فکر کوم کوریایي ټولنه کې د خلکو د ژوند وضیعت یې شتمنۍ پورې اړه لري. دا پایله مې د خلکو له ځوابونو ترلاسه کړې ده، هو فلانی ښه ژوند لري ځکه ډېر شتمن دی، اپوټه د فلاني ژوند سخت دی، ځکه پیسې نه لري. دا نهیلي ده چې ټولنه کې دې د انساني ژوند معیار د شتمنۍ پر بنسټ وګڼل شي.
البته د ټولنې ټول خلک باید ښه او مناسب ژوند ولري، خو زه وایم چې یوازې پیسې ټولول ژوند نه ښه کوي، ښايي پیسې راټولول د شتمنۍ لامل شي، خو دا په هر صورت د ښه ژوند لرلو په معنا نه ده. زه فکر کوم د شتمنۍ ارزښت له مال لوړ نه دی او د کار خوند د هغه له مادي ګټې ډېر دی.
د زیاترو صنعتي ادارو بنسټګر فعالیت ددې لپاره کوي چې پیسې وګټي او شتمني راټوله کړي، همدا د دوی د ژوند یوازینۍ انګېزه ده. دا ډله

Scanned by CamScanner

خلک ټول عمر د خپلې شتمنۍ په فکر کې وي او اندېښنې يې خوري.
داسې پانګوال هم شته چې د بريا ترلاسه کولو او ترې خوند اخيستو لپاره هلې ځلې کوي، دا منل شوی حقيقت دی چې د ټولو سوداګريزو فعاليتونو اصلي موخه ګټه ده، خو زه په دې باور يم چې اداره بايد يوازې داسې ګټې لپاره رامنځته نه شي، چې په معنوياتو ته پکې هېڅ پام نه کېږي.
داسې شرکتونه هم شته چې د رغونې او بريا ترلاسه کولو لپاره فعاليت کوي، تاسې څه فکر کوئ د کوم يوه ژوند ګټور دی. ماته يوه خبره څرګنده ده، څوک چې مال او شتمنۍ سره ډېره مينه ولري، ژوند کې نه قناعت کوي او نه خوښي مومي، ځکه حرص او تمه يې حد نه لري.
حرص او تمه دومره خطرناک شی دی، که يو څوک ۹۹ قلمه شتمني لري، د يوه بل قلم لپاره انسان وژلای شي او دا وژنه يوازې په دې خاطر کوي چې خپله ۹۹ قلمي شتمني يو قلم ورزياته کړي. حريص خلک هېڅکله د ژوند په اصلي مفهوم نه دي پوه شوي، ځکه تمه او حرص هېڅ پوله نه پېژني، مثلاً فرض کړئ يو کس ټول عمر زيار ګاللی او يو کور يې جوړ کړی، خو بيا ګوري چې ګردچاپېره ترې لوی او ښايسته کورونه ولاړ دي، حرص او تمه ددې لامل کېږي چې دا سړی هرومرو لوی او ښه کور وغواړي، زه په دې باور يم چې د ژوند اصلي موخه په شتمنۍ راټولولو کې نه شي لټولای.
په پيسو او شتمنۍ فخر کول کم عقل کار دی، ځکه دا په دې معنا ده چې دې شخص کې د انسان په توګه د خبرو څه نشته. که په پيسو وياړئ؛ نو په سم او مناسب مصرف يې ووياړئ، نه په شمېر او کميت.

Scanned by CamScanner

که یو څوک ډېرې پیسې ولري خو په دې پوه نه شي چې د نورو په ګټه یې ځنګه وکاروي، دا شخص واقعاً غریب دی.

که دا موضوع لږه ژوره وارزوو؛ نو خبره دا ده چې تاسې باید خپلې پیسې او شتمنۍ یوازې د خپل ځان ونه ګڼئ، ځکه دا فکر درکې د مال او شتمنۍ حرص او تمه زیاتوي. بده دا ده چې دا احساس نه یوازې دا چې له منځه نه ځي؛ بلکې د وخت په تېرېدو مو نورو نااصوله کړنو ته هم اړباسي. دین وایي چې په شتمنۍ څارنه وکړئ، یعنې دې نړۍ کې ټوله شتمني یوازې ستاسې نه ده، دا تاسې سره یو امانت دی او څارنه پرې باید وشي. دا تفسیر د شتمنۍ د ساتنې او ترې د سمې ګټې اخیستنې مسئولیت هم لري، زه خپله دا خبرې او تعلیمات ډېر ښه بولم.
انسان تلونکی دی، که ټول بشریت مړ شي بیا به هم نړۍ پاتې وي، څه چې تاسې تل د ځان ګڼئ ستاسې تر مړینې وروسته به بل ته پاتې شي؛ نو د طبیعت د قانون پر وړاندې باید متواضع او خاکسار شو. په بله وینا پیسې او شتمني د ستونزو او کړاونو پیلامه ده. د بودا مکتب وایي چې انسان باید ځان مال او شتمنۍ سره ونه تړي او د انساني عروج اصلي لاره خپلواکي او مطلقه نیمکرغي بولي. زه سره له دې چې د یوې لویې سوداګریزې ادارې پرمخ وړونکی یم، بیا هم د مال او شتمنۍ راټولولو سره چندان علاقه نه لرم. څوک چې وایي د صنعتي ادارو بنسټګر یوازې د شتمنۍ ګټلو لپاره فعالیت کوي، هغه لذت نه شي تجربه کولای چې د یوه لوی تولید یا انسان ته د خدمت کولو په وخت یې ترلاسه کوي. زه دا دی ۲۴ ساعته وخت هم د خپل کار لپاره کم ګڼم، که په همدې چټکتیا په پیسو او ګټو پسې ونه ګرځم، ځینو خلکو ته به کم عقل ښکاره شم.

خو ما ټول عمر د څو سکو ترلاسه کولو لپاره د لیونو غونډې کار نه دی کړی. زه په کار روږدی یم او یوازې د بریا او پرمختګ لپاره دومره سخت کار کوم، پیسې دومره خوند نه کوي لکه د یوې لویې صنعتي او سوداګریزې اداري په بریالی توګه جوړول یې چې کوي. ځینې شیان مې لا ډېر کار او هڅو ته اړباسي. خوند هغه کار کوي چې نور خلک یې ناشونی وبولي، مثلاً په نړیوالو بازارونو کې د یوه مشهور او معتبر تولید ترون. دې شیانو زما ژوند ته معنا او مفهوم ورکړی او زما پرلپسې هڅو او فعالیتونو له همدې سرچینه اخیستې.

که هر څومره شتمن شئ هر څه نه شئ لرلای، ځکه مالکیت او شتمني محدوده ده. نو زه نه غواړم چې د پیسه ګټونکي شخص په توګه په یاد پاتې شم، ځکه دا ځان ته تعریف نه بلکې یو سپکاوی ګڼم. که څوک مې دا صفت کوي، دا په دې معنا ده چې له دې پرته راکې د صفت کولو بله ښېګڼه نشته، زه غواړم چې خلک مې د یوه کاریګر او بریالي انسان په توګه یاد کړي، ګټه هغو انسانانو کړې چې ژوندي پاتې کېږي.

Scanned by CamScanner

# [۷]

## نوښتگر اقليت

نن امريکا زبرځواک گڼل کېږي خو خلاقي اصول په کې زوړ سره مخ دي او له مودو راهيسې پکې د (پيوريتانايانو[۶]) فرقه د ډېرو هڅو له امله انزوا کې اوسي او له پامه لوېدلې ده. تشدد، جنايت او نشه يي توکو انسانان خراب کړي او زياتره امريکايي ځوانان غواړي د ژوند ډېره برخه يې په هيجاني شېبو کې تېره شي. دې کې داسې خلک هم شته چې ډېر سخت درس وايي او د يوه روښانه سبا له په څېړنو اخته دي، بل اقليت به خپلې ټولې هڅې ددې لپاره کوي چې د امريکا ستر پرمختگونه ضايع نه شي، فکر کوم د امريکايي ټولنې رهبري د همدې ډلې پر غاړه ده.

موږ دې په شمېرو او ارقامو نه تېروځوو، ځکه دا يوازې کميتونه ښيي، مثال که ۱۰۰ څاروي او يو انسان ولرو؛ نو ۱۰۰ د ۱ پر وړاندې ښودل کېږي، ځکه نو شمېرې ښايي انسان تېرباسي او په هېڅ صورت د اقليت قوت ونه ښيي.

---

۶ د انگليسي معترضينو يوه ډله ده چې د اليزبيت په وخت کې د مذهبي سننو پر وړاندې راپاڅېده او د ساده ژوند پلويان دي.

Scanned by CamScanner

ټوین بي وایي هغه څوک چې د ټولنې د فرهنګ او تمدن د پرمختګ هڅې کوي خلاق اقلیت دی او شمېر یې محدود ، خو اغېز یې د شمېر هومره نه دی، بلکې د دوی د نوښت او خلاقیت قوت په ټولنه کې د دوی نفوذ ښیي. د دوی ذهني الهامات او پنځونې دي چې ناخلاق اکثریت ته په ټولنیز پرمختګ کې د هڅو ونډه ورکوي. دا په ټولنه کې د اقلیت مسئولیت دی او د دوی له مرستې پرته به هېڅکله پرمختللې ټولنه او فرهنګ ونه لري. اقلیتونه باید ناخلاقه اکثریت وروزي چې د ټولنیز تاریخ او فرهنګ په پرمختګ کې هڅې وکړي، ځکه که اقلیتونه دا کار ونه کړي، د ټولنې او فرهنګ ځوړ به لاپسې تېز شي. ددې اقلیت غلي کول د ټولنې او فرهنګ د سقوط معنا لري. که ټولنه کې د اقلیت له خلاقیتونو ګټه پورته نه شي او همدا اقلیت د اکثریت له لورې کنټرول شي؛ نو ټولنه به ځوړ ته مخ کړي. که د ټولنې رهبران عیش و ارام ته مخ کړي د مبارزې روح ترې وځي او ټولنه زوال سره مخ کېږي. نن ورځ موږ عیناً د ټواین بي د مطالعاتو بېلګې په خپله ټولنه کې لیدلای شو.

د ټولنې د پرمختګ یا بربادۍ خواته وړلو مسئولیت د خلاق اقلیت په غاړه دی، په هره ټولنه کې باید رهبران ځینې مسئولیتونه ولري او ځان دې خپلو دندو ته وقف کړي، داسې ټولنه بیا هېڅکله زوال نه مومي، همدا اصل په شرکتونو او ادارو کې هم دی.

د ټولنې په هره برخه کې خلک د خپلې ودې او پرمختګ لپاره خلاقو او ژمنو رهبرانو ته اړ دي، تاسې باید خلاق یا نوښتګر کس شئ، داسې کس چې د خپلې ټولنې د ودې، پرمختګ او نیکمرغۍ لپاره کار کوي. تاسې سره به دا پوښتنه وي چې څنګه د خلاقې یا نوښتګرې ډلې غړی

Scanned by CamScanner

وګرځئ؛ نو اوس به درته ووایم چې لومړی باید څه څه ولرئ: فرصت طلبه، نندارچي او منفي ګرا مه اوسئ.

د ملت جوړونې، خلکو سره مرستې او فرهنګي او تمدني پرمختګ لپاره یوازې یو پراخه لید ته اړتیا لرئ.

ډېر پخوا یهودیان له مصره کډوال شول او پوره ۴۰ کاله په خپل ټاکلي ځای پسې وګرځېدل، دا قوم کنعان خواته روان شو، دا هغه ځمکه وه چې خدای پکې برکت ایښی و، خو دا ځمکه د کنعان قوم نیولې وه؛ نو یهودانو ورته ۱۲ کسیز پلاوی واستاوه، په راتګ یې لسو کسانو سرونه وخنډل او ویل یې چې ددې ځمکې نیول امکان نه لري. د کنعان خلک تر یهودیانو لوی او متهور وو او نظامي قوتونه یې هم لرل، دې لسو کسانو د یهودانو د بریا کوچنی هیله هم نه لرله.

خو د پلاوي دوه کسان بیا دوی سره مخالف وو، دوی ویل چې یهودیان باید له هېڅ شي هم ونه وېرېږي، ځکه د کنعان ځمکه دوی ته خدای ورکړې ده، یعنې دوه کسان د لسو کسانو پر وړاندې، دا چې د برید پرېکړه د اکثریت د نظر له مخې شوې وه؛ نو یهودیانو اوس په هېڅ صورت جنګ نه کاوه، خو د بحث او دلایلو له مخې دوو کسانو د برید پلان جوړ کړ او بلاخره ددې ځمکې په نیولو بریالي شول، دا موضوع ښیي چې تاریخ یوازې اکثریت نه جوړوي.

د ښو او بدو تشخیص زیاتره وخت د اکثریت له وسه بهر وي، موږ له پورتنۍ کیسې همدغه سبق زده کوو. موږ په انجیل کې د (یوشاین نون) او (کالب) په نامه دوه کسان پېژنو او همدا خلاق اقلیت و، د دوی دې خلاقیت او مبارزانه چلند یهودان خپلې ځمکې ته ورسول.

Scanned by CamScanner

خلاق اقلیت مثبت وي، دا هغه خلک دي چې د شکونو او نهیلیو په توره نړۍ کې د هیلو نړۍ څراغونه بل ساتي. خلاق اقلیت د کلتور په پرمختګ باور لري، دوی د تاریخ څرخې او د ټولنې ودې او پرمختګ ته لا زیات قوت ورکوي. زه هیله لرم د بشر تاریخ او تمدن ته تاسې هم د ټولنې خلاق او ژمن اقلیت ته ورننوځئ.

د نړۍ نوی تاریخ ستاسې له لاسه پیل کیږي.

Scanned by CamScanner

[۸]

# د آرامتيا زيان

ځوان نسل کې د خپل حالت بدلولو او ناممکنو شيانو ازمايلو لپاره د مبارزې روحيه پياوړې ده. دغه ځانګړنې ځوانۍ ته ښايست او ارزښت ورکوي، ځوان نسل له ماتې، نه وېرېږي. که څوک له ماتې وېرېږي او په اوسني حالت خوښ وي، که په هر عمر وي، ځواني يې تللې، برعکس که څوک پلټنه کوي، مبارزه کوي او د يوه ښه سبا لپاره هلې ځلې کوي، په هر عمر چې وي رښتينې ځوانان دي.

ځوان نسل د سبانۍ نړۍ خالق دی هغه د مبارزې اروا په مرسته سبا جوړوي، ځوانان ماضي نه لري، يوازې په راتلونکي فکر کوي او په لېرو او روښانه لوړو يې سترګې خښې کړې دي. دا چې د بېلات لپاره څه نه لري؛ نو خفګان او اندېښنې هم نه کوي، خطر نه پېژني، دوی هم ژوندي وي او زړونه يې هم ژوندي وي.

دا چې ځوانان له د خپل اوسني وضيعت په قيد و بند کې نه دي، نو که خپله پلټونکې روحيه يوازې د خپل ژوند د ثبات لپاره پرېږدي او بدلون راوړلو لپاره له مبارزې لاس واخلي؛ نو ځواني يې تللې ده. ځوانان خپل

Scanned by CamScanner

راتلونکي له ګټو او برياوو ډک ګڼي، دوی په دې عمر کې د احتمالي ماتې، زيانونو او اندېښنو لپاره وخت نه لري.
تاسې بايد پوه شئ چې، که څوک خپلې ارامتيا او ددې وضيعت ساتلو لپاره هلې ځلې کوي، ځواني يې مخ پر ځوږ ده.
ځوانان هر کار د مبارزې د روحيې له مخې پيل کوي، هغه که انفرادي وي او که ټولنيز. دا چلند د ځوانانو د ژوند له پيله سرچينه اخلي. د امريکا د لومړيو کډوالو په اړه فکر وکړئ، دوی چې دومره ليرې پرتو، نابلدو او له خطره ډکو سيمو ته تلل څه فکر به يې کاوه، دوی ځوانان او له مبارزې او پلټنې ډک وو، ځکه يې چا مخه نه شوه نيولای. هغه پروني ځوان امريکايان له نننيو مشرانو او لټو امريکايانو سره توپير لري.
دا طبيعي ده چې نويو ګومارل شويو کارکوونکو کې د کار اراده، شور او ولوله زياته وي، دوی بايد خپله نننۍ ځواني د روښانه سبا لپاره لګوي، ډېره هڅه دې وکړي او ښه درس دې ووايي، ددې هڅو پايله لوړو موقفونو ته ختل او مالي برياوې ترلاسه کول دي. دا امتياز هغو ځوانانو ته ځي چې خپله ځواني د ژوند د پرمختګ په لاره کې مصرف کړي.
خو ځينې وخت چې همدا مبارز ځوانان د اجرائيوي مدير موقف ته ورسېږي بيا يو ډول لټان شي، له مطالعې او مبارزې لاس واخلي او ځان جوړولو سره چنداني علاقه نه ښيي. دوی بيا په دې مرض اخته شي چې کار يوازې د ستونزې حل کولو لپاره کوي او فکر يې يوازې د خپل مال او شتمنۍ تر ساتلو محدود شي. دوی بيا په متوسطه توګه کار کوي، په همدې منځنۍ لاره روان وي او ډېر وخت ارام کوي. دوی فکر کوي

Scanned by CamScanner

چې ټولې برياوې يې په برخه شوې، خو له بده مرغه دې ته يې پام نه دی چې دا لټې يې دوی له ځوړ سره مخ کوي.

تاسې بايد ځان ته ددې وينا جرات ونه لرئ چې ولا زه خپل منزل ته ورسېدم، ځکه خپل منزل ته رسېدو دا ډاډ د ژوند تر ټولو خطرناکه شېبه ده. که يوې موخې ته ورسېدئ، پاس بله لويه موخه شته هغه ځانته وټاکئ. تل فکر وکړئ چې خپلې وروستۍ يا نهايي موخې ته نه يئ رسېدلي. مثلاً ښايي د ځينو موخه دا وي چې د ټولګي تر ټولو ښه محصل شي؛ نو ډېره خواري کوي چې دې موخې ته ورسي، خو که ورسېدئ بيا له ځانه مه راضي کېږئ او په کونج کې ډډه مه اچوئ، بلکې نورې موخې درته وټاکئ، مثلاً داخل بايد د ټول پوهنتون غوره محصل شئ، له غوره محصلۍ وروسته هم بايد د غرور او ډاډ احساس ونه کړئ، ځکه يوه بله موخه درته وټاکئ، مثلاً تر اخره د همدې مقام ساتل.

غوره محصلي اسان کار نه دی؛ نو دې ځای ته د رسېدو لپاره ستونزې او کړاوونه ګالئ، خو په دې مقام کې پاتې کېدل تر رسېدلو سخت کار دی، ځکه په دې مقام کې د لټۍ او غرور امکان زياتېږي، ښايي يو وخت به ستاسې پام هم نه وي خو بل څوک به راغلی او له تاسې به يې د غوره محصلۍ مقام نيولی وي.

ځينې علامې دا ښيي چې تاسې د وخت په تېرېدو لټ محصل کېږئ، زړه ماتېدل له لټۍ پيدا کېږي، خفګان کار کموي او تاسې بايد کار کم نه کړئ، ځکه کار ژوند مخ ته وړي او د انسان د شتون اصلي دليل دی، کار د ژوند د ودې او تحرک اصلي لامل دی، کار په دې معنا دی چې ته لا ژوندی يې. مړي حرکت نه کوي او که تاسې يې هم ونه کړئ

ښايي څه وخت او حتى ځو کلونه په خپل ځای پاتې شئ. ځوانانو که مبارزه پرېښوده د ژوند بله هيله يې نشته، دا خبره د ټولو ځوانانو په اړه سهي ده، که يو کس وي او که ډله. په ځوانانو کې سکون د ځوان نسل د مرگ او فنا په معنا دی او مرگ چې راشي؛ نو هيلې ختمې شي. هيلې، ځواني او ارمانونه چې خاورې شي، په فرد، ډلې، ادارې او حتى ټولنې هم بايد سينه ووهل شي.

تاسې به ليدلي وي چې ادارو کې ځينې خلک زر زړېږي.

يوه ورځ مې بايد د يوه شرکت عمومي رئيس د يو کار لپاره ليدلی وی. له ليدو وروسته حيران شوم چې سړي د خپل شرکت د توليداتو په اړه هېڅ معلومات نه لرل؛ بيا د شرکت اجرائيوی رئيس معلومات راکړل. هغه وخت مې موضوع هېره کړه خو چې وروسته مې وليدل ددې عمومي رئيس موټر زما له موټره لوی، نوی او ښايسته و. دې خبرې سخت خفه کړه او ځان سره مې وويل چې له دې شرکته د راتلونکي چنداني تمه نه شي کيدای. ځکه ومې ليدل د شرکت اجرائيوي رئيس دومره لټ او خوند او شوق کې ډوب دی چې د راتلونکو پرمختگونو په اړه يې هېڅ فکر نه کوي. دی لټ انسان و، ما زياتره وخت ليدلې چې لټي او قناعت د پای کرښه ده.

ځوانی کې لټي د ماتې لامل دی، له منځني حالت او کفايته بايد ليرې وگرځئ او داسې فکر وکړئ چې لا اصلي موخې ته نه يئ رسېدلي. د يو ځوان په توگه خپل شوق، شور او ولولې له خپلو فعاليتونو ځار کړئ، ځوانانو راتلونکې ستاسې دی او ستاسې په لاس کې دی.

Scanned by CamScanner

[۹]

# بزگران او مزدوران

تاسې به د کوکنارو گوډ یا للون نه وي لیدلی، کوکنار چې راشنه او لږ رالوي شي گیاه او اضافي بوټي پکې راشنه کېږي، بیا ددې لپاره چې د کوکنارو بوټی ښه وده وکړي خوا کې راشنه شوي بوټي او گیاه ترې وباسي.
ددې کار لپاره معمولاً مزدوران نیول کېږي، دوی کار کوي خو د دوی کار چې خلاص شي او بزگر پټي ته لاړ شي بیا پکې ځینې بوټي ورته ښکاري. بزگر څو څو ځله دا گوډ یا للون وکړي خو تر څو چې ورسره خپله ونه دریږي دا پټي نه پاکېږي، پوهېږئ ولې؟ ځکه چې بزگر د پټي خاوند دی او ډېره مینه ورسره لري، خو مزدور یې ځکه دومره کیسه کې نه وي چې دده د پلار پټي خو نه دی. دا چې بزگر یا دهقان د پټي خاوند دی تل هڅه کوي چې فصل یې ښه وده وکړي.
مزدوران یې چندان کیسه کې نه وي، دوی تل وایي چې دا کار بل څوک ولې نه کوي چې په موږ یې کوي؟ او تر څو چې ورته په خپل لاس کار ونه سپارې هغه یې نه کوي او قلارې به پروت وي.

Scanned by CamScanner

اوس د بزگر یا دهقان فکر له مزدور سره پرتله کړئ، که چا سوسیالیستي[۷] اقتصاد لوستی وي فکر يې تر ډېره همدې مزدور ته ورته دی، ځکه دې نظام کې ټول خلک فکر کوي چې پټي کې گني مزدوران دي.

ځيني داسې خلک هم شته چې خپل کار خو په ډېر په شوق او مسئولیت کوي؛ بلکې که يې څوک ورته ونه وايي هم د بل په کار کې ورسره مرسته کوي، بیا ځيني داسې د ظاهر شاه عسکر هم شته چې تر څو ورته ونه وايي خپل کار هم نه کوي، داسې خلک به نورو سره مرسته ښه وکړي؟ دا توپیر ځکه رامنځته کېږي چې ځيني خلک ځانونه خاوندان بولي او ځيني نور بیا هغه د گوډ یا للون مزدوران.

تاسې باید په کار و ژوند کې ځانونه خاوندان وگڼئ، څوک چې دا فکر لري د کار د چاپېریال او شرایطو کیسه کې نه وي، داسې انسان هوډمن او نوښتگر وي، هغه کاریگر چې په دې فکر کار کوي د شرکت په پرمختگ کې لویه ونډه لري، خو څوک چې ځانونه مزدوران گڼي یوازې خپل معاش حلالوي، دوی دومره کوي چې مشران يې ترې غواړي او کله کله هغه هم سم نه کوي. شرکتونه له داسې خلکو چندان گټه نه شي کولای او دغه فکر د کورنۍ او حتی ټولنې په پرمختگ کې هم چنداني ونډه نه لري.

په بهر کې د ډایوو د فعالیت لړه موده شوې، د اوړي گرمه ورځ ده، زه له دفتره راوځم چې گورم د شرکت ودانۍ مخې ته یوه لیکه خلک ولاړ

---

[۷] د سوسیالیستي نظام فلسفه دا ده چې هېڅوک خپل شخصي ملکیت نه لري، هر څه د دولت دي، خلک پکې د مزدورانو په توگه کار کوي او د دولتي پلان له مخې میاشتنی معاش ورکول کېږي، موږ يې کمونیستي نظام هم بولو.

Scanned by CamScanner

دي، په خېرو يې خفگان او انتظار خپور و. بېرته چې راستون شوم گورم زياتره يې مېرمنې دي چې بچي هم ورسره دي او دې سرې غرمې کې يې له تندي خولې څاڅي. پوښتنه مې وکړه ويل يې دا د هغو کاريگرو کورنۍ دي چې موږ بهر ته استولي دي. مسئولينو چې بايد د دوی ستونزې حل کړی وی، قلارې په يخو دفترونو کې ناست دي. زه خدای شته په دې مېرمنو او ماشومانو خفه شوم، ځکه دوی د ډايوو کورنۍ غړي وو، دستي مې پرسونل ته امر وکړ چې د دوی کارونه زر خلاص کړئ. مسئول رئيس مې راوغوښت او ومې راته، ورته مې وويل، ته دې گرمۍ ته پنځه دقيقې ودرېدی شې؟

ده بهانه وکړه چې دفتر يې وړوکی دی او دا خلک پکې نه ځايېږي، خو زما په نظر دا چندان دليل نه و. که دې سړي دا خلک خپل او د ډايوو کورنۍ غړي گڼلی هرومرو به يې ورته يوه عاجله لاره سنجولې وی، زه فکر کوم ددې لپاره هېڅ دليل او توجيه نشته چې دومره خلک دې بهر سره لمر ته ولاړ وي.

دا بده ده چې تل ځان ستونزو کې گڼو. که ډېرې بهانې کوو او کار خپل نه گڼو، ډېر زر به يې په اړه بې پروا شو او يوازې سيل به يې کوو. له بده مرغه ځينې خلک اوسنی وخت (د ننداری زمانه) بولي.

خاوند يا مالک څارگر نه بلکې د عمل کس دی؛ نو ټول بايد په ځان کې د خاوندتوب دا فکر تقويه کړو. تاسې بايد بزگر شئ، نه مزدور، په دې صورت کې به نورو ته ښه بېلگه اوسئ او خپل کارونه هم ښه په جديت ترسره کولای شئ. تاسې بايد فکر وکړئ چې دا کار يوازې تاسې کولای شئ، تاسې خپلو کارکوونکو ته يو اساس او بنسټ ږدئ،

Scanned by CamScanner

که داسې فکر وکړئ کار کې به خوشاله اوسئ او خپلې وړتیاوې به لاپسې زیاتې کړئ.

تاسې به لیدلي وي چې بریالي محصلین خپل درسونه ښه منظم لولي او تل یې کتاب لاس کې وي، چرته چې وخت پیدا کړي زده‌کړه کوي. د دوی فکري خپلواکي ډېره ده، له زده کړې خوند اخلي او وړتیا یې هم ورسره چټکه وده کوي، خو کمزوري شاګردان بیا داسې نه دي، ځکه دوی خپله درس نه وایي، که یې وایي هم په شین زور او تکلیف. ځینې یې دسره وایي هم نه او نه تمرینونه حل کوي، داسې محصلین نه درس وایي او نه ترې خوند اخلي، ځکه خپلې وړتیاوې هم نشي زیاتولای.

هېڅوک ستاسې په ځای ژوند نه شي کولای، ستاسې ژوند ستاسې دی او ښه یې دې پورې اړه لري چې تاسې په ځان څومره باور لرئ. خپل ژوند او مسئولیتونه بل چاته نه شئ پرېښودی. هیله ده چې په تېروتنې هم ځان کې د مالکیت یا خاوندتوب حس ونه وژنئ. په ځان باور ولرئ او په همدې باور زده‌کړې او ژوند وکړئ، هیلې او ارمانونه د هغو پوره کېږي چې کار خپل وګڼي.

# [۱۰]

## ویده نبوغ به څوک را ویښوي

یوې البانیایي مور د خپل زوی ژوند ژغوره او ناڅاپه یې یو موټر له خپل ځایه پورته کړ، دا کیسه نن سبا ډېره کېږي. دا په انسان کې د پټو او لویو ځواکونو بېلګې دي. موږ ټول انسانان خارق العاده وړتیاوې لرو، خو دا چې راکې پټې دي؛ نو موږ ترې خبر هم نه یو. چا چې خپلې وړتیاوې او قوتونه لیدلي ژوند یې بریالی شوی دی، خو هغوی چې له دې وړتیاوو ناخبره دي، همدا عادي ژوند کوي. یوه څېړنه وایي چې هر انسان خپلې یوازې ۱۵٪ پټې وړتیاوې کاروي؛ نو که موږ ۲۰٪ وړتیاوې وکاروو ټول به نوابغ شو او که ۳۰٪ و کاروو، ټول به لوی اتلان (سوپر هیروز) یو.

نو دا وینا مناسبه ده چې هر لوی اتل او نابغه انسان تر عادي هغه خپلې وړتیاوې ډېرې روزلې دي. اډیسن خپلې هرې اختراع ته جوړه کړې دستګاه نږدې ۲۰۰ ځله یا تر دې زیاته ازمویلې ده. ده په دې کار خپلې پټې وړتیاوې وروزلې او په ځان کې پټ نبوغ یې راویښ کړ، ځکه ترې یو نابغه انسان ووت. هر انسان ښایي ښې پیسې او قوت ترلاسه کړي، خو پیسې او قوت د انسان ظاهري ښایست دی او ګټه ترې اخلي، خو دا پیسې باید انسان لټ نه کړي. انسان باید متحرک وي، که ساکن شو ورستېږي. که څوک په ځان د باور او پرمختګ لپاره هلې

ځلې ونه کړي؛ نو ځان په زوره شاته ټېله کوي، ځکه په اوسني وضعیت کې اوسېدل اسان نه دي، انسان باید په ژوند کې مخکې تګ وکړي، ګني شاته به ځي. که نور خلک مخکې ځي او تاسې خپل اوسنی ځای ساتئ، معنا دا چې شاته روان یئ.

تاسې باید د نوښت په مرسته د خپل ځان جوړونې او پرمختګ هڅه وکړئ. هانري برګسن فرانسوي فیلسوف وايي پرمختګ د ژوند فطرت دی، ټول موجودات باید پر مخ لاړ شي او دا دې د خپل ژوند اصل وګڼي.

نو ټول عمر خپله وده او پرمختګ وڅارئ او هڅه وکړئ چې هوښیار او ځیرک شئ. نورو سره نرم او ځان سره سخت شئ. د عذر، بهانې او دلیل لټولو په دام کې مه نښلئ، که پرځان برلاسي نه شئ نور نه شئ ګټلای. که انسان ځان په خپله بې کاره او بې ګټې وبولي، نور خلک یې هم په اړه ورته فکر کوي.

زه په دې خفه یم چې ولې مې زده کړې ونه غځولې، زه باید زده کړو ته له هیواده بهر تللی وی، خو ستونزو مې مخه ونیوله. ځکه اوس هم فکر کوم چې مهم شی مې ګني له لاسه ورکړی، اوس چې د نړۍ بېلابېلو سیمو ته ځم او رنګارنګ خلکو سره وینم، دا کمي لا ډېر احساسوم. مثلاً بهرني هیواد کې چې کاري لیدنه لرم، د هغه ځای په رسم و رواج او تاریخ نه پوهېږم، دا راته ستونزې جوړوي.

که سفر کوئ په دې باید پوه شئ چې بل لیدونکی مو په کوم دین دی او څه شوقونه لري، تاسې باید هر وضیعت ته چمتووالی ولرئ، ګني د بریا جلب له لاسه ورکوئ.

Scanned by CamScanner

مثلاً د اسلام، هندوايزم او سوډان او الجزاير هيوادونو په تاريخونو بايد پوه شئ، د شرکت د مديره هيئت مشري ډېر معلومات غواړي، ددې لپاره د پوهنتون ځيني استادان ماسره الوتکه کې سفر کوي او د هيوادونو په اړه معلومات راکوي، له بده مرغه دا کار هله کېږي چې زه ورته وخت ولرم، دا معلومات ددې هيواد د وروستي وضيعت، تاريخ، ټولنيزو مسايلو او پېښو په اړه زما پوهه زياتوي. دا کار داسې دی لکه څوک چې د موټر له کړکۍ بهر سيل کوي، خو د زده کړې دغه بڼه ماته نوې انرژي راکوي او عمومي پوهه مې ورسره زياتېږي.

وايي نني ځوانان د نن لپاره ژوند کوي، زه د ځوانانو دې فکر ته انديښمن يم، ځکه که نن کې بند شئ د سباني پرمختګ او پټو وړتياوو روزلو لپاره قوت او فرصت له لاسه ورکوئ. ځيني خلک وايي (نن به تېره کړو، سبا بيا خدای شته)، دغه فکر ځوانان بربادوي. څو ځوابي پوښتنو کې که سل نومرې واخلئ هم چندانې ګټه نه درته کوي، ځکه دې کې د انسان خلاقيت نه وي، دغه ډول ازمويني درکې د نوښت فکر او قوت وژني.

هغه ځوانان چې ټوله ورځ ټلويزون او فلمونه ګوري، يا د کارټون مجلې لولي، داسې وخت ته رسېږي چې په فکر کولو هم ځورېږي. دوی ارامي لټوي، ظاهري خوند ګوري، بلاخره انفعالي حالت ته شي او بيا د خپلې ودې او پرمختګ لپاره يو خس په بل نه ږدي.

مخکې مو وويل چې د اوسني حالت ساتل د وروسته تګ په معنا دی، تاسې به د اوسني حالت ساتلو هڅه کوئ بل څوک به درنه مخکې شوی وي، زه وايم څوک چې داسې ژوند کوي تمه ترې نشته، ځکه دوی خپله خپل راتلونکي ته تمه نه لري. يوازې هغه ځوانان په ژوند

کې پرمختګ کولای شي چې د خپل علم زیاتولو او وړتیاوو روزلو هڅه کوي، دا ځوانان سبا ته تمه لري او موږ دوی ته اړتیا لرو.

ځان سره سخت اوسئ، فکر مه کوئ چې خپلې موخې ته ورسېدئ، په خپل کار ډېر مه ډاډه کېږئ، ژوند په لا ډېر قوت وکړئ، که خوځښت ونه لرئ له کاره لوېږئ او نه پرمختګ له شاتګ سره مساوي دی.

بریالي او نابغه خلک هغه دي چې خپلې پټې وړتیاوې وروزي، تاسې هر یو دا وړتیاوې لرئ، نو هڅه وکړئ چې ویې روزئ، ځکه له تاسې هم نابغه یا تل جوړېدی شي. دا په یاد ولرئ، هر وخت چې هوډ وکړئ ځان کې ویده نبوغ راویښولای شئ؛ نو ودرېږئ، روان شئ او په ځان کې ویده نبوغ راویښ کړئ.

Scanned by CamScanner

[۱۱]

# نوي شتمن، لانجمن دي

څو وروستيو کالو کې کوريا نسبتاً شتمنه شوې او سړي سر عايد تر ۵۰۰۰ ډالرو رسېدلی. واټونه له ښايسته او رنګه موټرو ډک شوي. لويو مغازو کې قيمتي شيان خرڅېږي او بهرني سفرونه هر څوک کولای شي.

له بده مرغه ددې نوې شتمنۍ يو اغېز اصراف او افراط دی. دا ستونزه په ټوله ټولنه کې خپره شوې ده، دا منم چې موږ د ژوند د معيار له مخې شتمن شوي يو، خو دا وخت د افراط او اصراف نه دی.

سره له دې چې سړي سر عايد ۵۰۰۰ ډالرو ته رسېدلی خو زموږ نننی اقتصاد د جاپان او تايوان له پروني همدې عايد لرونکي اقتصاد سره سم نه دی. زه فکر کوم د کوريا سړي سر اصلي عايد ۲۰۰۰ ډالره دی، ځکه

Scanned by CamScanner

د کوریا د پیسو انفلاسیون او د ډالرو پر وړاندې ارزښت ته په کتو، دا خبره سمه ده، که د کوریا اوسنی معیار یا سټانډرډ د جاپان او تایوان له هغه معیار سره پرتله کړو، چې سړي سر عاید یې دومره وو؛ نو ویلای شو چې کوریا کې سړي سر اصلي عاید نږدې ۲۰۰۰ ډالر دی. موږ دې عاید ته په کتو لګیا یوو په دواړو لاسو پیسې مصرفوو.

که څوک دوه زره ډالر عاید لري او سل زره لګوي هرومرو به ستونزو سره مخ کیږي، که دا دلیل ومنو د خپل، کورنۍ او ټولنیز ژوند ښه کېدا لامل کیږو. دې هیواد کې ټول خلک په دواړو لاسو پیسې مصرفوي او د سپما فکر ورسره نشته. دا لګښتونه ټولنه کې د نویو ستونزو او مسایلو اصلي لامل دی؛ نو باید مخه یې ونیول شي. انسان راته ډېر بې حافظې ښکاري، له ډېرو ستونزو او کړاونو وروسته دې هیواد ځان د لوږې او غربت له پنجو راوویست، اوس ددې بې ځایه مصرفونو مثال داسې دی لکه ماشوم چې له قدم اخیستو سره په منډو شي.

پیسې ګټل مهم دي خو سم لګول یې هم خپل ارزښت لري. څوک چې پیسې په سختۍ وګټي په ارزښت یې پوهیږي، بې ځایه یې نه مصرفوي، ځکه دا خپلو ټولو هڅو او زحمتونو ته سپکاوی ګڼي. له بل پلوه زر ګټل شوې پیسې زر له لاسه وځي، که چا پیسې په اسانه ګټلې وي، په لګولو یې نه پښیمانه کیږي.

نو ددې بې ځایه او بې خرتې لګښتونو لامل څه دی؟ زه فکر کوم یا دا ده چې خلکو په زیار د پیسو ګټلو ارزښت هېر کړی یا دا چې لږ وخت کې یې ښې ډېرې پیسې ګټلې، دا دواړه کیسې ټولنې ته ستونزې او لانجې جوړوي.

زه فکر کوم له تاریخي پلوه حساس موقعیت کې یو او د بې گټو او بدرنگو کارونو له منځه وړلو وخت را رسېدلی دی.

موږ دوه لارې لرو، یا دا چې ښه چټکه اقتصادي وده کولای او پرمختللی ملت کیدای شي او یا قلارې په خپل ځای ودریدی شو. نو موږ باید ځان کې د ځان او کار په اړه د هیوادنۍ مینې حس پیدا کړو. موږ باید د هغه قربانۍ هغه حس بیا راژوندی کړو چې په ۶۰ مو او ۷۰مو کلونو کې مو لاره او هماغسې سخت کار باید وکړو.

سره له دې چې د جاپانیانو د ژوند کچه تر موږ ډېره لوړه ده خو د ژوند بڼه یې تر موږ ډېره متعادله ده، حتی د ادارو لوړپوړي مدیران یې هم په ۱۰۰-۱۳۰ متره کورونو په لږو امکاناتو ژوند کوي. د توشیبا شرکت د مدیره هئیت ریس په ۸۳ متره کور کې ژوند کوي او میاشتنی لگښت یې تر ۱۵۰۰۰۰ ینو نه اوړي، خو په کوریا کې بیا واړه مدیران ۳۳۰ متره کور لري او کالي یې ورته له بهره را وارد کړي دي.

جاپانیان په گټې او سپما کې بې سارې دي او همدا برکت دی چې هیواد یې نن د شتمنو هیوادونو په لیست کې راځي. ځینې شیان باید له نورو زده شي، موږ یوازې باید د جاپانیانو له تعادل او کم خرځۍ خجالته شو. خلک چې په لوړو لگښتونو عادت شو قابو کول یې سختېږي؛ نو له لومړیو باید د پیسو په ارزښت پوه شو. خلک چې په لویو او ښو شیانو عادت شي بیا دا عادت نه شي پرېښودی. مثلاً لوی کور کې عادت شوی انسان ډېر په سخته واړه کور کې ژوند کولای شي او کله کله یې آن کولای هم نه شي. دا ډېره سخته ده چې یو سړی په شخصي موټر کې عادت وي او پردي (کرایي) موټر ته کېني. له حده ډېر لگښت خطرناک کار دی، خو تر دې خطرناکه یې دا چې په یو بد

ټولنیز عادت اوړي. کوم ملت چې تر عاید لوړ مصرف کوي، د ستونزو مخې ته وځي. دا خطر یوازې د پیسو ورکېدو نه دی بلکې د ټولنې په عمومي وجدان هم بده اغېزه کوي، ځکه خلک چې هر څومره لږې هڅې کوي هومره د ژوند په شببه ایزو خوندونو مئینېږي، بیا نو تفریح سره د کار په پرتله ډېر لیواله وي او ورو ورو د لټۍ او افراط ښکار کېږي. دوی د لږې سپما او له سمو لارو ګټو پرځای په باد راوړې شتمنۍ پسې ګرځي، دا کار بلاخره ټولنه کې انحراف راوړي او د ملتونو د زوال لامل کېږي.

دې هیواد کې خلک پیسې د اوبو غوندې بهوي، ټوله ټولنه په دې مستۍ کې غرقه ده، اوس خو باید ځان کې شعور پیدا کړو، دا افراط مو ملت لیونتوب خواته بیایي. همدغه نوي شتمن شوي خلک ټولنه کې ددې اروایي ستونزې لامل کېږي، دا مرض حتی د هیواد رهبرانو ته هم رسېدلی، دا خلک باید ټولنه اصلاح کړي او دا منفي تمایلات له منځه یوسي، خو دوی پرې خپله اخته دي. دغه انحرافات ټولنه کې طبقاتي توپیر پیدا کوي. همدا اوس موږ داسې کورنۍ هم لرو چې هر غړی یې یو موټر لري خو داسې خلک هم شته چې بیګا ته حیران دي. داسې خلک شته چې لګیا دي د ګلف او سکي په لوبغالي کې غړیتوب پسې ګرځي، خو د همدوی همزولي خواران د لوږې او غربت له امله ځانونه وژني؛ نو اوس تاسې فکر وکړئ چې افراط په ټولنه کې څومره مضر دی او څومره لویې بې عدالتۍ رامنځته کوي.

شتمن دې خپل لګښت لږ راکم کړي او غریبو سره دې مرسته وکړي، موږ باید د ټولنیزې هوساینې په لاره لاړ شو. شتمن دې خپله ګټه لږه راکمه کړي چې د دوی او بیوزلو تر منځ طبقاتي واټن کم شي، خو که

شتمن په دې فکر شو چې زما خپلې پيسې دي او د چا پکې کار نشته؛ نو ټولنه پخپله د ستونزو ښکار کېږي. که د شمتو دا اصراف همداسې روان وي، په همدې لګښت به طبقاتي اختلافات راپيدا کړي او د وخت په تېرېدو به د ټولنې د بربادۍ لامل شي.

څو کاله مخکې اجرائيو مديرانو او مېرمنو ته يې يوه مېلمستيا شوې وه، د يوه مدير مېرمن د له يوه ګران بيه ښځو بالاپوش سره مېلستيا ته راننوته، زه پوه شوم چې دا سړی په خپل مياشتني معاش دا بالا پوش نه شي اخيستی. دې کورنۍ څو موټرې هم لرلې او دا خبره بيخي ښکاره وه چې لګښت يې تر عايده لوړ دی؛ نو پيسې يې بايد له نورو لارو ترلاسه کړې وی، دا چې دې کس د تدارکاتو په برخه کې کار کاوه؛ نو خلک پرې شکمن وو.

فکر مې وکړ چې دده افراط به نورو کاريګرو ته هم سرايت وکړي، بې له دې چې د چا پام ور وګرځي سړی مې له دندې ليرې کړ. تر څو چې زه پوهېږم سړي دې ته هېڅ دليل نه لاره چې مېرمن دې يې داسې بالا پوش واغوندې، بلاخره يې شرکت پرېښود. شتمني چې څومره زياتېږي هومره ورسره د ټولنې پر وړاندې د شخص مسئوليت هم زياتېږي. موږ چې څه لرو ټولنې راکړي، دا موضوع د شهرت، شتمنۍ او واک په اړه هم صدق کوي. ټولنې شتمني دې لپاره نه ده راکړې چې فرعوني مانۍ او دربار دې پرې جوړ کړو، بلکې دې لپاره يې راکړې چې د اړتيا له مخې يې بېرته هغوی ته ور وګرځوو.

نو څومره مو چې پيسې زياتېږي هومره اقتصادي ژوند کوئ، ځکه تاسې دا مسئوليت لرئ چې په سختۍ او سپما ټولنې ته سم لوری ورکړئ. زموږ هيواد تر پخوا ښه حالت کې دی، خو دومره هم نه چې

Scanned by CamScanner

موږ دې اوس اصراف ته مخه کړو، موږ همدا دوه لارې لرو، چې یا همدې حالت کې پاتې شو یا هڅه وکړو چې پرمختللی ملت شو. دا یاد ساتئ، په هره ټولنه کې د پرمختګ یو لوی خنډ له حده ډېر لګښت دی.

راځئ د سختۍ اداب رواج کړو، راځئ ښایسته چلندونه راژوندي کړو، راځئ ننني پرېمانۍ د ښه سبا لپاره وساتو، راځئ چې د ځانځانۍ مخه ونیسو چې خپل راتلونکي نسل ته ښه او شتمنه ټولنه میراث پرېږدو، راځئ چې لږه سختي وکړو او په پیسو لاس ونیسو.

Scanned by CamScanner

# [۱۲]

## له دننه را وخوټېږئ

زياتره بهرنيان چې هوټل کې ډوډۍ وخوري، له ګارسونه يوه خلته غواړي او پاتې شوني پکې اچوي. دې کار پسې بهر مه ځئ، حتی زموږ په هيواد کې هم ځينې بهرنيان همداسې کوي، خو زموږ خواړه که هر څومره قيمتي وي، موږ دا کار نه کوو. موږ کورياپان دې کار ته په سپکه سترګه ګورو او هېڅ رانه نه کېږي. ځان سره وايو چې په دې کار به ګني بد ښکاره شو، يا له دې وېرېږو چې نورو خلکو ته به ګني غريب ښکاره شو.

د بهرنيانو دا کار په کومه معنا دی؟ ايا هغوی غريب دي او که په دې کار ځان بد ښکاره کوي؟

زه فکر کوم موږ خپل ظاهر ته ډېر ارزښت ورکړی او ډېر ځان ښيوو. ځينې بيسواده ځان عالمان ښيي، ځينې به يوه ټنګه نه لري، خو ځان ښودلو لپاره به لويې خرچې کوي، البته ټول داسې نه دي خو زموږ زياتره خلک خپل باطني ښايست تر ظاهري ځانښودنې ځاروو. موږ فکر کوو چې د ښه ښکارېدو لپاره بايد ډېر مصرف وکړو، د ځينو باطن پوچ دی خو ظاهر ځان ډېر لوی ښيي. موږ داسې خلکو ته متکور

وايو، د ځان ښودنې طريقې او پوچې او بې ځايه دي، خو هغه طريقه چې د انسان له دننه سرچينه اخلي، درنې، ارزښتمنې او تلپاتې وي.
ځوانان طبعاً لږ حساس وي او د همدې احساساتو له امله د ځانښودنې په دام کې نښلي، ځکه نو زياتره سندرغاړي او ممثلين په ظاهري حالت او لباس کې يو بل سره سيالي کوي، ګڼ شمېر ځوانان د سندرغاړو او ممثلينو مينه وال کېږي، د دوی دا ظاهري کش و پش د وخت په تېرېدو مود شي او بيا همدوی د بحثونو او مجلسونو ګرمه موضوع هم وګرځي.
زه دا نه وايم چې سندرې نه خوند اخيستل يا کوم ممثل خوښول ګني ښه کار نه دی، خو دا وايم چې د ځوانۍ موده ډېره لنډه او تر دې ډېره مهمه ده؛ نو دا فرصت په ځان ښودنې او مودونو مه ضايع کوئ، ځکه دا مود او ځانښودنه تېرېږي او يوازې د انسان باطن تلپاتې وي، زه وايم چې ځوانۍ کې خپل وخت او انرژي په شخصيت جوړونې ولګوئ.
ځانښودنه کې مه نښلئ، زه دا منم چې دا مود او فيشن ښکلی وي، خو دا ياد ساتئ چې زهري مرخېړي تر خوږو (خوږنيزو) هغو ډېر ښايسته وي، يا دا چې مار له بهر ډېر ښکلی وي خو باطن سره يې هېڅوک مينه نه لري. ګانې هم همداسې درواخله، زياتره ګانې تر اصلي هغو ډېرې ښايسته او ځلېدونکې وي، دا چې دننه يکې څه نشته نو يوازې په ظاهري اړخ يې خواري شوې ده او په همدې يې انسان ورګرمېږي، خو تاسې په دې شيانو مه تېروځئ.
که چلمچې يا توفداني هر څومره ښکلې شي، بله ګټه ترې نه اخيستل کېږي، خو ګلدانونه که شاړ او بدرنګ هم وي ښايسته ګلان زرغونوي. ستاسې اعمال بايد وغږېږي، ګفتار او کردار مو بايد يو شان وي. که له

Scanned by CamScanner

خولې اور بادوئ او شخصیت مو ربښتینی نه و، خلک یې درسره نه مني، خلک وایي کنه چې خبرو ته مه ګوره کار ته ګوره.

سوډان کې زموږ لومړۍ پروژه د ولسمشر مېلمستون جوړول وو، دا مېلمستون باید د ولسمشر تر ماڼۍ هاخوا جوړ شوی وی، د سوډان دولت موږ سره معاملې ته چنداني زړه نه ښه کاوه، فکر کوم پر دوی هغو شمالي کوریایانو اغېز درلود چې د ځوانانو مرکز جوړولو قرارداد یې اخیستی و. بله دا چې سوډان دولت شمالي کوریا سره سیاسي اړیکې لرلې او جنوبي کوریا سره لا نه وې جوړې شوې، یعنې دا چې موږ سخت حالت کې وو.

ما ویل که دا چانس له لاسه ورکړم، بیا به هېڅکله د سوډان بازار ته لاسرسی ونه لرم، بس له خبرو تېر شوم او د عمل وسلې ته مې لاس کړ، ولې؟ ځکه چې نیم کار تر دوو سوو خبرو ښه دی. لاس په کار شوو او څلورویشت ساعته مو په پروژه کار وکړ، دا چې زموږ د کار په ساحه کې ټوله شپه څراغونه روښانه وو، ولسمشرۍ ماڼۍ هم دا شی له پامه نه غورځاوه، موږ ښه درز کې کار وکړ او له ټاکل شوي وخته مو مخکې پروژه پای ته ورسوله، زه فکر کوم ولسمشر مو کار له شمالي کوریایانو سره پرتله کړ او زموږ د کار او ټکنالوجۍ تر اغېز لاندې راغی، په هر صورت، موږ په دې توګه د خپل هیواد سیاسي اړیکو ته هم لار پرانیسته.

د نورو قانع کولو لپاره خبرې اترې او مذاکره تر ټولو ښه لاره نه ده، که څه هم خبرې مهمې دي، تاسې باید ښې او ریښتینې خبرې وکړئ او نور خلک له خپلو افکار اغېزمن کړئ، خو اصلاً ستاسې کار یا عمل په خلکو اغېز کوي او نفوذ درته پیدا کوي. ځینې وخت ښایي خبرې کومې پایلې ته ونه رسېږي، خو د خبرو او مفکورو عملي کول هېڅکله

Scanned by CamScanner

ماته نه خوري، که غواړئ چې ډاډ او باور درباندې وشي، په صداقت کار وکړئ او مقابل لوری قانع کړئ.

د انسان باطني قوت يې د ربښتيني وړتيا په معنا دی، نړۍ نن ظاهري ښايست ته اړتيا نه لري، هغو غواړي چې حقيقي وړتياوې ولرئ، دا خلک نه لافې کوي او نه ځان لوړ لوړ حسابوي، د دوی هر ځای کې درناوی کېږي. نو ځوانی کې خپلو وړتياوو ته وده ورکړئ چې د امکان تر حده علم زده کړئ. ژوند کې بريا لپاره غني فرهنگ، پراخه ليد، تخصص او خبرېدا ته اړتيا ده. ځواني په منډه ده، په ناپوهۍ او ځانښودنه يې مه تېروئ، چې زاړه شئ په ځوانۍ کې هرې ضايع کړې شېبې پسې به ژاړئ.

شمېرنې ښيي، څو کاله مخکې په هرو سلو زرو کسانو کې دوه نيم زره محصلين وو، دا شمېره د ۷۰مو کلونو په پرتله څلور وارې زياته ده. شمېرې ښيي چې هر کال د کوريا په باسواده کاري انرژۍ ۲۵۰۰۰۰ کسه ورزياتېږي. موږ دغه خلکو ته کافي کار نه لرو، ځکه نو زموږ ټولنه کې شديده سيالي روانه ده؛ نو په دې وخت کې خپله ځواني هسې مه تېروئ، نن خپلې وړتياوې او مهارتونه تر وروستۍ درجې لوړ کړئ، دا کار د برياليتوب لپاره مه کوئ، په دې خاطر يې وکړئ چې تر نورو وروسته پاتې نه شئ.

که خپله پوهه، په ځان باور او پټې وړتياوې اعلی درجې ته ورسوئ، د ټولنې په روښانه راتلونکي کې مرسته کوئ. د کوهي د ارټ (خرڅ) غوندې تش مه تاوېږئ، ستاسې د پرمختگ يوه اصلي ستن ستاسې ملت دی.

# وروستۍ خبره

## خپلې پټې وړتیاوې را برسېره کړئ

ځواني نه د ماشومتوب او بلوغ تر منځ پُل دی او ددې لارې کوم تمځای. البته دا به بده نه وي چې ووایو د ژوند دا پړاو ستاسې راتلونکی لوری او د هغه څرنګوالی ټاکي.
د ژوند امکانات مثبت او منفي دواړه اړخونه لري؛ هیله او نهیلي. دا چې دې وخت کې نرمي یا انعطاف پذیري وي زیاته وي؛ نو له همدې ځایه مو د راتلونکي ژوند لوری ټاکل کېږي، همدا لامل دی چې زوړ نسل ځوانانو ته ډېر پام کوي. زه د یوې صنعتي ادارې د بنسټګر په توګه خپلو ځوانانو ته له زړه پاملرنه کوم، تاسې ددې هیواد راتلونکي مسئولین یئ، غواړم چې تاسې له خپل فکره برخمن کړم، ځکه زه په دې باور یم چې ځوانان پټې وړتیاوې لري.

### موخې او فکرونه

لکه مخکې مو چې وویل تاریخ د هغو دی چې موخه لري. یوازې هغه ملتونه د تاریخ سرلاري دي چې خپل فکر او موخې یې عملي کړي وي.

ستاسې موخې باید د چینې د اوبو غونډې پاکې، رڼې او په عین حال کې ستړې او برمه ډکې وي. تاسې باید نړۍ په زړه کې ځای کړئ او هیلې مو باید د اسمان د شنو غونډې لوړې او پراخې وي. یو فیلسوف وایي بې موخې ځوان داسې دی لکه ځان یې چې وژلی وي.

## نوی فکر وکړئ

د نړۍ تاریخ او تمدن ته مفکرینو او نوښتگرو خلکو لوری ورکړی دی، کومه ټولنه چې خپل تولید ته د خلاقیت او قوت ارزښت ورکوي هېڅکله نه ماتېږي. تاسې مثبت فکر کولای شئ، هر کار په مثبت فکر پیل کړئ بیا به ځانته خپله لارې ښیئ.
په لوبو او ساعت تیرۍ کې افراط مه کوئ، د نړۍ لارښوونې ته چمتو اوسئ او راتلونکي ته سترگې ولرئ، نړۍ او راتلونکی سره گډ او په اصل کې یو دی.
ټولنه کې یوازې سیل مه کوئ، په نړۍ حکم وچلوئ، دې لاره کې باید زوړ نسل مرسته وکړي؛ نو نوی فکر وکړئ، مثبت او پلټونکي ووسئ او روښانه راتلونکی ساز کړئ.

## مبارزه

د نړۍ تاریخ او تمدن په مبارزې وړاندې تللی، مبارز خلک هر کار کې بریالي وي. تاسې ځوانان یئ، پر ځان باور لرئ او همدا باور مو د جرات او زړورتیا لامل کېږي. ځوانان تل پلټنې کوي او له ماتې نه وېرېږي. که څوک هر کار په ویره او ترهه پیلوي ځواني یې پخوا بایللې ده.

Scanned by CamScanner

په ټول وجود کې مو باید له کار او بریا سره د مینې لمبې وګرځي، تل هڅه وکړئ چې خپلې وړتیاوې او مهارتونه لاپسې پراخه کړئ.
په ځان باور، مبارزه، زړورتیا، پلټنه، توفیق، سربازي، مخښکي، احساسات ... دا ټولو د ځوانان ځانګړنې دي. ځوانان د وروسته والي، کمزورۍ، لټۍ، ماتې، نهیلۍ، تسلمېدو ... منلو ته وخت نه لري.
نو مبارزه وکړئ او ښه په نره مبارزه وکړه. له ماتې مه وېرېږئ او ژوند ځان ته رابولوئ.

## قرباني

انساني تاریخ په قربانۍ جوړېږي، اوسنی نسل بریا او پخوانی قربانۍ ته چمتو دي.
دا چې ځوانان یئ له خپلو ټولنیزو مسئولیتونو ښه خبر شئ، که د ټولنې، خاورې، خلکو او راتلونکي نسل په اړه د مسئولیت احساس ونه کړئ، هېڅ ځوان نه یئ. دا شی په کوریایي نسل کې ډېر دی، زموږ هیواد د ملت کېدو په درشل ولاړ دی، ځکه ځوان کوریایي نسل مې دا هیواد په احساس او قربانۍ دا ملت دې ځای ته راوړی. اوس دا تاسې ځوان نسل پورې اړې لري چې بېړۍ له دې ځایه پورې باسئ که نه. خو که تاسې پوره مسئولیت احساس نه کړئ او قرباني ورنه کړئ دا هیواد به همدې ځای کې ولاړ پاتې وي او په دې درشل به وانه وړي.
پوهېږم موږ یو هم دا نه غواړو؛ نو باید ټولنې ته د مسئولیت احساس او قرباني په ځان کې زیاته او راتلونکي نسل وړاندې کړئ.

Scanned by CamScanner

## ملګري اوسئ

خلک ګډ ژوند ته پيدا شوي، يوازې ژوند نه کيږي، ځانځاني بد مرض دی، ځان هېڅکله په تعصب، ځانځانی او تمه کې مه ککړوئ. د ځان په ځای د نورو فکر وکړئ. د خلکو او ټولنې تر خپلو ګټو غوره وبولئ، ځانغوښتونکی نه ځوان دی نه ښه ځوان.

ځوانان اعتماد او اعتقاد ته ډېر ارزښت ورکوي، دوی د مينې او همکارۍ په ښايست مئين وي، دوی د ګډ ژوند اصولو او مشترکو ګټو ته وفادار وي او هېڅ انسان ته له مادي پلوه نه ګوري.

ځوانان هغه نه دي چې يوې څنډې کې پراته او په خيالونو کې ډوب وي، دا کونج ځوانانو ته مناسب نه دی، د دوی ځای پراخه ځمکې دي. په داسې حال کې (زه) په (موږ) اوړي. نو ځانځانۍ کې مه نښلئ او په پوره مينه او باور سبا خواته ګام پورته کړئ.

## ځان سره رښتيني اوسئ

زما نسل چې هر څومره هڅه کوي بيا هم نه شي کولای چې ځان سره پاک او رښتينی شي، ځکه کورني او وظيفوي مسايل يې مخه نيسي. ځينې وخت خپلو موقفونو داسې خبرو او کارونو ته اړويستي يو چې هېڅ مو زړه نه غوښتل. خو نننی نسل دې کارونو ته اړ نه دی، داسې حالت ته مه ځئ چې نه مو خوښيږي. ځوانی کې خپلو رښتينو غوښتنو پسې لاړ شئ، دا ځان سره تر ټولو ښه نيکي ده.

Scanned by CamScanner

## متواضع اوسئ

د هر انسان ذهني وده او پرمختګ يې له پوهې او زده کړو سرچينه اخلي. په کومه شيبه مو چې فکر وکړئ مهم او با ارزښته شوئ، په هماغه شيبه مو د اروايي وده ودرېږي. خاکساره روح او د زده کړې سره مينه درته د ودې او پرمختګ امکان درکوي. څومره مو چې د بدن غړي قوي کېږي دومره سر ټيټوئ. د بزګر له خوله تندي، د مزدرو له خپرنو کالو او د هغه مور له مينې بايد زده کړو چې په شين سهار کې چای تياروي. خپلې سترګې ګرد چاپېره غړونو او منظرونو ته پرانيزئ، خاکساره اوسئ او د زړه له تله زده کړه وکړئ.

Scanned by CamScanner

ددې کتاب د ژباړن «میر احمد یاد» په یوه بل چاپ شوي اثر

## «د کار چاپېریال (اصول او آداب)»

# د دانش خپرندويې ټولنې يادښت

«ژوند کار دی»، کار چې په اصولو برابر وي، ژوند له خوندونو ډکوي، د انسان مخ ته د برياوو او بريو نوې کړکۍ پرانيزي.
که يو تن سهار وختي کارځي ته د کار په نيت له ښکلې دفتري دريشۍ، پاکو ويښتانو، پالش شويو بوټانو، خوږو عطرو او د کار له ډېرې انرژۍ سره ولاړ شي، ورځ به يې خوشحاله او کار به يې سم تر سره کړی وي.
کار چې بې اصوله شي وران شي، کارکوونکی چې بې ادبه شي، د هېچا د هرکلي او خوښې وړ نه وي. په کارځايونو کې تر ټولو مهم ټکي، کار سم او په ټاکلي وخت تر سره کول، دفتري اصول او آداب مراعتول، پېرودونکي خوښ ساتل او سليقه مراعتول دي.
د يوه دفتر له اصولو سره سم، که يو کارکوونکی خپل لباس هاغسې مراعت نکړي، څنګه چې د دفتر لخوا ورته ټاکل شوی وي، په کارځي کې د نورو کارکوونکيو او مشرانو لخوا په سمه سترګه نه ورته کتل کېږي او پايله يې دا کېږي، چې يا له دفتره شړل کېږي او يا هم هاغسې پرمختګ نکوي، لکه څنګه يې چې د دفتر نور کارکوونکي کوي.
په دفترونو کې سينګار او يا دفتري دريشي او اصول مراعتول د هر چا شخصي سليقه او کار ندی، بلکې د دفتر له اصولو سره سم ښځمنو ته د سينګار ډول او نرينه وو ته پوښاک او نور اصول ټاکل کېږي، په هغو دفترونو کې چې دا اصول نه مراعتېږي، يا رسمي دفترونه ندي او يا هم د کاري چاپېريال په اصولو او آدابو نه پوهېږي...

Scanned by CamScanner

د کور و کار چاپېريال بايد توپير ولري! کاري چاپېريال سليقه غواړي، واړه واړه نزاکتونه مراعتول غواړي، د پېژندونکيو زړونه را خپلول غواړي او ان کله کله د پېژندونکيو او له دفتر سره د نورو تړليو کسانو پر وړاندې له يو نيم څه تېرېدل هم پکې راځي...

که چېرې ياد څه په پام کې ونه نيول شي، د پرمختگ او نورو سره د سيالۍ ډگر ته ور وتل او ترې وړاندې کېدل ناشوني برېښي.

پدې کتاب «د کار چاپېريال (اصول او اداب)» کې ډېرې خبرې د رسمي دفترونو په اړه دي، چې څه ورو په رسمي دفترونو کې دفتري نزاکتونه او نور د خوښې وړ چارې تر سره شي... دغه راز يوه دفتر ته ننوتل څنگه سي وي وليکل شي، څه پکې وليکل شي، استعفا څنگه وليکل شي، نېکتيايي څنگه وتړل شي، يو کارکوونکی د دفتر د مشر په اشارو او سترگو لوستلو څنگه پوی شي او په رسمي مجالسو او يا يو چاته د خبرو کولو پر مهال د مقابل لوري د بدني حرکتونو د غبرگون په رازونو څه وړ پوی شي...

ملگري مير احمد ياد تر دې وړاندې ډېرې ژباړې او ليکنې کړې، چې د لوستونکيو او مينه والو د زښت ډېر هرکلي وړ گرځېدلې، دا کتاب يې د يوه بل زيار او ليکنې هڅې گټوره يېبره ده، چې تر تاسې درنو لوستونکيو د دانش خپرندويې ټولنې لخوا در رسېږي.

دانش خپرندويه ټولنه د مننې تر څنگ ملگري مير احمد ياد ته له خوښيو ډک ژوند او د ښو او گټورو کارونو انرژي غواړي.

هيله ده لوستونکي ددې کتاب له لوستلو خوند واخلي، زده کړه ترې وکړي او په وړ ځايونو کې ترې زده شوي رازونه پلي کړي.

درنښت مو غواړو

دانش خپرندويه ټولنه

Scanned by CamScanner




دانش خپرندویه ټولنه

سالنگ وات، انحصارات، د پخوانی ملي سېنما
خنګ ته، دانش کتابپلورنځی/ ۰۷۷۱۱۴۴۳۱۷

Scanned by CamScanner




Scanned by CamScanner




Scanned by CamScanner